# لنډې کيسې به څنګه ليکو؟

Download from:aghalibrary.com

ليکوال : حسين القباني
ژباړن : اجمل پسرلی

# لنډې

# کیسې

# به

# څنګه

# لیکو؟

Download from:aghalibrary.com

لیکوال : حسین القباني
ژباړن : اجمل پسرلی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# زیری

په تېر یو کال کې چې د داستانونو مجله خپرېږي، ځینو دوستانو د کیسې د فني اړخونو په اړه د ژباړو او لیکنو غوښتنه کوله. د دې غوښتنې د پوره کولو لپاره دا دی د ((لنډې کیسې به څنګه لیکو؟)) کتاب د داستانونه د شپږمې ګڼې پر ځای خپرېږي. دغه کتاب به د کیسه لیکنې د فن په زده کړه کې مرسته راسره وکړي او په دې به هم وپوهوي چې کامیابې کیسې ولې کامیابې دي؟ او د کمزورو هغو د کمزورۍ علت څه دی. په دغه کتاب کې د لنډ داستان ټول اساسي تکنیکونه بیان شوي دي.

خدای دې وکړي چې د کیسو د لیکلو او پېژندلو لړوال یې برسېرن نه بلکې په دقت ولولي. د کتاب د دقیقې مطالعې په برکت به د کیسې د فن ګڼو بارکیو ته متوجه شو. همدغو بارکیو ته توجه اکثره وخت د دې سبب ګرځي چې کمزورې کیسې په ښو او ښې په لا ښو بدلې شي.

Download from:aghalibrary.com

# سریزه

تر اوسه چې زموږ په پښتو خپرونو کې د لنډې کیسې په اړه څه لیکل شوي دي غالبا د مقالو بڼه لري . د دغو مقالو یوه برخه هغه سریزې دي چې په کیسه ایزو ټولګو کښل شوې دي، اکثر دغه لیکنې تر فورم او جوړښت په مضمون او محتوی ډېرې خبرې کوي او تر ادبي اثر پر لیکوال ډېر تاکید کوي ، له لیکواله ژغیرې، له هغه سره د خپلې یارانې او دوستي یادونه کوي، د هغه کیسو ته داسې اشاره کوي چې په دې ټولګې کې دومره کیسې خپرې شوي خو پلانۍ او پلانۍ او نورې کیسې یې زموږ د روانې غمیزې ښکلي انځورونه دي .

او کله چې په کیسو تنقیدي بحث کوي خبرې یې د استفادې وړ نه وي، مثلا وایي دا کیسه یې ډېره ښکلې ده، خو دا بله یې د لږ تامل وړ ده، نور به څرګنده نه وي چې ښکلا یې په څه کې ده او عیب په څه کې .

د دغه ډول لیکنې په لوستو مبتدي او یا پوخ لیکوال د کیسې دفن په اړه څه نشي زده کولی.

ځنې کره کتونکي پدې اند دي که لیکوال د چا په کیسه ایزه ټولګه خبرې کوي ښه دا ده چې د کتاب له ډېرې لنډې پېژندنې سره سره لږ تر لږه د هغه د کیسو د یوه اړخ لکه ( کرکتر، پلاټ، پیل، پای . . ) ښې او کمزورې خواوې وخیړي پدې ډول به د اثر په باب روښانه او دقیقې خبرې بیان شي یعنی هم به د کیسې په اړه او هم د کیسې د نقد په اړه لوستونکیو ته څه په لاس ورغلي وي.

که څه هم د کیسې په اړه ځنې د ګوتو په شمار ډېرې ښې مقالې هم کښل شوي او په ادبي مجلو کې خپرې شوي دي، خو داسې احساسیږي

Download from:aghalibrary.com

چې زموږ کیسه لیکوال د کیسې دلیکلو لاربنوونې ته په کتابي بڼه اړتیا لري.

د دغه تشې د ډکیدا په خاطر او د کیسې له اصولو او قواعدو سره د ځوانو لیکوالو د اشنایي په هیله دا کتاب وژباړل شو، پدې کتاب کې د کیسې په اړه عمومي خبرې، د کیسې د موضوع د موندلو چل، د کیسې چوکات، پیل پای، غوټه، کرکتر، نثري اسلوب او خبرې اترې په اتو څپرکیو کې هر یو بېل بېل تشریح شوي دي ۰ له دې تشریحاتو وروسته په نهم فصل کې په ترکیبي کیسې خبرې شوي دي او له یوې مختصرې څیړنې وروسته په یوې لنډې کیسې کره کتنه کېږي داسې چې له هرو څو جملو یا فقرو وروسته لیکوال خپله تبصره ورباندې کوي، دغه ډول گام په گام تبصره او کره کتنه که زموږ په ادب کې دود شي ښه به وي. په لسم فصل کې لیکوال پر تحلیلي کیسو ژغیږي او د هغو د لاوضاحت لپاره یې یوه په زړه پورې عربي کیسه راخیستې ده.
په یولسم فصل کي ښاغلی لیکوال قباني د کیسو په انتخابولو او چڼلو کې فال ته مخه کړې، پنځه نړیوالې کیسې یې راخیستي دي په دغو کیسو یې لنډ بحث کړی دی او پرتولو یې تقریبا په یو ډول ځغلند مثبت نظر تیر کړی دی.

زما په نظر د انا ماریا کیسه یو شهکار دی او د ریکیود کیسې په ورستۍ برخه کې ( له هغه ځایه چې د الوتکې مرسته پیل کېږي ) د شوروي لیکوالو مشهوره کلیشه تکرار شوې ده یعنې د شوروي حکومت له پاره تبلیغ یې په کیسه ورتپلی دی چې عیب یې باید وگڼو.

پدې ژباړه کې مې څو ځایه د عربي مثالونو پر ځای د لاوضاحت لپاره پښتو مثالونه وراندې کړي دي دغه مواردو ته په لمن لیک کې اشاره شوې ده.

کتاب د لنډې کیسې په تقریبا ډیرو خواوو مشرح بحث کوي، خدای دې وکړي چې گران کیسه مین ترې گټه واخلي.

*اجمل پسرلی*

*تایمني ـ کابل*

Download from:aghalibrary.com

# کیسه، فن که استعداد

تېر کال د لنډو او اوږدو کیسو ګڼې ټولګې خپرې شوې . ډېرې یې ما ولوستې داسې راته ښکاره شوه چې د دغو کتابو اکثر لیکوال ګومان کوي کسیه لیکل تر ټولو ادبي ژانرونو اسان دي او څوک چې څو کربښې تور ولی شي، د سوالیه موالیه په ښکته پورته کولو پوه وي نو کیسه لیکوالیدی شي.

زه دا وایم چې هر څوک د کیسه لیکلو وس لري، خو د خپر ولو جوګه کیسه لیکل سخت کار دی . ځینې داسې لیکوال شته چې د ګوتو په شمېر څو کیسې یې خپرې شي بیا یې نارې ولس په سر واخلي چې مشران د ده بله کیسه ځکه نه خپر وي چې هغوی پخپل مقام ویرېږي .

که کیسه لیکل د ځان د رضایت له پاره وي نو لیکوال دې هر هغه څه کاږي چې زړه یې غواړي او د کیسې اصولو او قواعدو ته دي پام نه کوي خو که لیکل د مجلې او اخبار د چلوونکیو د منلو او د لوستونکیو د خوښولو لپاره وي نو د اصولو او تکنیک مراعات ضروري دی .

یو شمېر لیکوال داسې استدلال کوي چې : چخوف، ګورکی، دیستوفسکي،موپاسان،دیکنز او نورو چیرته د کیسې اصول او قواعد لوستي و چې کیسې یې لیکلي .



Download from:aghalibrary.com

د دغو کسانو په ځواب کې دا ویلی شو چې دغه مشهور کیسه لیکوال نوابغ ول، فطري استعداد یې درلود د دغه نبوغ او فطري استعداد له برکته یې د تکنیك په تول پوره کیسې ولیکلې او ځنو خو یې لکه موپاسان، د لنډکی کیسې لپاره نوي په زړه پورې قواعد وضع کړل.

آیا هر کیسه لیکوال باید د داسې عبقریت څښتن وي؟ که داسې وي نو بیا ښایې چې یو دوه کیسه لیکوال ولرو او دغه نور په لسګونو او سلګونو دې بل کسب خپل کړي کیسه لیکل دې پریږدي.

زه پدې لیکنه کې دا نه وایم چې هر کیسه لیکوال دې خامخا ځانګړې موهبه او نبوغ ولري که یې لري لا ښه خو دا ضروري ده چې کیسه لیکوال څه نا څه ذکي او دقیق وي، د ښه او خراب نثر توپیر وکړي، رقیق احساس او ښه ذوق ولري.

که د دې صفاتو له شتون سره څوك له زړه وغواړي چې کیسه لیکوال شي نو د کیسې د اصولو او قواعدو د زده کړې په مرسته به داسې کیسې ولیکي چې ژر به یې هره یوه د خپرولو جوګه شي.

قواعد او اصول هنر صیقلوي دوی د هغه آلاتو په څیر دي چې خام الماس ته ځلا ورکوي او همدا ځلا د الماس بیه او ارزښت لوړوي.

د دې لیکنې موخه د کیسې د قواعدو او اصولو شرحه ده تر څو هر کیسه لیکوال د خپریدا وړ کیسې ولیکلی شي.

## د کیسې ډولونه:

لنډه کیسه څو ډوله لري چې دا ټول ډولونه له لویه سره په دوه اساسي څانګو ویشل شوي دي، ساده کیسه، او تحلیلي کیسه.

په تحلیلي کیسه لږ وروسته ژغیږو ځکه چې تر نورو کیسو سخته ده او لیکل یې یو ډول الهام، نبوغ او موهبه غواړي تحلیلي کیسې عادي کیسه لیکوال نشي لیکلی حتی که د کیسې قواعد او اصول هم ولولي ـ د دې حقیقت سپیناوی به بیا وکړو.



Download from:aghalibrary.com

ساده کیسه بیا هر هغه لیکوال چې د کیسې تکنیک یې لوستی وي او د لیکلو استعداد ولري کښلی شي.

## ژبه:

د کیسه لیکوالو او هغو تر منځ چې غواړي کیسه لیکنه وازمایي یو بنیادي توپیر د ژبې کارول دي.

ګڼ شمېر نوي لیکوال کلیشه شوي کلمات کاروي، د ګرامر او بلاغي اصولو په اهمیت نه پوهېږي حال دا چې دا هر څه ورته ضروري دي ـ ددې مطلب دا نه دی چې کیسه لیکوال دې یو ماهر ژبپوه وي په بیاني او بدیعي محاسنو کې دې استاذ وي خو ینو معین حد ورته تاکل کیدی شي چې تر هغه یې معلومات لږ نه وي.

د هغه کیسه ایزو ټولګو او ناولو نو لیکوالو ته مې ډېر زړه بدیږي چې نثرونه یې له داسې ژبنې تېروتنو ډک دي چې د ابتدایي او ثانوي زده کړو زده کونکي یې هم نه کوي.

دغه د شهرت تږي لیکوال چې په خپرولو بیړه کوي په حقیقت کې مخته تر دې چې لوستونکي پرې د اړي اعدام حکم صادر کړي دوی یې پر خپل ځان صادروي.

زه دلته په دې کربنو کې د ژبې پر اهمیت، د کلماتو پر اغیزې، د ترکیبونو پر قدرت او د نثر په خوږ لښت نه ژغیږم دابنیګړې ځانګړی بحث غواړي خو د دې خبرې یادول ضروري ګڼم چې نوی کیسه لیکوال باید ځان له ژبني اصولو څه نا څه خبر کړي څو په دې ډول وتوانیږي خپل افکار په سمه توګه لوستونکیو ته ولیږدوي.

د لنډې کیسې تعریف:

لنډه کیسه څه ته وایي ؟..

په ظاهره د دې پوښتنې ځواب اسانه ښکاري، خو له فکره، سوچه او ګرویژنې وروسته لوستونکي او لیکوال ته دا روښانیدی شي چې خبره دومره ساده نه ده. یو له هغو څېړونکیو چې په څو جملو کې یې د



Download from:aghalibrary.com

لنډې کيسې څه ښه تعريف وړاندې کړې دی. انګريز ليکوال هـ. ج. ويلز دی، دی وايي:

((لنډه کيسه يو حکايت دی چې خيال او حقيقت سره نغاړي، او شايد له پنځلسو تر پينځه څلويښت دقيقو پورې ولوستل شي، تلوسه او خوند ولري، دا مهمه نده چې برسيرنه وي که ژوره د انسان په باب وي او که د ناانسان داسې افکار او نظريات پکې نغښتل شوي وي چې له لوستو وروسته لوستونکی پرې ډېر سوچ وکړي اويا دا نظريات او افکار دومره برسيرن وي چې له لوستو لږ وروسته يې هير شي. مهمه دا ده چې لوستونکی د دغه يو پاواو پنځوسو دقيقو تر منځ داسې جذب کړي چې رضايت يې حاصل شي ..)) *[1]

ځينې څېړونکي دا تعريف نه مني، او يو شمېر نورو ته بيا کيسه يو حکايت ښکاري داسې حکايت چې ليکوال يې د ځانګړيو اصولو او قواعدو مطابق ليکي، بلـه ډله څېړونکي وايي کيسه د يوې پېښې انځور دی چې يو عادي کس ته په غير عادي حالاتو کې پيښه شوې وي، يا يو غير عادي کس ته په عادي حالاتو کې پيښه شوې وي.

دا نظريات که هر ډول دي، خو د هغو خبر سمه نه ده چې لنډه کيسه د ناول خلاصه ګڼي.

## د کيسې او ناول توپير:

لنډه کيسه د ناول خلاصه يا يو فصل کيدی نشي .. د لنډې کيسې ځانګړې ښيګڼې، کرکترونه، قواعد اواصول دي چې له ناول سره فرق لري، ناول ليکونکی په عمومی توګه ډېرو دقيقو تشريحاتو ته پام کوي، کرکترونه، موقعتونه او پيښې يې ګڼې وي، د اوږدېدو ډېرې لارې لري، بې نهايته افکار او نظريات پکې ځای شوي وي. حال دا چې لنډه کيسه تر يوې پېښې را څرخي او يا تر څو وړو وړو پيښو راچورلي چې پريو فکر، هدف او کرکتر رڼا اچوي .. داسې رڼا چې يو خاص شي ته سيخه شوې وي. په عام ډول لنډه کيسه د کرکتر، پيښې او تلوسې

---

۱ -له ټاکل شوي وخته د ليکوال منظور دا دی چې د يوې لنډې کيسې د منځني کميت په اړه يو تصور ولرو که نه نو لنډه کيسه تر ذکر شوي اندازې په مراتبو اوږديدلی يا کميدلی شي او دغه اوږدوالی يا لنډوالی يې په کيفيت هم اثر نه لري. ژباړن



Download from:aghalibrary.com

تر منځ یو نښلیدونکی تړون دی ددې توپیر د لاروښانتیا لپاره به دا غوره وینا ((هوښیار سړی په ظواهرو نه تیر وځي)) و ځیرو .

پدې غوره وینا په زرګونو کیسې لیکل شوي دي، او لا په زرګونو اوږدې او لنډې کیسې کښل کیدی شي.

اول به اوږده کیسه وګورو.

مثلا د یوه زلمی په ژوند به یې پیل کړو چې پلار یې شتمن دی او ډیر خواریکښ یې تر لاس لاندې کار کوي موږ کولی شو کرکتر" زلمی" د دغه ستر کار او ډیرې شتمنۍ تر سیوري لاندې انځور کړو، هغه چاپیریال تصویر کړو چې د دغه کرکتر په وده کې مرسته کوي او یوې خاصې لارې ته یې سیخوي ، په ښوونځي او د باندې کې یې له ځانګړیو خلکو سره ملګری کوي .. د ده لومړی مینه ځیرو. بیا د ډراماتیك پرمختګ پر لور یون کوو.. مثلا داسې یې انځور و ـ څنګه یې پلار غریب او خوار شو، څنګه ځوان وروسته له شتمنۍ په غریبۍ کې ژوند کوي، څنګه یې دا ومنله چې شتمني نیکمرغي پیدا کوي او انسان بې ډیرو پیسو نه شي خوشالیدی . دا په ظواهرو د تیروتنې خوا انځور وي . له دې وروسته لیکوال ډرامې پرمختګ پرمخ بیایي یعنی د انسان او چاپیریال ټکر انځور وي چې یا به انسان بریالی کیږي یا به بې څه لاس ته راوړنې مري . او ځوان غوځنده پریکړه کوي چې خامخا او هرومرو به له یوې نه یوې لارې پیسې لاس ته راوړي . خو پلار یې د ده خبره نه مني هڅه کوي خپل زوی قانع کړي چې پیسې هر شی نه دی امکان لري انسان په ژوند کې نیکمرغي له نورو لارو لاس ته راوړي . ځوان د پلار خبرې نه مني پلار یې کلي ته ځي غواړي په هغه لږ جایداد چې په کلي کې لاور پاتې دی هوسا ژوند تیر کړي . زلمی خپلې هڅې ته دوام ورکوي .

لیکوال کولی شي چې داسې موقعتونه رامنځته کړي چې ځوان ته د کار په ځای کې سیال او په مینه کې رقیب پیدا کړي، او دی په دواړو بریالی شي، کار یې سم شي او معشوقه ورسره مینه وکړي ـ معشوقه د ده د کار ځای ( شرکت) د مدیر لور وي ـ خو دی په اسانی دا بریاوي تر لاسه نه کړي له هر بریالتوب سره یې زړه اوبه شي او



Download from:aghalibrary.com

مسولیت زیات . شرکت ډېر تاوان وکړي ځوان چې په تیر یو کال کې یې ښه چوکۍ تر لاسه کړې او شي ځني پخواني مامورین برطرفه کړي معشوقه د مامورینو د لرې کولو سلا ورنکړي هڅه وکړي ځوان قانع کړي چې د پیسو ټولول او بریالیتوب باید د نورو په ځپلو او شړلو لاس ته رانشي، خو د پیسو ټولول د ځوان سترګې ورپټې کړي وي بلې خواته یې نه پام کېږي . نو یوه شپه د غم غلطولو لپاره شراب وڅښي له شرابخانې نشه راووځي موټر یې ووهي، ډاکتران له معایناتو او علاجه وروسته ورته ووایي چې ډېر وخت باید کار ونکړي، دی خپل پلار او مور ته ورشي هلته حیرانیږي چې پلار او مور یې سره له دې چې ډېرې پیسې نلري بیا هم خوشاله دي او ده چې تر هغوی یې ډېرې موندلې دي غمجن دی.

په لسګونو او سلګونو داسې نورې لارې شته چې کیسه ترې جوړه شي . که لیکوال هڅه وکړي چې له دې موضوع لنډه کیسه جوړه کړي خامخا ناکامیږي.

که په دغه وینا ((هوښیار سړی په ظواهرو نه تیرووځي)) لیکوال لنډه کیسه لیکي کولی شي چې ظاهري تیروتنه د یوې ښایسته نجلۍ په څېرې کې انځور کړي داسې چې یوه ښایسته ښکلې پېغله له خپلې ملګرې سره په یوه بس کې ناسته وي او هڅه کوي چې دوی ته نږدې ناست د ځلوېښتو کلونو شاوخوا سړی پخپلو خبرو پوه کړي پلانې ځای ته راشه مور به درته ناستې یو دوی په خبرو خبرو د ده د ځوانۍ ولولې او مینه را ژوندۍ کړي په دې ډول د یو پلار په زړه کې چې ښځه او کوچنیان لري دځوانۍ له ولولو سره ټکر پیدا شي . ځلوېښت کلن سړی خپل کور ته ولاړ شي ــ توبې باسي ــ خو ګوري چې میرمن ناروغه ده، کوچنیان ویده دي، ده کور فضا غمجنه ده . نو د وتلو لپاره پاک کالي اغوندي او وعدې ته ځان رسوي کله چې له ښایسته نجنو سره کېني پوهېږي چې دوی د پیسو لپاره ځانونه سینګار او ښایسته کړي دي او خپل ښایست په پیسو پلوري، نو بد یې ترې راځي بیرته خپل کور ته ځي له ځان سره دا مني چې تر هر څه مخته باید خپلو کوچنیانو او کور ته پام وکړي.

پدغـه ډول کیسـې کـې زمـاني او مکـاني وحـدت جـوت دی، پـېښې لـه یوې بلې سره تـړل شـوي او پـه منطقـي شـکل هغـه پایلـه لاس تـه راځي چې د کیسـې ټولـې وړانـګې ورتـه سـیخې دي ـ لیکـوال هـر وخـت کولـی شـي چې د کیسې په پای کې هغـه (( لحظـه)) وړانـدې کـړي چـې د کیسـې ټولـې وړانـګې یـې هغـه لـور تـه سـیخې وي ځنـې څیړونکـي دغـه لحظـه (( ځلنـده شیبه)) نومـوي .

پـه دغـه راز کیسـو کـې د لنـډې کیسـې اساسـي توکـي مونـدلـی شـو ـ زمـا مطلـب لـه (( پیـل، منـځ او پـای)) څخـه نـه دی، پیـل منـځ پـای اوس پـه بدیـهیاتو کـې شـمېرل کـېږي او تـر لیکـوال یـې لوسـتونکی ښه پـېژنـي، اساسـي توکـي دا دي:

۱ ـ څوك : کرکـتر یـا کرکترونـه .

۲ـ چیرتـه : مکـان.

۳ـ څه وخـت: زمـان .

۴- څرنـګه: پـېښه او پـېښې.

۵ – ولې: د پـېښو منطقـي دلایـل .

۶ – څه شـی : پـای .

همدا راز یو شمېر نور عناصر پـه اساسـي توکـو کـې شـمیرلی شـو لکـه تلوسـه، معقـول تصـادف، ډرامـاتیك یـون، پـه فنـي مسلسـل ډول ټکـر اوج او بیـا داسـې پـای چـې لوسـتونکی ونـه انګیـري چـې لیکـوال تیرایسـتی دی.

پـه راتلونکیـو پـاڼو کـې بـه وګورو چـې لیکـوال څنـګه کولـی شـي بریالـی کیسـې ولیکـي داسـې کیسـې چـې کلـه هـم لوسـتونکی دا احسـاس ونکـړي چې د دې کیسـې پـه لوستو مـې وخـت ضـایع شـو.

# د کیسې موضوع

مختنه تر دې چې د کیسې پر موضوع خبرې وکړو..اهمیت یې څرګند کړو .. هغه لارې چارې وڅیړو چې د هغو په مرسته موضوع پیدا کولی شو، د پرمختګ وسایل یې جوت کړو، د پیچلي توب او نه پیچلي توب په اسبابو یې وږغیږو، د موضوع د لیکلو چل زده کړو، پر جوړښت یې رڼا واچوو تر دغو ټولو مختنه غواړم یو ځغلند نظر پر تحلیلي او ترکیبي کیسو تیر کړم ۰

په تیرو پاڼوکې مو ونغوتله چې تحلیلي کیسه ځانګړې استعداد غواړي او مبتدي لیکوال کیسه لیکل په تحلیلي کیسو نشي پیلولی، خو ددې مطلب دا نه دی چې ساده کیسه تر تحلیلي بې کاره او اسانه ده.. ساده کیسه هم یو ډول خاصې پوهې او قدرت ته اړتیا لري تر څو د ګڼو لوستونکیو رضایت لاس ته راوړي ۰

لوستونکي د موضوع یو اړخ دي .. او د لیکوال بریاوې د لوستونکیو له شمېر او سویې څرګندېږي.

نوی لیکوال په اولو وختو کې اړ دی چې ډېرو لوستونکیو ته لیکنه وکړي او بیا ورو ورو جګ پوړیو ته خبر ورسوي هغو ته چې تحلیلي کیسې خوښوي ۰ د ګڼو لوستونکیو د موندلو لار دا نه ده چې لیکوال جنسي کیسو ته مخه کړي دژنیو او پېغلو د جذبولو لپاره یې ولیکي جنسي لیکنې تر غونډو لیکنو اسانې او جنسي کیسې تر ټولو کیسو ساده دي. کوم لیکوال چې د جنسي لیکلو په مرسته ګڼ ژني لوستونکي پیدا کوي د هغوی ستاینه دوی د جګ پوړیو لیکوالو په لیکه کې نشي درولي ۰ که څه هم مینه د کیسې یو مهم توکی دی او ګڼې کیسې پر دې عاطفې کښل شوي دي لیکن لیکوال او په ځانګړې

توګه نوی یو باید دا عاطفه په مهذبو اسلوبو او فني ډول انځور کړي تر څو د پاخه لوستونکي تر پام بده نشي او ځوان لوستونکی یې خوښه کړي.

یوځل بیا تحلیلي کیسو ته ورګرځو، تحلیلي کیسې ځانګړی قدرت، استعداد او فکر غواړي چې د نبوغ او عبقریت حد ته رسي دغه کیسې ځانته لوستونکي لري داسې لوستونکي چې پر کیسې پوهېږي، له اروا پوهنې خبر وي او د لیکنې په باریکیو یې سر خلاصیږي.

تحلیلي کیسې عام لوستونکیو ته هغوی ته چې مختلف کلچرونه، ذوقونه او نظریې لري په زړه پورې نه وي خو کله چې په دغه کیسې کې تلوسه زیاته شي، په ښه فني شکل او اسانه اسلوبو ولیکل شي خاص او عام یې ستایې او خوښوي.

د لاروښناتیا لپاره ددې خبرې یادونه ضروري ده چې د تحلیلي کیسې لیکوال تر هر څه دمخه د ځان او د خپل هنري احساس د رضایت لپاره کیسه لیکي نه د ورځپاڼې د لوستونکي او مدیر لپاره او کله چې لیکوال ددې کیسې د خپریدا نیت وکړي او د یوې خپرونې مسوول مدیر ته یې وروسپاري که د هغه خوښه شي بیا هم لوستونکیو ته ګوري، که د لوستونکیو په زړه برابره وي خپروي یې او که نه وي نه یې خپروي.

لکه څنګه چې د یوه پوخ لیکوال تحلیلي کیسه هم ځنې وخت څوک نه خپر وي، نو د نوي لیکوال به څه حال وي چې تحلیلي کیسه ولیکي. له همدې امله پدې برخه کې لومړی د لنډې ترکیبي کیسې موضوع هغه چې ډېر یې خوښوي شیرو په عمومي ډول کیسه او په ځانګړې توګه لنډه کیسه تر ټولو ادبي ژانرو ګران ژانر دی ددغه ژانر سختي په دې لا زیاتېږي چې څوک یې په جامع شکل ماهیت نشي په نخښه کولی، خو دا څرګندېدی شي چې کومه لنډه کیسه ده او کومه اوږده کیسه، کله یې کیسه بللی شو، کله یې ښه ورته ویلی شو او یا د ګزارش نوم پرې ایښودی شو دغه او له دې پرته نورې ډېرې خبرې په دې بحث کې رااخولو.

لومړۍ به د کیسې پر موضوع پیل وکړو .. د خپرونې چلوونکی هغه چې تر نورو د لوستونکیو په ذوق ښه پوهېږي څه شی خوښوي؟

هغه نوې په زړه پورې موضوع چې په فني هنري او تکنیکي ښه نه وي لیکل شې او که هغه موضوع چې تکراري وي، بې کاره وي خو په هنري فني او تکنیکي شکل کښل شوې وي ..؟؟ موږ چې کله مضمون یادوو شکل نه نفي کوو .. یعني یوه ډېره ښکلې موضوع که په فني شکل ونه لیکل شي د خپریدو او لوستو جوګه کیدی نشي. دا کار یو مخ دې ته ورته دی لکه غوړي ، بوره، هګۍ، اوړه، کیک پوډر، پولي، میده هیل، او شودې چې کوچني ته وروسپارئ او د یو خوندور کیک د پخیدا هیله ترې ولرئ.

د خپرونو مسوولین ښکلې موضوع ته سترګې په لار وي خو په زړونو کې کري ریبي چې اسلوب یې همداسې ښکلی وي. ښکلی اسلوب او بېکاره موضوع هغې ښایئسته ښځې ته ورته دي چې نه په څه اړه وي نه غوړه.

هغه بېکاره موضوع چې په ښه شکل لیکل شوې وي د خپریدا چانس تر لاسه کولی شي خو په لوستونکي به اغېزه ونه شیندي او د هغو زرګونو شیانو په څیر چې د انسان په ژوند کې تیریږي تیره به شي اوهیره . ددغه ډول کیسو لوستونکي چې څنګه د کیسې وروستی مخ ولولي، او بله موضوع راواخلي د هغې مطلب یې بیا له ذهنه وتلی وي. شاید حیران شئ چې ښه اسلوب خو د کیسې په نړۍ کې د بریالیتوب لومړۍ ګام دی خو حقیقت به درته وایي چې نه .

نثري اسلوب هم همداسې دي .. د کیسې په عمومي اسلوبو کې شمېر ل کېږي. هغه نثري اسلوب چې له بدیعي او بیاني محاسنو ډك، ناشنا او متروك الفاظ په کې کارول شوي وي، موضوع ته اصالت او غناء نشي وربخښلی .. په دې نثر داسې کیسه نشي لیکل کیدی چې د هر هر ځای خلك یې خوښه کړي که دغه نثر چې په کلماتو لوبې کوي لس کسه خوښ کړي، نو هغه کیسه چې په روان ساده نثر کښل شوې، سلګو نه او زرګونه کسان خوښوي. د ساده اسلوبو مطلب دا نه دی چې کیسه په کمزوري ګډوډ تعبیر ولیکل شي او لیکونکي یې په ژبني

قواعدو نه وي پوه شوي. ساده اسلوب هغه دي چې هغه ته اسانه اسلوب وايي يعني هرڅوك پرې پوهيدی شي، د لوستو په وخت د لوستونكي ذهن هغه لور ته ( د نثر لور ته ) نه واړوي بلكه مضمون ته يې پام وي دغه اسلوبو ته سهل ممتنع وايي . د كيسې موضوع ته به وروګرځو . . ښه موضوع هغه ده چې د لوستونكي انفعالات راپاروي، د خوند احساس وركړي، تر پايه د هغه توجه د ځان لور ته وروكاږي، بيايي د زړه پر تل كېني او يو فكر وركړي.

تاسو بايد لوستونكيو ته داسې موضوع وړاندې كړئ چې هغه ته دا پوښتنې پيدا شي، له كركتر سره به څه كېږي؟ څنګه به كركتر له دې ستونزې وځي؟ آيا د غوټې هواريدا ته به سم د منلو وړ حل پيدا شي؟

ددې پوښتنو مطلب دا دی چې په موضوع كې حركت پيدا كړئ، راويسېړئ، ويې پيچئ، او تلوسه په كې خوندي كړئ چې لوستونكي موضوع تر وروستی. كلمې په خوند ولولي .

د كيسې ليكنې لومړی ګام د موضوع موندل دي څنې كسنيه ليكوال هره ورځ يوه كيسه يا يوه نه يوه موضوع د ليكلو لپاره پيدا كوي . خو ټول ليكوال دا استعداد نلري او خصوصا د كيسه ليكلو په اولو وختو كې دا كار نشي كولی. حال دا چې داسې نوابغ هم شته چې قلم وړواخلي او د ليكلو پر وخت موضوع پيدا كړي، وروسته يې بيا له سره سمه وليكي.

خو نوي ليكوال ته دا كار ګران دی البته موضوعات ډېر دي ولې نوی ليكوال داسې هڅو ته مخه كړي .

نړيوال كره كتونكي پدې اند دي چې كيسه ايز موضوعات تر اوو نه اوړي، خو دغه هره يوه په يو مليون لارو او زاويو كښل كېږي يعني اوه مليونه موضوعات ترې جوړېږي ليكوال كولی شي چې د كيسې موضوعات په كور- ډګر- موټر- تمځاى - كارځاى او هر ځاى كې ومومي.

هره خبر، كه ډيره عادي هم وي او هره خندا چې څوك يې دشپې اوري كيدی شي چې د كيسې پر يوې موضوع يا ګڼو موضوعاتو بدل شي خو په دې شرط چې خيال ورسره مل كړي .

زه لیکوال ته دا نه وایم چې کیسه دي خیالي ولیکي، بلکه د خیال په مټو دي موضوع پرمخ بوځي او کیسه دي جوړه کړي یعنی خیال دي له حقیقت سره ونغاړي.

لیکوال چې کله کیسه ولیکي و به نه توانیږي چې خیال له حقیقته بېل کړي. د ډېر ښه او متوسط لیکوال توپیر د تخیل له مخه کېږي د بریالي لیکوال خیال په معقولو او منطقي اساساتو ولاړ وي ۰ که تاسو د خیال مزي ورسست کړئ نو په دومره لوړیو او خواوو به مخه کړي چې د منلو به نه وي او لوستونکي ته به ملنډې ښکاري ۰ لیکوال دې ډېره پاملرنه کوي چې دا درك کړي، چې یو شی په اساني پېښیدی شي، بل د منلو وړ وي عقل یې مني، دریم کله ناکله ډېر لږ پېښیږي او څلورم هېڅکله نه پیښیږي.

د اساني پېښیدا مثال داسې دی لکه یو مامور چې له دفتره رخصتیږ ي او په تم ځای کې د مامورینو بس چې دی کور ته رسوي ورته ولاړ وي. د منلو وړ پېښه داسې ده لکه چا ته چې یو ملګری ور په زړه شي او چې څو ګامه واخلي هغه مخې ته ورشي. دریم ډول پېښه داسې ده لکه یو کوچنی چې له پنځم پوړه سړك ته ولویږي خو څکه مړ نشي چې د لویدو په وخت د مالوچو موټر لاندې تیریږي او دې پر هغه ورولویږي ۰ او هغه چې هېڅکله نه پېښیږي داسې وي لکه یو ماشوم چې سمندر ته ولویږي او دوه ورځې وروسته یې څپې ساحل ته ژوندی پورې باسي او د لیکوال په خیال معجزې ژغورلی وي!!

ځیرك لیکوال خیال داسې انځوره وي چې رښتونی ښکاره شي او کمزوري لیکوال ګومان کوي چې د خیال بې قیده او شرطه تصوېرول اصلي هنر دی.

لکه څنګه چې څو وارې وویل شول بیا هم دا یادونه ضروري ده چې موضوع کیسه لیکوال د نورو له لیدو ـ کتو او خبرو لاس ته راوړي ۰

نوی لیکوال چې موضوع پیدا کړي هغه دې ذهن ته وسپاري کله چې پخه شي، پېښه او کرکترونه یې د ده په اند ښکاره او روښان شي بیا دې کېنې کیسه دې ولیکي ۰ کیدی شي چې په دې پخیدا څو ورځې او څو اونۍ تیرې شي او یا کیسه په څو ساعتو کې بشپړه شي.

د هغه چا لپاره چې په موضوع پسې ګرځي د مونډلو ډېره اسانه لار يې په لاندنۍ بيلګې کې وړاندې شوې ده:

متن.. پښنه.. يو شي..

د مثال په توګه د ((کوټې)) کلمه رااخلو.. ددې لپاره چې له هغې يو يا څو کيسه ايز موضوعات تر لاسه کړو نو لومړی بايد د کلماتو د تداعي لاړ تعقيب کړو.. دا د اروا پوهنې مشهوره طريقه ده. د کوټې د مانا تداعي په دې ډول عملي کوو:

کوټه.. بالکون.. کړکۍ.. کور.. کوڅه.. ښځه.. ښايسته.. بوډۍ.. کونډه.. مور.. پلار.. ميره.. عذاب.. او داسې نور:

د مانا تداعي يو وړ نه وي هر څوک يې د خپل ذهن مطابق وړاندې کوي ليکن پايله يې غالباً يوه وي يعنی د داسې کلماتو ليکه کول چې له يو ځای کولو يې ښايي ښکلې کيسه جوړه شي.

د ((کوټه)) کلمه ما پخپله پخپل ژوند کې عملي کړې ده او څو کيسې مې ترې جوړې کړي چې په ((المصور)) مجله کې خپرې شوي دي.

که امکان ولري چې دا کلمات لږ منظم وليکل شي نو د کيسې د موضوع په روښانتيا کې به مرسته وکړي..

کوټه.. بالکون.. کړکۍ.. ښځه.. بوډۍ.. کونډه.. کوڅه.. خوشالي.. د خپګان ياد.. ميره..

په دې ډول به دا موضوع لاس ته راشي:

(( بوډۍ کونډې د خپلې کوټې له کړکۍ سر راکښلی او په سړک کې يې ډنګ او ډونګ ته کتل دې ته پخوانۍ وختونه ور په زړه شو.. د واده شپه چې د ميرې له لاسه پرې پوه نشوه)).

بل مثال ته به ځير شو.

مثلاً يو ملګری راته ووايي ((د پلاني عالم ټولې غوښتنې تر سره شوې يو ارمان يې پاتې نشو..))

که دا جمله د مانا د تداعي په لار برابره کړو امکان لري چې لاندني کلمات تر لاسه کړو:

پوهاند ۰۰ شتمن ۰۰ موټر ۰۰ مانۍ ۰۰ پلار ۰۰ میرمن ۰۰ زامن ۰۰ لویان ۰۰ ناروغي ۰۰ غوښتنې ۰۰ ژوند ۰۰

له دې تداعي کیدای شي یوه کیسه جوړه شي او ((وروستۍ غوښتنه)) یې ونوموو ۰ ما په خپله دا کار کړی دی.

دریم مثال به وګورو د مانا د تداعي له لارې نه د خیال له لارې څنګه موضوع پیدا کولی شو ۰ مثلاً دا مکالمه واورو :

(( ـ څه شوي دي ۰۰ چې داسې ګورې؟

ـ هلته یو چا په چوکۍ ووهلم خوشي لېونی و ۰

ـ هسې په هسې؟

ـ هو ۰۰

ـ هورې دي څه کول؟

ـ چکر تللی وم ـ د شپې ناوخته شوم ـ خوب راغی دغه لېونی غوندې راسره ناست و څو پوښتنې مې ترې وکړې سم ځواب یې نه راکاوه))

دغه خبرې اترې که هغه لیکوال چې په موضوع پسې ګرځي تر پخوالي وروسته له خیال سره ګډې کړي په زړه پورې کیسه ترې جوړولی شي.

طبعي خبره ده چې دا ټول کمالونه په مبتدي ليکوال کې يو ځای نشي پيدا کيدی خو مبتدي ليکوال بايد هڅاند وي لا دقيق شي دا توان پيدا کړي چې له ځانه او شاوخوا له هر شي موضوعات لاس ته راوړي، او د اساسي قواعدو د زده کړې په مټ له موضوع کيسه جوړه کړي.

له موضوع داسې کيسه جوړول چې د خپريدو وړ وي کومه خاصه لار نلري خو ځينې بنسټيز قواعد او عامې لارې شته چې د هغو په مرسته دا کار لنډ، اسان او ښه تر سره شي. دغه عامې لارې او اصول يوه نشي په ګوته کيدی چې مبتدي ليکوال ته تياره فارمولـه لاس ته ورشي، خو دا امکان لري چې ددغو قواعدو او لارو مهم او اساسي ټکي وړاندې شي، او مبتدي ليکوال د هغو په مرسته کاميابې کيسې وليکي. له دغو قواعدو او لارو د کيسې چوکاټ جوړيږي چې پر دريو اساسي ستنو ولاړ دی:

١ _ غوټه.

٢- له غوټې زيږنده ټکر.

٣- له ټکره پيدا شوې پايله.

کيسې له يوه مخه په دغو دريو ستنو ولاړې دي که موږ په زرګونو کسيو ته ځير شو يا هغې کيسې ته پام وکړو چې نوې مو لوستې وي هرومرو به لاندنې پوښتنې پيدا کړو:

آيا موضوع يې غوټه درلوده؟ آيا کرکتر له کومې ستونزې سره مخ شو؟ آيا داسې څه پکې ول چې کرکتر يوې ځانګړې پريکړې ته اړ کړي؟ او په پای کې څنګه کرکتر له دغې ستونزې سره مخ شو. او يا تري ووت؟.

که همدا ډول دوهمه او دريمه کيسه راواخلو خامخا به پکې يوه غوټه يا ستونزه ووينو چې يو ټکر زيږوي هغه چې په پای کې تري يوه پايله او حل لاس ته راځي.

دا د موضوع د پرمختګ لومړی ګام دی، او کيدای شي چې له اصلي غوټې نورې وړې وړې غوټې ښلې شي، خو مبتدي ليکوال بايد په وړو غوټو پسې سر ونه ګرځوي تر څو بنسټيزه کړښه ګډه وډه نشي

# د کیسې چوکاټ

په تیر فصل کې د کیسې پر موضوع وږغیدو، هغه وسایل مو څرګند کړل چې د هغو په مرسته بې شمېره موضوعات لاس ته راتلی شي، داسې موضوعات چې له هر یوه د خپریدو جوګه کیسه جوړیدی شي.

مخته تر دې چې د کیسې پر عام چوکاټ خبرې وکړو بیا هم دا تکرارو چې یوازې په زده کړه څوك تکړه کیسه لیکوالیدی نشي نور فنون او علوم هم همداسې دي مثلا یوازې په زده کړه څوك تکړه ډاکټر، انجینر یا پیلوټ کیدای نشي تر څو له خپلې دندې سره له زړه مینه ونلري د یو څه استعداد او ذکاوت څښتن نه وي ..

ښکاره ده چې دا خبرې بدیهي دي خو د هغو کسانو لپاره یې بیا بیا تکرار ضروري دی چې هغوی ته کیسه لیکل د قلم رااخیستل او په داسې پېښې : پاڼې تورول ښکاري چې دوی یې کیسه بولي .

مخته هم یادونه وشوه چې د کیسې لیکلو لپاره د موضوع پرموندلو خبر نه خلاصیږي داځکه چې یوازې موضوع د زړې حیثیت لري له هغه د کیسې عمومي چوکاټ راتوکیږي ، که زړې ونه پالل شي، له همدې زړې پرته بل څه لاس ته نشي راتلی. د کیسې زړې د فکر پوخوالي او د موقعتونو او شیانو د انځورېدا لپاره د خیال قوت ته اړیتا لري، ددې تر څنګ ددې زړې پالل زده کړه، تجربه، او تر خپله وسه د څیزونو د ښتونې بڼې د ترسیم قدرت غواړي .

او په کار ده چې له اصلي غوټې د پوښتول کار واخیستل شي او وړې غوټې د کوچنیو ستنو په څیر هغې ته اوږه ورکړي ۰ که کوچنۍ غوټې هر څومره ډېرېږي له اصلي لارې لرې کېږي. لیکوال دې د لیکلو په وخت غونډو بنسټیزو ستنو( غوټه، ټکر، او پایله) ته پام کوي ۰

د لاروښانتیا لپاره به اوس د دغو دریو بنسټیزو ستنو هره یوه په تفصیل وڅیړو ۰ په حقیقت کې پخوانو مستعدو لیکوالو لکه شاعرانو دغه قواعد په غریزي ډول د ښو ذوقو او استعدادو په برکت پېژندلي و او کار یې ترې اخیست ۰ پدې بحث کې په ځانګړې توګه د لنډې کیسې غوټه څیړو چې څه شی ده؟ موږ په قاموسو او علمي ډکشنریانو کې ددې کلمې ځانګړې مانا نه څیړو ځکه چې په کیسه کې غوټه پر یوه خاص څیز دلالت نه کوي نو ګرانه ده چې ټاکلې مانا یې په نښه کړو خو په عمومي ډول دا ویلی شو چې دلنډې کیسې له موضوع زېږېدلې غوټه عادتا دوه شیان رانغاړي : ۱- حیرانتیا او اضطراب ۰ ۲- هدف.

دغه بېلګو ته به پام وکړو:

(( ښاغلی عیسی نوی لیکوال دی، دی له پلازمینې لرې اوسي، زړه یې ډېر په تنګ دی ځکه چې له شپږ میاشتو راهیسې یې د کور څښتن ته کرایه نه ده ورکړې ۰۰ د کور څښتن ګواښ ورته کړی چې ژر به کور پرېږدې ۰۰ په همدې بې پولۍ کې دی له یوې نجلۍ سره مینه کوي، هغه څه نا څه شتمنه ده، دی نیت لری چې ویې غواړي او واده ورسره وکړي ۰۰ نو څه به کوي ؟

آیا له دې هم د خپلو ملګرو په څېر چې پخوا یې ترې پورونه اخیستي دي پور وغواړي او له خپلې ډوېکۍ یې خبره کړي؟ آیا یو مخ دا سیمه پرېږدي، پلازمینې ته لاړ شي کار روزګار ملګرتیا هر څه ته شا کړي، هلته نوی ژوند پیل کړي لکه زړه چې یې غواړي لوی لیکوال شي؟

موږ وینو چې عیسی ته ستونزه پیدا شوې د کرایې د ځنډېدلو ستونزه، دا ستونزه دی له کوره شړي باید حل ورته پیدا کړي، اوس دده موخه څه ده؟ هغه څه باید وکړي چې یو حرکت او یو عمل ته ضرروت لري۰ له بل اړخه هدف ته رسیدل کرکتر له ستونزې او مشکل سره

مخامخوي. کـه داسي فـرض کـړو چـې عیسـی غـواړي لـه دې شـتمنې پېغلـې سـره واده وکـړي نـو واده خـو سمدسـتي پېسـې غـواړي دومـره چـې د خسـر کـوروال دا ومنـي چـې دی د خپلـوي وړ دی.

کـه د کیسـې پـای کامیـاب انـځوروو نـو د ډېرو پیسـو لاس تـه راوړل ضـروري دي.

آیا کرکتر پـه نامشـروع تـوګه پیسـې لاس تـه راوړي؟

آیا خپـل سپین ږیری پـلار دې تـه اړ کـړي چـې خپـل پـتـې خـرڅ کـړي پـه کوم چې یـې ګذاره کـېږي؟

کرکتر لـه یـو مشـکل سـره مـخ دی دا مشـکل د یـوه ((هـدف)) د لاس تـه راوړنې لـه املـه پیـدا شـوی دی

دا سـاده مثالونـه دی خـو لوسـتونکي تـه د غـوټې پـه اړه یـو عـام فکـر ورکولـی شـي هـر څوک چـې د کیسـه لیکلـو هـڅه کـوي کولـی شـي پـه پورتنـۍ کیسه کې کرکتر (عیسی) لـه ګڼو سـتونزو سـره مـخ کـړي لکـه:

۱ - د نجلۍ پـلار او مور لـه عیسـی سـره د دوسـتۍ خبره رد کـړي.

۲ - د کرکتر د دفـتر مدیـر دی لـه پلازمینـې لـرې بـل ځای تـه تبدیـل کـړي.

۳ - کرکتر تـه دا شـک پیـدا شـي چـې نجلـۍ لـه ده سـره لـه زړه مینـه نـه کـوي.

۴ - د کرکـتر زوی نـاروغ وي عـاجل عملیـات تـه ضـروروت لـري او دی د هغـه د عملیـاتو پیسـې نلـري.

۵ - کرکتر ګومـان کـوي چـې لـه مـیرمن سـره یـې لـه هغـې ورځـې وروسته مینـه کمه شـوې ده چـې ده بلـه بنایسـته ملګرې موندلـې ده.

۶ - تصادفـا دا ورتـه جوتـه شـي چـې د یـو ګران ملـګري مـیرمن لـه ده سره خیـانت کـوي.

۷ - ده لـه خپـل کـاره بـد راځي داسـې احساسـوي چـې د دغـه کـار دوام بـه یې پـه مـاغزو بـده اغـېزه شیندي.

۸ - دی لـه کاره لرې شـوی دی، زړه یـې پـه تنـګ دی – کلـه چـې یـې زړه ډېر پـه تنګ شـي تمر یـې خوږېږي، داسـې انګیـري کـه عـلاج ونـه کړي لـه درده بـه مړ شـي.

۹ - لـه داسې یوې ښایسته پېغلې سره یې سر او کـار کېږي چـې یـوه سـتونزه لـري – دی هـڅه کـوي چـې مرسـتـه ورسـره وکـړي خـو دومره وس نـه لـري چې ګټه یې ورورسیږي نـو د هغـې سـتونزه نـوره هم زیاتـه شـي ۰

۱۰ - کرکتر پـه جـوارۍ کې ډېرې امـانت پیسـې بـایلي ۰

په دغـه ډول کولی شو چې کرکتر (عیسی) تـه پـه سلګونو او زرګونـو ستونزې پیـدا کـړو او پـه دې اعـتـراف وکـړو چـې د موضوعـاتو کمی نشته. پورتنۍ ځنې او یـا ټولې سـتونزې شـایـد سـاده، مکـررې او برسـیرینې وي لیکن تکړه لیکـوال کولـی شي چـې هـره سـتونزه لـه مختلفـو زاویـو وګوري او بیـا لـه هرې سـتونزې ګټې کیسـې جـوړې کـړي ۰

د مثال پـه توګه بـه لومـړۍ ستونزه راواخلـو:

عیسـی چـې د جنـۍ پـلار او مـور تـه د دوسـتـۍ خـبر وکـړي هغـوی وروسته لـه ګرویژنـې پـوه شـي چې د هلك تنخـوا د ده تـر وینـا ډېره کمـه ده نـو جـواب ورکـړي ۰ دی هـڅه کـوي چـې هغـوی قـانع کـړي چـې پیسـې ارزښت نـه لـري ، اوس خـو یـې لا د کـار لومـړي وختونـه دي ورو ورو بـه یـې تنخوا ښه شي، دی غـواړي چې لـوی لیکـوال شـي نولـه پیسـو سره بـه یـې شـهرت هـم مـل وي ۰ ۰ د نجلـۍ پـلار او مـور تـه دا خـبرې ملنډې ښکـاري، خپلې لـور تـه وایـي هـر څوك چـې اوس څه نـه لـري او د راتلونکـې ژمنـې درسره کـوي رده وه یـې ۰ لـور د پـلار او مـور خـبر منـي.. عیسـی پلازمینـې تـه ځي چـې پـه ژونـد کـې بریـالی شـي.. وروسـتـه لـه دوه دریـو میاشـتـو خبریږي چـې ملګرې یې لـه یـو داسې شتمن سره واده کـړی چـې شـل کالـه تـرې مشـر دی ۰ عیسـی ډېر خوابـدی کـېږي ((سـتونزه)) یـې اوس د یــوه هـدف پـر ځای پـر دوو بدلـه شـوه ۰ لومـړی لیکوالیـدل او دوهـم د نجلـۍ او د هغـې د پـلار اومـور لـه نـوې دوسـتـۍ پښیمـانول ۰ ۰ دلتـه لیکـوال کولـی شي پخپلـه خوښه یـو پـای کیسـې تـه غـوره کـړي ۰ ۰ کولـی شـي عسـی داسـې انـځور کـړي چـې ارمـان یـې پـوره شـي، کـه یـې ارمـان پـوره شـي او معشـوقه یـې زاړه سـړي تـه ځواب ورکـړي، نـو ایـا عیسـی بـه ډېر خوشـالـه شـي؟ کـه یـې ارمـان ورپـوره نـه کـړي عیسـی بـه پـه هـرڅه بـې بـاروه شـي اعتمـاد بـه لـه لاسـه ورکـړي، داسـې هـم انځوریـدای شـي چـې هـر څه هـیر

کړي. له داسې چا سره واده وکړي چې له ده سره دده په دې لړ تنخواګۍ سر ټیټوي.

لیکوال دغه ټولو پاېلو ته د هغه یون په مرسته رسیدلی شي چې له ټکره زیږیدلی وي. پدې مثال کې ارزښتمنه خبره دا ده چې لیکوال د فکر، منطقي خیال او د تصویر په مټو له «ستونزې» یو ډول ټکر، حرکت او نتیجه لاسته راوړي یعنی د کیسې د چوکاټ اساسي توکي.

ځینې وختونه او یا اکثره وخت لیکوال د پورتنی طریقې په څیر د نویو موضوعاتو زړي لاسته راوړی شي، داسې چې اصلي موضوع ته ورته نه وي. په پورتني مثال کې کولی شو ستونزه نجلۍ ته پیدا کړو، او یا د غریب سړي د خواستګارۍ مشکل خواښې وګالي هغه نه غواړي خپله لور خپه کړي خو د هلك غریبي له یوې خوا او د نجلۍ خوابدي له بلې خوا دا ځوروي... او یا د هلك پلار راضي نه وي... او یا یې مور .. او یا ..

په دریم رنګ هم لیکوال کولی شي چې کیسه ولیکي یعنی د عیسی د مور لخوا.

په دې ډول مور د عیسی کرکتر یوه «ستونزه» له لسو مختلفو زاویو وړاندې کولی شو که دغه لس زاویې په هغو لسګونو موضوعاتو ضرب کړو چې له دغه یوې ستونزې لاس ته راتلی شي نو په سلګونو کیسې به له یوه مشکله چې عیسی ته مو جوړ کړی پیدا کړو .. دا خبر مور ته څرګند وي چې انساني عقل د تصویر او تحلیل په مرسته بې شمیره موضوعات پیدا کولی شي . له موضوع ستونزه جوړول تلوسې ته ضرورت لري چې دهغې دموندلو لپاره یو ډول پیچلتیا، تناقض، ابهام، یو څه پټول او دې ته ورته حالات پکار دي تر څو لوستونکی د موضوع زړه ته وروکاږي.

د ستونزې په پیدا کولو خبر نه بشپړیږي ځکه چې ځینې ستونزې ډراماتیکي نه وي او ډرامي حالت او موقعیت دکیسې روح دی .. همدغه ډراماتیك موقعیت مور ته څرګند وي چې لیکوال هنري کیسه لیکلې او که اوږد خبر (ګزارش) دلته د ډرامې شرحه نشو وړاندې کولی ځکه چې دا شرحه بشپړ کتاب غواړي خو د ډرامي موقعیت او غیر

ډرامي موقعيت مثالونه به وړاندې کړو تر څو مبتدي کيسه ليکوال ته د دغو دواړو موقعيتونو توپير اسان شي.

سړی کورته ننوت چې ويې کتل راډيو نه لګيده.

يا يې ميرمن ورته وويل چې د هغې مور له سفره راغلې ده.

يا پوه شو چې اشپز کار پرې اېښی دی..

دغه ټول موقعيتونه ډرامي نه دي.

خو که همدا سړی کورته راشي پام يې شي، چې يو غل د ميز دراز خلاصوي، اويا له راننوتو سره په دالان کې يو جسد ويني چې اوږد پر مخکه غزيدلی دی، او يا وګوري چې د پخلنځي له کړکۍ د اور لمبې راوځي او ميرمن يې چيغې وهي.. دغه موقعيتونه ډراماتيک دي.

د راډيو خرابيدل، د خوابنې له سفره راتګ، او د اشپز د کار پرېښودل داسې ستونزې دي چې هره ورځ هر انسان ته پېښيدی شي نو ډراماتيک خاصيت يې له لاسه ورکړي دی. اما دا نورې درې ستونزې ډراماتيکې دي دا ستونزې د انسان په داخل کې يو ټکر زيږوي داسې ټکر چې انسان اړ کوي چې فکر وکړي، لاس په کار شي، پريکړه وکړي.

ډرامي موقعيتونه لس دي او هر يو يې په سلګونو نورې څانګې لري دغه لس موقعيتونه په لاندې ډول دي:

١ - مادي خطر.
٢ - عاطفه.
٣ - سوءفهم.
۴ - اسره.
۵ - غچ.
۶ - ډار.
٧ - تمه.
٨ - تظاهر.
٩ - جنايت.
١٠ - قرباني.

د دغو موقعیتو ځینې لـه یـوه بلـه پیـدا کـېږي او ښکـاره نشـي. بېلیدی، لکـه غـچ د نفـس د رضـایت یـو حـالت دی یعنـی یـوه تمـه ده، همدا ډول جنایت کیدای شي لـه ډار او تمې پیدا شـي ..

کـه دا ووایـو چـې ډرامـي حـالت د کیسـې روح دی، نـو دا بـاید ومنـو چې ټکـر د ډرامـي (حـالت) روح دی. نـو ټکـر څه شـی دی؟

په ډرامي حـالت کې ټکر ځانګړې مانـا لـري هغـه یـوازې د دوو یـا څو کسو تـر منځ په یوه وړه یـا غټه جګړه کې کښیلولو ته نـه وایـي ..

دا سـمه ده چې ټکـر د دوو متعـارضو قوتـو تـر منـځ وي خـو دا حتمـي نـه ده چې ستونزه بـه مـادي (فزیکـي) وي. ځکـه چې ډېرې داسې ستونزې شته چې انسـان تـه د مخـالفو حـالاتو لـه کبلـه پیـدا کـېږي او انسـان ورسـره مخـالفت کـوي اویـا انسـان لـه خپـل ضمیرسـره دیـوې ارزو د لاسته راوړلـو لپـاره ټکـر تـه مجبوریـږي. پـه عمومـي ډول څومـره چې دغـه درې ټکرونـه ((مـادي))، ((اخلاقـي)) او((مخـالف موقعیتونـه)) شـدید وي هغومـره د بریـالیتوب چـانس ډېرېږي.

یـوازې د دغـو ټکرونـو هسـې شتون شـرط نـه دی ځکـه کـوم ټکـر چـې کیسـې یـې نشـي زغملی خو لیکـوال یـې وربـاندې تپـي ممکـن تـر ټولـو ناکامـه کیسـه وي. کـه چېرې د کیسـې ټکـر د کرکترونو لـه مخالفتـه یـا لـه مخـالفو موقعیتونو زیږېدلی وي نـو تاسـو هـڅه مـه کـوئ چې پـه کیسـه بـاندې بـل ټکر هم وتپـئ.

اوس زمـوږ مختـه درې ډولـه ټکرونـه دي:

۱ لـه حالاتو او اقـدارو سره ټکـر.

۲ - د کرکترونو تـر منـځ ټکـر.

۳ - د کرکتر داخلي ټکـر((نفسـیاتي او ذهنـي ټکـر)).

کله چې موضوع تر ستونزې ورسـیده، ډراماتیکـه شـوه، ټکـر پـه کـې پیـدا شـو نـو یوازې حل، نتیجه اویایله پـاتې شـول.

مختـه تر دي چې پیـل او پـای پـه تفصیـل وڅیـړو دلتـه بـه د خپـل بحـث د بشـپېړدا لپـاره پـه لنډو څو مـهم ټکـي وړانـدې کـړو:

۱ - هـڅه وکـړئ چـې پایلـه تـر وسـه وسـه لوسـتونکي تـه داسـې وړاندې کړئ چې هغـه ټکـان وخـوري لـه ځان سره ووایـي عجبـه ده، دا

څه وشو؟ خو احتیاط کوئ چې پایله د کیسې له پېښو سره سمه او د منلو وړ وي .

۲ - کله چې تکر اوج ته رسي هڅه وکړئ کیسه ژر ختمه کړئ او پای ته یې (( لکۍ )) مه ورکوئ .

۳ - چیرته چې کیسه واقعاً ختمیږي هغه باید وروستۍ جمله وي.

۴ - د سترو مشهورو نړیوالو لیکوالو کیسې ولولئ وګورئ چې د کیسو پایلې یې څنګه لیکلي دي.

# پیل او پای

په تیر فصل کې د کیسې چوکاټ وڅیړل شو او د هغه په درې بنیادي ستنو غوټه، تکر او پایله خبرې وشوې.

اوس مخته تر دې چې د کیسې په پیل او پای مفصل وږغېږو بیا هم دا تکرارو چې لیکوال باید په کیسه کې دې ته پام وي چې لوستونکي ورجذبو لی شي که نه۰۰ د لوستونکي مینه له کیسې سره هغه وخت پیدا کېږي چې موضوع یې ښکلې وي تکنیکي اصول په کې مرعات شوي وي له پیله تر پایه یې لوستونکي وراخیستي وي او له لوستو لړ وروسته یې هیره نه کړي ۰

د کیسې هغه پیل چې لوستونکي نشي ورکاږلی او لومړۍ جمله یې لاجذابه نه وي کیدای شي د تولې کیسې ښه یوې انشایي موضوع یا خاطرې ته ورته کړي ځینې لیکوال یوه عادي تکراري موضوع د مکالمې په زور کامیابه کړي خو دا بریالیتوب د مبتدي لیکوال لپاره ناشونی ښکاري مبتدي لیکوال دې د کیسې موضوع ته تر پیلیدا مخته ښه پاملرنه کوي، هغه دې پخه کړي بیا دې ولیکي دېر کله نوی لیکوال له بېړې یوه ښه موضوع خرابه کړي ۰

مخته تر دې چې لیکوال کیسه پیل کړي له ځانه دې لاندنې پوښتنې وکړي۰ که سم ځوابونه ورته لري کیسه پیلیدا ته چمتو ده ۰

۱ - موضوع نوې ده که تکراري؟

۲ - له لومړۍ کرښې تر پایه لوستونکي پرې پوهېږي ؟

۳ - آیا پای دپیل په څیر قوي [illegible] علي دی ((په کار ده چې پای تر پیل غښتلی وي)) ۰

۴ - د کیسې کرکترونه د لوستونکي په خیال ژوندي دي که دنا نځکو په څیر خوځول شوي دي .
۵ - آیا کیسه داسې کنبل شوې ده چې لوستونکي ورجذب کړي او تر پایه ورته پاملرنه وکړي؟
۶ - آیا له تلوسې او ترتیبه ډاډه یاست چې په اکثرو پراګرافو کې به خوندي وي؟
۷ - آیا ګڼ نادر تصادفونه موضوع پر مخ بیایي ؟ (( دا په کیسه کې ستر عیب ګڼل کېږي)) .
۸ - آیا یو دم لوستونکي له داسې پای سره مخ کیږي چې هغه هم یو تصادف وي ؟
۹ - آیا موضوع یو منطقي تسلسل تر پایه رسولې ده؟
۱۰ - آیا په دې پوه یې چې قوي تکر هر وخت د کیسې قوت نه بنیي، بلکه دا تکر د تیټ ذهنه لوستونکیو غوبنتنه ده ؟
کله چې لیکوال ډاډه شي چې دغو پوبنتنو ته یې سم ځوابونه موندلي دي نو لیکل دې پیل کړي یعني د کیسې په پیل دې شروع وکړي .
لکه څنګه چې وویل شول پیل لوستونکي د ټولې کیسې لوستو ته ورکاږي یا یې د ټولې کیسې د لوستو مخه نیسي او کېدای شي چې د یو لیکوال د کیسې کمزوری پیل لوستونکی دومره موړ کړي چې بیا د هغه بله کیسه ونه لولي . لکه د لاندنیو دریو کیسو پیلامې:
۱ - ((لمر خیره ووهله- لږ نور هم پورته شو . هر څوك راویښ شول ورسته له اوږدې شپې ټول راویښ شول، مرغان یو خوا بل خوا خواره واره شول، ونو پاڼې لمر ته کړې او سیوري یې خواره کړل . ښاغلی محسن لا ویده و – تر هغو ویده و چې لمر نور هم پورته شو- بیا راپورته شو- له ځایه پاڅید- بالکون ته ورغی د ګاونډي لور (( ذکاء)) ته یې ورناري کړې: اې د سبا ستورې، اې زما ګرانې، اې . . )) .
یو شمېر نور لیکوال بیا خپلې کیسې پدې ډول پیلوي:
۲ - ((د کفر الشیخ ولسوالۍ په شمالي برخه کې پخوا یوه شګلنه مځکه له شنو اوبو بره پرته وه اوس له دې ښارې مځکې جنت جوړ شوی

هر لـور تـه سيوري دي، پـه اوړي ګڼ شـمېر خلـك دلتـه تفريـح تـه راځي، كـوچنيـان د اوبـو غـاړو تـه ګرځي راګرځي، د هګيـو، ډوډيـو، كـوچـو او تازه پنيرو خرڅونكي يـو خـوا بـل خـوا ښكـاري هلتـه پـه يـوې وړې دوبنـۍ جونګړه كـې ابراهيـم سبانارى كـوي٠٠))٠

ځني ليكـوال ممكن خپلې كيسې داسـې پيـل كـړي:

۳- ((د پسـرلي يـوه ورځ وه دغـه رښتيانـۍ كيسـه پـښېـه شـوه داسـې ورځ وه چـې ګلونـه غوړيدلـي و، مرغـانو سـندرې ويلـې او ونـې يـوې خـوا بلې خوا زنګيدلې زړونـه يـې تـازه كـول٠٠))٠

دغـه درې ناكـامې او خرابـې پيلامـې داسـې دي چـې د لوسـتونكي زړه تـوره وي او د نـورې كيسـې د لوسـتو مخـه نيسـي٠

پيـل بـايد څه ډول وي..؟؟

شايد ووايـو چـې قـوي وي، تلوسـه ولـري داسـې تلوسـه چـې لوسـتونكي ورجـذب كـړي څو پـه دې ډول كيسـه تـر پايـه ولولـي٠ د دې خـبرې د پخلـي لپاره پورتني درې مثالونـه پـه فني ډول ليكـو.

لومړى مثـال : ((د بـاندې لمر ښه هسـك شـوى و كـوټه لاتـر اوسـه سمه نـه وه رڼه شـوې ٠٠كړكـۍ پـورې وې، خـيرنې پـردې پـرې ځړيدلـې، ښاغلـى محسـن لـه يـوه پريشـانه خوبـه را ويـښ شـو پـه ځاى كـې واوښت راواوښت.. اخر راپورتـه شـو پـردې يـې كـش كـړې پـه بـالكون كـې د هـر سـهار پـه څير نـن هـم سـورګل پـروت و- ورټيـټ شـو چـې ګل ورواخلـي ٠٠ كـه ګورې لـه ګل سره نـن يـوه كـوچنـۍ چرموړلـې پـاڼه پرتـه ده- محسـن پـه پوړيدليـو لاسـو لاس ور اوږد كـړ..)).

دا ډول پيـل لوسـتونكي وركـاږي.. پـه هـېڅ ډول د هغـه لـه لوسـتو لاس نـه اخلي، هغـه غـواړي چـې پوه شي پـه ليـك كـې محسـن تـه څه ليكـل شـوي ٠٠ محسـن بـه د ليـك لـه لوسـتو وروسـته څه وكـړي، ليـك بـه چـا ورتـه ليكلى وي ٠٠ ولـې يـې لـه ګل سره پـه پټه ورتـه ايـښى دى٠ بـې لـه شـكه چې ليـك د كومـې ګاونډۍ دى..

دوهـم مثـال: ((ابراهيـم چـې پـه دوبنـۍ جونـګړه كـې سبانارى كـاوه پـه اوبـو كـې يـې پـښې غزولـې وې ٠٠ يـودم يـې پـه كټكـې خنـدا د جونـګړې لـه وره سره واوريـده زړه يـې وكـړ ورټوپ كـړي چـې د چـا خنـدا ده ويـې

کتل یوه څوانه نجلۍ د لامبو په جامو کې ولاړه ده او خوله یې له خندا نه سره ورځي ۰۰)) ۰

دا یا لومړی پیل یوازني پیلونه نه دي دا صرف د بېلګې په توګه وړاندې شول۰ لیکوال کولی شي چې له نوي اړخ او زاوې یې وړاندې کړي۰۰ کېدی شي چې د لیکوال په اند ابراهیم سباناری ونه کړي او که د سباناري یادونه ضرروي وي امکان لري د خندا پر ځای د مرستې لپاره څوك ور ناري کړي، دی دودی پریږدي ورمنده کړي، کیدی شي چې د کوم مرغه ژغ وي چې ټول خلك له جونګړو سرونه وروباسي ۰

که پیل هر ډول وي باید لوستونکي وروکاږي۰

د دریم مثال لپاره لیکوال ته دا ویل پکار دي چې د ونو، ګلونو او مرغانو خبره پخوانی ستایل دی که لیکوال غواړي چې هرو مرو د طبعیت ستاینه وړاندې کړي له نوښته دي کار واخلي داسې چې نوي تشبیهات او استعارات دي کاروي هغه هم په دې شرط چې دا ستاینه د کیسې د موضوع د پرمختګ لپاره ضروري وي ۰

د کیسې پای که تر پیل قوي نه وي نو باید خامخا د پیل په څیر قوت ولري، څکه چې پایله لوستونکي ته وروستنۍ اغېزه څرګندوي داسې چې یا کیسه خوښوي او یا یې تر پام بدېږي او په لوستو یې پښیمانه کېږي۰

د کیسې پای باید په یو لوی تصادف ختم نشي ۰ لوی تصادف شاید لوستونکیو ته د ملندو ښکاره شي هغه ممکن له معجزې پرته پېښ نه شي. او معجزې زمونږ د ورځني ژوند برخې نه دي ۰۰ د لوی تصادف پایله داسې وي لکه پدې مثال کې:

((۰۰ سناء ځای پر ځای داسې ولاړه وه چې ته وا له لاسو او پښو یې ساه ختلې ده، د میره په لاس کې یې چاړه برېښیده ورو ورو ور نژدې کیده۰۰

ـ اوس به دې ساه وخیژي ۰۰ اوري که نه ۰۰ تنده به مې ستا د مردارو وینو په لیدو ماته شي ۰۰حلالوم دي، عذا ب کشه کوم دي ۰۰ اوس راته وایې چې لندور دی چېرته دی۰۰ وایه که نه؟؟

ميرہ لاخبرې کولې چې نيمه کوټه راچپه شوه يو لوی لرګی يې په سر ولګيد بې هوشه يې کړ ۰۰ او ښځه يې بچ شوه!)) پدغه ډول پای لوستونکی ملنډې وهي ۰

يو شمېر ليکوال ډيرا پيچلي موضوعات را اخلي او کيسې ترې جوړه وي او په پای کې ډيرا خپل کرکترونه وژني ۰۰ دوی دا کار ځکه کوي چې مرګ له يوې پيچلې غوټې د خلاصون اسانه لار ده۰ ليکن غښتلي ليکوال پوهېږي چې څنګه يو منطقي حل چې ګڼ معقول دلايل د هغه د پېښيدا لپاره وي انتخاب کړي، هان که دا پايله د لوستونکي لپاره نااشنا انجام هم وي ۰ که چېرته يو دم يو نااشنا انجام منطقي معقول دليل ولري نو دا لاښکلې پای ګڼل کېږي۰

کله چې ليکوال داسې پايله کيسې ته وموميي له نور تفصيله دي لاس واخلي ۰ تر پای وروسته ليکنه د کيسې اغېزه کمزورې کوي او خرابه وي، مهمه دا ده چې پايله غښتلې وي ـ د منلو وي ـ که امکان ولري لوستونکی هيښ کړي اويا يې حداقل راضي کړي ۰۰

دا سمه نه ده چې په پای کې داسې ووايو ۰۰

(( محسن له هغې خندانې جنۍ سره واده وکړ۰ هغوی اوس ډېر سره خوشاله دي که څه هم کله نا کله خبر سره اړوي ۰۰خو دا مخالفت داسې ايسې لکه د ډوډۍ مالګه د دوی مخالفت د ګډ ژوند مالګه ده چې له هغه پرته د مينې خوند کمېږي، د دوی مينه هغه وخت ډيرا غبرګه شوه چې لومړی زوی يې وزيږيد، محسن په کار کې ډېرې رتبې واخيستي او سناء يو بل راز له ځان سره خوندي کړی دی ۰۰ داسې راز چې يو وخت به يې ورته وايي ۰ او هغه به بې له شکه ډېر خوشاله شي ځکه چې هغه ډېر کوچنيان خوښوي۰۰)) ۰

دا ډېر کمزوری او خراب پای دی که څه هم واده دی، خوشالي ده، کوچنيان دي، خو ښه يې نشو ګڼلی۰

په هيڅ ډول نقاد نوي ليکوال ته دا خبر نشي په نخښه کولی چې بس کيسه پر دې ځای ودروه ۰۰ ليکن مبتدي ليکوال کولی شي چې په سلګونو اوزرګونو نړيوالې ښې کيسې ولولي ترڅو پوه شي چې کله او څنګه کيسه ختمه کړي ۰

# د کیسې غوټه

د کیسې د چوکاټ درې بنیادي ستنې غوټه ټکر او د پایلې په لور یون په تیرو پاڼو کې وڅیړل شو. غوټه په دغو دریو ستنو کې تر ټولو مهم اړخ دی. او بیا هم دا تکرار و چې غوټه عادتاً په ترکیبي کیسو کې وي ځکه چې د دې کیسو لارې تر پایلې مخته یا په منځ کې سره اوبدل کیږي. او د تحلیلي کیسو لارې عادتاً یو لور ته متوازي پرمخ ځي او په پای کې داسې سره یو ځای کیږي چې تلوسه یې هم خوندي کړې وي. له همدې امله تحلیلي کیسه تر ترکیبي یوې ډېرې تجربې، خوارۍ.. ته اړه ده.

کله چې لیکوال د کیسې موضوع او هغه کرکتر چې د کیسې پېښې تر هغه راچورلي ومومي بیا د غوټې وار راځي مثلاً که لیکوال وغواړي یوه کوچنۍ پانه چې پر مځکه پرته ده د کیسې موضوع کړي او یا له همدې پاڼې د مینې کیسه جوړه کړي چې په واده ختمه شي یا بله پایله ولري..

پدې او دې ته ورته موضوعاتو کې څو کرکتره لوبیدی شي لیکوال له دغو کرکترو یو کس د اصلي کرکتر په توګه ټاکي دا ټاکنه خیالي او په خپل سر نه وي بلکه لیکوال یې له هغو ګڼو کرکترو انتخابوي چې پېژني یې، سم یې پېژني، په بشپړه مانا یې پېژني که دا کرکتر ښځه

وي که سړی پروا نلري خو شرط دا دی چې لیکوال یې ژوندی او روښان انځور کړي ٠٠ که لیکوال د مځکې پانې په کیسه کې اصلي کرکټر یو ځوان سړی وټاکي او موسی یې ونوموي ٠٠ دی باید د دې زلمي د ژوند له ډېرو شیانو خبر وي ٠٠ د ده له ستونزو، غوښتنو، امیدونو، ځانګړې ژوندە، په ټولنه کې د ده له روله او په کلي ډول د کرکټر انځورونې له درې ګونې خوا ( اجتماعي اړخ، خارجي اړخ او داخلي اړخ" د کرکټر په څېرکي کې په دغو دریو خواوو ژغیږو") خبر وي ٠

لیکوال موضوع او اصلي کرکټر وموندل اوس غواړي چې پر مځکې له پرتې پانې لنډه کیسه جوړه کړي نو څه به کوي؟ تر هر څه مخته باید کرکټر (موسی) ته یوه ستونزه پیدا کړي له همدې ستونزې غوټه جوړېږي اوهمدا غوټه کرکټر یو ټکر ته مجبوره وي چې پای لري ٠

لیکوال کیسه داسې پیلوي:

((موسی په لار روان و، فکر یې کاوه، دی هر وخت د ښار په پس کوڅو کې له بیرو باره لرې په سوچو کې ډوب روان وي ٠٠ که پوښتنه ترې وکړې چې څه فکر وړی یې، سر به دې خلاص نه کړي د عادت له مخې به درته ووایي " هر کار او هر شی راته بې مانا ښکاري ٠٠ ډېر وارې د واده او خود کشي فرق نشم کولی!" موسی ځان وژنه ډېره یادوي خصوصاً هغه وخت چې پیسې نلري ٠٠ خو له ځان سره داسې انګیري چې تر هر چا یې ژوند ته زړه کېږي، حتی که پیسې ښخې پرې ودریږي ، او ټول خلك ځان ووژني، دی خو لېونی نه دی چې خود کشي به کوي ٠٠

لکه څنګه چې په نیستي کې د خود کشي خبرې کوي په هستي کې بیا دی، دی او واده خو د عمل سړی نه دی جیب یې ډك شي بیا خالي شي خو څه ونه کړي.

ده شونډې سره ټولې کړې وې ورو ورو شپیلکی یې کاوه څوك نه پرې پوهیدل چې جیب یې ډك دی که تش ځکه چې په بې پولي او

پولداري کې یې سرکښته اچولی وي او نن یې هم لاندې کتل که هر څه و خو دی نه پوهیده چې سر ګذشت به یې په سړك پرتې وړې پاڼه کې کښل شوی وي..)

دا امکان لري چې کرکټر د پاڼې څنګ ته تیر شي او ورواېې نخلي څکه دا د ده کار نه دی چې پاڼې ټولې کړي خو پداسې حالاتو کې د تقدیر رول ضروري دی ( څنګ ته یې موټر تیر شو چکړې یې باد کړې رنګیدلي بوټان یې په خټو ور ولړل · موسی موټر ته بد بد وکتل، بیا خپلو بوټانو ته خیر شو، هلته لرې یوه پاڼه پرته وه هغه یې راوا خیسته چې بوټان پاك کړي..) امکان لري چې بوټونه پاك کړي او هغې ته ونه ګوري خو دا هم کیدی شي چې پر پاڼه په غټو تورو پنځه عدده څنګ پر څنګ کښل شوي وي او دی پوه شي چې پنځه عدده خو د ټیلفون شمیره ده ·

مبتدی لیکوال چې کیسه د ټیلفون تر شمیرې راورسوي له دوو لارو یوه انتخابولی شي - یوه هغه ده چې لوستونکی هېښ کړي او له ځانه وپوښتي چې نو بیا؟ دالار ځني لویدیځوال تعقیبوي مثلاً لیکوال پورتنی کیسه داسې ختمه کړي ··

(موسی پاڼه وراخیسته، مخته تر دې چې سم ورته وګوري غوړګې یې وتښتیدل، سر یې وګرځید · بیرته په خود شو، پاڼه یې جیب ته کړه، د کور خواته رهي شو شاوخوا یې ځارله واده او خودکشي یې هیر شول خوله یې پټه نیولې وه، شپلکي یې نه وهل هڅه یې کوله چې ژر تر ژره ځان کورته ورسوي ·

په کور کې یې پاڼه له جیبه راویسته، د اورلګید خلی یې ورته ونیو په کاغذ د اور لمبې بلې شوې، داړې یې جنګې کړې، ژوره ساه یې واخیسته، د پاڼې ایرې یې دستشوي ته واچولې او اوبه یې پسې خوشې کړې·· په چوکۍ کې اوږد وغزید ،سګریټ یې بل کړ تر شونډو لاندې یې وویل:

_ خدایه شکر ··

په پاڼه کې څه و؟!)·

پدې ډول موسی د قتل خبر کوي پرته له دې چې سر یې افشا کړي!
دا ډول غوټه ځني لیکوال د لوستونکیو د حیرانتیا او تعجب لپاره خوښوي خو یو شمېر لیکوال بیا نه غواړي چې لوستونکی په داسې یو مشوش حالت کې پرېږدي نو هغوی غوټه داسې سپړي چې (موسی د ټېلفون نمره ووهې ۰۰ دی له بل لوري یو پوست ښځینه ژغ واوري ۰۰ د زړه دربا یې زیاته شي ۰۰ نه غواړي د دې خواږه ژغ ښتنه خبرې بندې کړي، د زړه په زور ورته وایي:
- سناء جانې وبخښه لږ ناوخته شوم ۰۰ که خیر و په همدغه وخت به سبا سره وګورو-
- سناء څوك ده ۰۰ تاسو څوك پکار دي ؟
ـ سناء منا پرېږده ژغ مو ښکلی دی ـ
پسته خندا اوري ۰۰ دی په چورت کې شي، ژر ووایي :
ـ واه ۰۰ پوهېږې چې خندا دې څه راپه زړه کړه؟
ـ څه ؟!
ـ یوه ټوکه یې راپه زړه کړه نن ګهیځ مې واوریده ۰۰ که دې خوښه یي در اوروم یې؟
ـ ولې نه ۰۰)
موسی د خواږه ژغ په اوریدا خبرې پیلوي او غوټه په دې ډول یوحرکت پیدا کوي ۰۰ تلوسه اوج ته رسي بیا مخ په ځوږ د پای لور ته یون کوي ۰
لیکوال کولی شي چې یوه لار تعقیب کړي پرته له دې چې څو وړې لارې خپلې کړي او بیا یې پای ته ورسوي ۰۰ د دې برعکس هم پر مخ تلی شي، داسې چې څو وړې لارې له اصلي غوټې سره یو ځای کړي لکه په ټېلفون کې پوست ژغ د موسی د شعبې د رئیس د ښځې کړي، یا د ده د کور دمالکې وي، او یا یوه ښځه وي چې بیا یې له ده سره لار جوړه شي ۰۰ یا وروسته ښکاره شي چې دا ژغ د یوې نا جوړې یا بدرنګې ښځې دی، اویا د ټېلفون شمېره یې د تره د کور وي او د ده وریپام نشي ۰

خوخورا مهمه خبره دا ده چې لیکوال دې ګڼ تصادفات که منطقي او په اسانی د پیښیدا امکان هم ولري نه راوړي او ښه دا ده چې په یو تصادف بسنه وکړي، لکه د ټیلفون د شمېرې موندل، او یا حداکثر دوه تصادفه لکه شمېره او د رئیس د ښځې ږغ ۰

لکه څنګه چې مخته هم یادونه وشوه تصادف د کیسې اساسي توکی دی یو مخ لکه په ډوډۍ کې مالګه، لکه څنګه چې ډېره مالګه د ډوډۍ خوند خرابوي ګڼ تصادفات د کیسې خوند وړي ۰ ښه لیکوال تصادف داسې کاروي چې منطقي وي، طبیعي وي،مختنې پېښې ورسره تړلې وي، او راغلې پېښې ضروري وي بې هغوی چاره نه وي ۰

د دغسې یو معین موقعیت جوړېدا د کیسې غوټه رامنځته کوي چې دا غوټه په اصلي کرکتر پورې تړلې شوې وي، هغه کرکتر چې د کیسې پېښې ترې راڅرخي ۰ لیکوال که وغواړي کولی شي په لسګونو کیسې په هغو کسانو ولیکي چې پېژني یې او د هغوی درې ګونې خواوې ور معلومې وي ۰ لیکوال ته کله نا کله داسې انفعالات پیدا شي چې تر هغو یې زړه نه ارامیږي تر څو کیسه پرې ونه لیکي ۰۰ هغه کیسه چې غوټه یې له دغه انفعاله زیږیدلې وي ډېر کله تر هغې یوې چې لیکوال په خپله جوړه کړې وي کامیابه او ښه مانادارہ راځي ۰

د غوټې د موندلو یوه بله لار خوب دی دلته د خوبونو په اړه د فروید نظریه نه څېړو دومره وایو هغه لیکوال چې هر وخت د کیسې په موضوعاتو پسې ګرځي کولی شي خوبونه ورپه زړه کړي، او بیا د دغو خوبونو له څنو برخو یوه ښه غوټه تر لاسه کړي ۰

که مبتدي لیکوال هڅه وکړي نو بې شکه چې له خوبه یا له ویښې یوه نه یوه موضوع هره شپه پیدا کولی شي ۰

لیکوال باید هر وخت هڅه وکړي چې له یوې عادي پېښې ښکلې له تلوسې ډکه غوټه تر لاسه کړي او کیسه ترې جوړه کړي ۰ کله چې نوی لیکوال د لیکلو تکل کوي که د لاندنیو پوښتنو ځوابونه لري ډاډه دې وي چې د کیسې موضوع یې سمه او په زړه پورې ده:

۱ - آیا موضوع په داسې کیسې بدلېدی شي چې غوټه، ټکر او پایله ولري؟

۲ - آیا موضوع له اصلي کرکتر یا کرکترونو سره سمون خوري؟
۳ - آیا موضوع له ګڼو تصادفو جوړه شوې ده ؟
۴ -آیا موضوع پرته له کوم دلیله د چا په ضد ده ؟
۵ - آیا موضوع د چا د دیني معتقداتو، اخلاقي مبادیو او ښو دودونو په ضد ده؟!
۶ - آیا موضوع د خلکو له ذوق سره سمون خوري ؟
۷ - آیا کولی شئ چې موضوع تر لیکلو مخته نوره هم پسې ښه کړئ؟
۸ - آیا موضوع تکراري ده، مخته هم په همدې بڼه کښل شوې ده؟
۹ - تلوسه پکې شته ؟
۱۰ - آیا لیکوال ډاډه دی چې داسې څه یې نه دي موندلي چې څېرك لوستونکي ته د ملنډوښکاره شي؟

دا له ځانه پوښتنې د لیکوال لپاره خصوصاً د نوي لیکوال لپاره د کیسې تر لیکلو مخته ګټوري او ښې دي٠ او لیکوال باید دغو سوالو ته پریکړنده ځوابونه ولري٠ په ځان نقد په لنډه کیسې او نورو ادبي ژانرونو کې د بریالیتوب په لور یو ستر ګام دی.

# کرکتر

کیسه تر کرکتر راڅرخي، بې کرکتره کیسه نه مانا لري نه وجود، د کرکتر له دې لوی اهمیت سره سره بیا هم یو شمېر کمزوري او مبتدي لیکوال یوازې او یوازې د کیسې متن، پېښې او جوړښت ته پاملرنه کوي.

که متن دی که پېښه که جوړښت که کرکتر هر یو په خپل ځای ارزښت لري، خو کرکتر ته نه پاملرنه او د لوستونکي په ذهن کې یې تت تصویر کرکتر کمزوری او غیر واقعي ښکاروي. ډېر کله د تازه کار لیکوال د کیسې کرکتر د کیسې له خبرو اترو پېښو او د ځېرو له کړو سره سمون نه خوري او کرکتر یې داسې ښکاري چې پر پېښو ور تپل شوی وي.

د لنډې کیسې، اوږدې کیسې، سینما او ننداري کرکترونه یو ورږ دي، خو د لنډې کیسې کرکتر کښنه خورا خواري، تجربه او زیار غواړي، ځکه چې په لنډه کیسه کې د کرکتر کښنې لپاره ډېره زمینه برابره نه وي، د دې ګڼ علتونه دي، مهم یې د کیسې لنډوالی او د لیکوال د محدود زمان او مکان مجبوری دي.

د لنډې کسې لیکوال د اوږدې کیسې په څېر د کرکتر پراخ تصویر نه را اخلي او په تقریري جملو یې نه انځوروي، ځکه چې دا انځورېدا د لنډې کیسې له تکنیک سره سمون نه خوري او په کیسه ایز ادب کې زوږ تقلید دی.

نن سبا د لنډې کیسې لیکوال په فني لحاظ د خپلې کیسې کرکترونه له دننه انځوروي، یعني د کرکتر له فکره، سلوکه، د

چاپېريال لـه تجربې، د خـبرو لـه ډولـه او د هغـه د جسماني حركـاتو پـه واسطه لكه تـګك، د لاسونو خوځول، خندا، موسكا..

دغه انځورېدا پـه متـن، مكـالمې او پـه ټول فنـي جـوړښت كـې د ورو ورو ځركونـو پـه څېر وړانـدې كـېږي. دا ځركونـه لوستونكي تـه د كركـټر درې ګونې خـواوې روښانـه كـوي.

د كركـټر درې ګونې خـواوې:

۱- خـارجي اړخ.- د كركـټر ظـاهري بـڼه راښيـي.

۲- داخلـي اړخ.-- د كركـټر نفسـياتي او فكـري حـالت او لـه هغـوى زېږنده سلوك راښيـي.

۳- اجتمـاعي اړخ.- پـه ټولنـه كـې د كركـټر رول او د هغـه ټولنـيز موقعيت پـه عـام ډول راښيـي.

دا درې ګونـې خـواوې يـوازې د انسـاني څېرې لپـاره نـه بلكـې د كيسـې پـه هـر كركـټر صـدق كـوي، كـه هغـه نبـات وي كـه حيـوان او يـا جماد.

فرضـاً يـو ليكـوال غـواړي د يـوه حيـوان كيسـه وليكـي، ښكـاره ده چـې د حيـوان څېره خـارجي اړخ لـري. آيـا دا څېره داخلـي اړخ هـم لـري؟

دا خـبره ډېره روښانـه نـه ده كـه څه هـم د حيوانـاتو پوهـان پـه دې بـاور دي چې هر څلـور بـول ځانـګړې فكـر او خـاص نفسـاتي حـالت لـري. پوهـانو ځنې داسې سپي هم روزلـي دي چـې د رياضي جمع او منف كولـى شي او پـه دې وروسـتيو كـې خـو ډېر دا ډول سـپي د تلويزيـون پـه پـردو ښوول شـوي دي، كـه خـبر هـر ډول ده، خـو كيسـه ليكـوال حيوانـي څېره پـه خپـل فكـر كـاري داسې چـې ځان د هغـه پـر ځاى تصور كـړي او بيـا يـې انـځور كـړي.

مثـلاً د اس څېرې پـه وړانـدې كولـو كـې ليكـوال پـه عـام ډول د اس ژونـد او د اس د بـادار او نـورو اس سـوارو احسـاس د اس لـه نظـره انځورولى شـي.

پـه دې ډول كـه دا حيوانـي څېره رېښتونـې كـېدى نشـي، خـو بيـا هـم لوسـتونكي وركـاږي، هـڅوي يـې چـې هغـې تـه لـه يـوې نـوې زاوې ځېر شـي. كلـه ناكلـه ليكـوال لـه حيوانـي څېرې د يـو ځانـګړي هـدف لپـاره

استفاده کوي، لکه پخوانو چې به د باچایانو اعمال د زمري په بڼه تمثیلول.

د اس څېرې دریمه خوا یعنې اجتماعي اړخ د هغه رول راښیي دا راښیي چې هغه د څڅابنې وال دی که د بګۍ وال. په ژوبڼ کې پروت دی، که په پټیو ځري.

همدا ډول نباتي څېره که و نه ده، که ګل هر یو یې خارجي اړخ لري او په نفسیاتي او ذهني خواوو یې د لیکوال له تصوراتو پوهېږو.

اجتماعي اړخ د بوټي ځای څرګندوي، چې په باغ کې دی، که په پارك کې، په دښته کې لوی شوی که په پټي کې.

جماد هم همدا ور درې ګونې خواوې لري. یو له هغو لیکوالو چې د جماد درې ګونې خواوې یې ښایسته او روښانه انځور کړي دي، ډنمارکي لیکوال هانز کریستیان انډرسن دی.

دی د پخلنځي د لوښو کودیو په کیسو کې دیګ ژغوي، ملعقه یې د کفګیر په اړه سوچ کوي، د پخلنځي انبار له هغو شکایات کوي چې لاس پرې وهي. څوك چې دا ډول کیسه لولي، نو خامخا په زړه کې ور ګرځي چې د پلخنځي هر څیز ژوندی دی او ژغېږي.

اوس به د کرکتر درې ګونې خواوې په عمومي ډول وڅېړو.

خارجي اړخ

د کرکتر ظاهري بڼه څرګندوي دا راښیي چې کرکتر نارینه دی که ښځینه، وړوکی دی که لوی، روغ دی که ناروغ، ټیټ دی که جګ، ښایسته دی که خوږجن، کلیوال دی که ښاري، داسې نورې ډېرې ځانګړتیاوې او نخښې شته چې له ورا په کرکتر کې ښکاري.

دغه خارجي اړخ د څېرې په معرفي کې ډېر ارزښت لري. مثلاً لیکوال یو چاغ کرکتر چې د چا له مرستې پرته کښېناستی پاڅېدی نه شي او په ډېرې خوارۍ په یوه اړخ بل اړخ اوړي داسې نښې انځورولی چې یو دم له یو روان موټره لرې ټوپ کړي.

لیکوال دا کار هم هغه وخت کولی شي چې په کیسه کې منطقي دلایل ولري، مثلاً که همدا چاغ کرکتر د ځان وژنې نیت لري، یا د یو ستر جنایت له امله د نیولو له ویرې تښتي، نو په هغه حالت کې سلیم

فکر نه شي کولی او غریزه ده ته د تیښتي قوت ور بخښي. یا دا چاغ کرکتر په موټر کې ناست سورلي پورې وهي په دې حالت کې که د ده غریزه نه وي نو واك يې هم نه وي بلکه قوه يې تیل وهي.

دا مهمه خبره ده چې تازه کاره لیکوال د کرکتر د ظاهري بڼې مطابق کیسې ولیکي. که چېرې لیکوال د یو ځانګړي هدف لپاره اړ شي او داسې کیسه ولیکي چې د کرکتر ظاهري بڼه د هغه له تصرفاتو سره سمون نه خوري، نو بیا دې ډېره هڅه وکړي چې د لوستونکیو د قناعت لپاره لکه په پورتني مثال کې چې ذکر شو، له منطقي دلایلو کار واخلي او که نه د لوستونکي د خندا به شي.

داخلي اړخ

ډا ځرګندوي چې کرکتر عقده يې دی که بې عقدې، سم فکر کولی شي که بې فکره دی، پوه دی که ناپوه دا او داسې نور ټول نفسیاتي حالات د کرکتر په کړو او سلوکو اغېزه شیندي.

دا سمه نه ده چې یو ګوښه نشین سړی یو دم بې کوم منطقي دلیله ګوښه نشیني پرېږدي، ټوکي او جرګه مار شي.

منطقي دلیل باید غښتلی وي، کمزوری نه وي، لکه د ځینو عربي فلمونو کرکتر چې په هېڅ اړ نه وي، نه په غلا نه په شوکه نه په خپل نه په پل نه په کور او نه په کهول او چې یو زوی يې په کومه پېښه کې مړ شي، دی یو دم سم شي، ټول بد خوینه پرېږدي. دا ځکه ناسم دلیل دی چې په یو مخ بې لارې سړي کې پلارنی مینه داسې په اساني او ژر نشي را برسېره کېدی.

د دې فلمي کرکتر بدلون نورو منطقي دلایلو ته ضرورت لري، چې لوستونکي يې ومني.

که څه هم بشر په هر ډول اجتماعي، ذهني او نفسیاتي حالاتو کې له شر سره خیر هم لري، خو د دې خیر د ځرګندولو لپاره لیکوال بشري نفسیاتو ژورې تجربې او د غښتلي منطقي دلایلو وړاندې کولو ته اړ دی، څو په دې ډول لوستونکي ته د کرکتر بدلون طبیعي ښکاره شي.

یو شمېر لیکوال د کیسو کرکترونه یا ډېر ښه یا ډېر بد انځوروي. دوی دې ته پام نه دی کړی چې انسان په خپل ذات کې خیر هم لري او

شر هم. داسي خلك شته چې ښو ته يې مخه وي او داسې هم چې بدو ته يې پام وي، خو له پيغمبرانو پرته يو مخ ښه سړي او له شيطاناتو پرته يو مخ بد نه شته. په انساني ژوند کې هر وخت د شر او خير يو ټکر او مخامخېدنه وي او دا دنيا هداسې روانه ده.

اجتماعي اړخ

په دي اړخ کې دا جوتېږي چې کرکټر مامور دی، کاګر دی، بزګر دی، که زده کوونکی، شتمن دی، که نيستمن، کوچی ده که ښاری، ماموره ده که نه ده..

ښکار ده چې اجتماعي اړخ د کرکټر په انځوريدا او د هغه په سلوکو او کړو کې ستر اهميت لرلی شي مثلاً موږ نه شو منلی چې يوه کوچۍ دې د پوهنتون د ښوونکي په څېر فکر او سوچ وکړي، البته دا ډوه کرکټره ځينې يو شيان خصوصيات لري، لکه عاطفه چې په ښځو کې سره ورته ده.

که ليکوال کوچۍ داسې انځور کړي چې په خپل مېړه ولاړه وي او د پوهنتون استاده په خپل مېړه او پايله داسې راشي چې په دواړو يو ړ مېړه ګران وي، نو پروا نه کوي، خو په دې شرط چې د استادې او کوچۍ تصرفات يو ډول نه وي.

د دې خبرې مطلب دا نه دی چې کوچۍ دې کوچياني غيرت لري، خپل خاوند دې وهي او هغه دې ورته غلی وي او استاده دې مېړه ته ښکاره وعظ او نصيحت کوي.. بلکې هره يوه بايد د خپل مقام، نفسياتو او چاپېريال مطابق د عمل ابتکار ولري. ليکوال بايد دا هر څه په منطقي دلايلو وړاندې کړي، داسې چې لوستونکی قانع شي، چې کرکټر طبيعي وړاندې شوی دی.

په پای کې به هغه ټکي وړاندې کړو چې مبتدي ليکوال تر کرکټر کښنې مخته ورته پام وکړي:

۱- درې ګونې خواوې بايد د ليکوال په ذهن کې واضح وي.

۲- کرکټر بايد تر انځورېدا مخته په بشپړه توګه مطالعه کړئ.

۳- د کرکټر سلوك او کړه دې له درې ګونو خواوو سره منطقي تطابق ولري.

۴- که د یو ځانګړي هدف لپاره لیکوال مجبور شي، چې کرکټر له درې ګونې خوا سره مخالف وړاندې کړي، نو د لوستونکي د قناعت لپاره دې منطقي دلایلو ته پام کوي.

۵- لیکوال دې کرکټرونه د شطرنج د دانو په څېر په خپل فکر او خوښه دورې هورې کوي نه ژوند دې یې پرېږدي.

۶- لیکوال دې هر وخت یاد لري چې بشر په خپل ذات کې ښه او بد لري، هېڅ کرکټر نه یو مخ ښه کېدی شي او نه یو مخ بد پدی.

۷- لیکوال دې کرکټر داسې نه انځوروي چې د ده د کیسې تر نورو کرکټرونو دې یې پېچلتیا بیخي محسوسه وي.

۸- ځان دې د کرکټر پر ځای وګڼي او د کرکټر له حالت سره سم دې په منطقي ډول فکر او اقدام وکړي.

د کرکټر انځورېدا د ارواپوهنې په باب معلوماتو ته اړتیا لري چې کرکټر کښښنه په منطقي ډول تر سره شي.

# د نثر اسلوب

کیسه ایز نثر له مقالې، درسي ادبي بحث، علمي بحث او اخباري نثر سره ډېر توپیر لري ۰

تر ډېر حده د کیسې بریاوې په نثر پورې تړل شوي دي ۰۰ که هر څومره د یوې کیسې موضوع ښکلې، ښایسته او په نورو تخنیکي خواوو پوره وي ګډوډ، کمزوری او وچ نثر دا ټول ارزښتونه له منځه وړي او د لوستونکیو د لوستو مخه نیسي، که لوستونکی کیسه هم ولولي په پای کې به وایي چې لیکوال مطلب سم نه دی رسولی ۰

لکه څنګه چې وچ، کمزوری او ګډوډ نثر په فني توکو پوره یوه په زړه پورې موضوع خرابه وي، همدا راز له بدیع او بیانه ډک اسلوب د کیسې د یوې ښکلې موضوع ښکلا چې پر نورو کیسه ایزو عناصرو پسولل شوې وي له منځه وړي ۰

ددې خبرې مطلب دا نه دی چې کیسه لیکوال او خصوصا نوی کیسه لیکوال دې څنې بلاغي محسنات لکه تشبیه، استعاره، ایهام او داسې نور نه کاروي ۰ لیکوال دې دا محسنات د لفظي قوت او ځان ښکارونې لپاره نه استعمالوي که داسې کوي نو لیکوال په ذوقي لحاظ د منځنۍ پېړیو سړی دی هغه وخت چې تر مانا لفظ مهم و ۰

که چیرته بدیعي او بیاني محاسن په یوه کیسه کې دموضوع د لا روښانتیا، ایجاز یا په یوه خاص مطلب باندې د تاکید لپاره په کاریدی شي نو د ضروري توکي په توګه باید ورته پام وشي ۰۰

د کیسې نثر لوستونکي ته داسې ایسي لکه کمیس، کلمات هغه بخیو ته ورته دي چې همدا کمیس ترې جوړ شوی دی .

په نولسمه پیړۍ کې بورژوازان په جامو ډېر تپیدل جامې به یې له بخیو ډکې وې د هغه وخت اکثر لیکنې د همدې جامو په څیر له ظاهري ښایسته مالامال وې . نن سبا لکه څنګه چې په ساده جامو او ساده ګي کې ښایست نغښتی وي همدا ډول د تنګ او لنډ وخت له کبله لوستونکي ساده ګي خوښوي د مانا دپوهیدا لپاره دومره وخت نلري چې د بلاغي او بیاني محا سنو له لارې د مانا په رمازه ځان پوه کړي .

نوی کیسه لیکوال د وخت له تقاضا سره سم خپله لیکنه لوستونکي ته د نوي کمیس په څیر ساده، ښایسته، په زړه پورې او د لوستونکیو له غوښتنو سره سمه وړاندې کوي .

لیکوال په تیره بیا نوی کیسه لیکوال دې په لیکلو کې له پیچلتیا ډډه وکړي، پیچلي اسلوب غالباً هغه څوك کاروي چې یا په اصلي مانا سم نه وي پوه او یا د کهتري ښکار شوی وي ګومان کوي چې لا سم لیکوال نه دی نو ځنې جملې وړاندې وروسته کړي، متروك او زېږه الفاظ استعمال کړي چې لوستونکي د ده په ناپوهې او کهتري پوه نشي . اسان، روان، روښان او په زړه پورې اسلوب تر پیچلو او کلیشه یې لیکنو ډیره خواري اوزیار غواړي . اسانه کیسه ایز اسلوب هغه اسلوب دي چې انشایي اسلوب په کې مراعات شوي وي، کلمې یې واضح، جملې یې لنډې له تجنیسه خالي روښانې او په عین حال کې په غوږو داسې خوږې لګي لکه د موسیقي یوه خوږه پارچه چې څوك اوري دې اسلوبو ته (سهل ممتنع) وایي .

د ګرډود یادونه ځکه اړینه نه ده چې څوك قلم رااخلي اود لیکوالي چم کوي نو باید له ګرامر سره اشنا وي .

یو شمېرنوي لیکوال هڅه کوي چې په عامیانه او بازاري ژبه لیکل وکړي، هره عامیانه کلمه اصلي بڼه لري غیر له هغو الفاظو چې له نورو ژبو راغلي دي .

کله نا کله غیر فصیح کلمه تر فصیح یوې ډېره موثره وي هغه وخت بیا د همدې مترادفې کلمې کارول ضروري دي په دې شرط چې افراط ونشي او ضرورت ته پام وشي.

په مکالمې کې د عامیانه ژبې کارولو ته د (مکالمې) په برخه کې اشاره شوې ده.

په یوې ښې لیکنې کې د املایي نخښنو مراعات ضروري دی، متاسفانه یو شمیر لوی لیکوال دې ته پام نه کوي او ځنې نوي د هغوی پیروي کوي پدې پیروي کې داسې هم شوي دي چې نوی لیکوال د فعل، فاعل، مفعول او مضاف او مضاف الیه تر منځ ټکي کېږدي.

ښه به دا وي چې د خپل بحث د بشپړیدا لپاره دلته په لنډو د املایي نخښنو یادونه وکړو:

ټکی ((.)) د لنډې او اوږدې جملې په پای کې ایښودل کېږي.

کامه ((،)) یوه مرکبه جمله په لنډو جملو ویشي پرته له دې چې د فعل فاعل، فاعل مفعول، مضاف مضاف الیه او صفت ... منځ راشي.

سیمي کولن یا هغه کامه چې ټکی لري ((؛)) د اوږدې مرکبې جملې تر پای مخته راځي اود ا جوتوي چې یو څو کلمې لا د جملې پای ته پاتې دي.

ځنګ په ځنګ ټکي ((..)) دوه جملې سره ویشي، داسې دوهمه جمله د لومړۍ یوې د تاکید او یا تکرار مانا ورکوي. په مکالمه کې د دریدلو او بیا وریادیدلو لپاره پکاریږي.

لاندې باندې ټکي ((:)) د جملې په پای کې مکالمې ته د انتقال لپاره کښېښل کېږي.

د ش ((ـ)) د مکالمې په سر کې راځي او د ویونکي د نوم ځای نیسي همدا راز د خبرو اترو د جملې په پای کې چې ویونکي د یو څه لپاره خبره پرې کړې لیکل کېږي.

لرې دشونه ((ـ ـ)) معترضه جمله د دغو دوو دشونو تر منځ لیکل کېږي.

وړې لیندۍ (( ( ) )) د مختنی جملې د مانا وضاحت په کې لیکل کیږي ·

غبرګې لیندۍ (( (( )) )) په متن کې د مثال لپاره پکاریږي · په همدومره املایي نخښو به بسنه وکړو ·

اوس به هغو ټکیو ته نغوته وکړو چې مبتدي لیکوال د لیکلو په وخت باید هرومرو پاملرنه ورته وکړي :

۱ـ نثري اسلوب دې له کیسې او په کیسه کې له هرې پېښې سره مطابق وي · ان وصفي اسلوب دې وکارول شي ـ په ډېر احتیاط ـ که له پېښې سره سمون خوري · مثلاً که هیرو او هیروینه له وېرې یوې ښکلې ګوښې ته پناه وړي هغه وخت په احتیاط د طبیعت ستاینه پروا نلري · دا په احتیاط ستاینه له کیسې سره مرسته کوي، د کیسې اصلي بڼه روښانه کوي او له موضوع سره تطابق کوي ·

۲ـ ځنې لیکوال جملې تکرار وي، تکراري الفاظ رااخلي، زیرک لیکوال پوهیږي چې تکرار لوستونکي ستړي کوي او کله نا کله ریشخند ورته ښکاري خندوي یې ·

۳ـ د یوه ستر لیکوال لیکنه لکه د توفیق حکیم اسلوب هم تر یوه حده د تقلید وړ وي یو مخ پیښې کول له لیکواله د لویو لیکوالو یوه مکرره نسخه جوړ وي حال دا چې لیکوال باید په خپلواسلوبو کې خپل هنري شخصیت حفظ کړي ·

۴ـ د لیکلو په وخت له بې خوندو سولیدلیو او کلیشه شویو کلمو ځان ساتئ اوپوره پوره هڅه کوئ چې مطلب وا ضح او ځرګند وي ·

۵ـ ښه دا ده چې یو مطلب په لږو الفاظو افاده شي · یعنی څومره چې کیدی شي یوه جمله په لږو کلماتو ولیکل شي · ددې مطلب دا نه دی چې د تلګراف په څیر لیکنه وکړئ ، یا د خپریالانو له شارټ هنډه کار واخلئ، بلکه د هرې هغې کلمې لرې کیدل په کار دي چې د مطلب په روښانه کولو کي مرسته نه کوي او لوستونکي نه جذبوي ·

۶ـ یوې موضوع ته اشاره کول او یو مطلب لوستونکي ته په ګوته کول ویاړلي اسلوب نه دي، کیدی شي چې داسې لیکنه د لوستونکي

زړه په تنګ کړي ځکه چې لوستونکی داسې وضاحت غواړي چې ستا له اشارې پرته پرې پوه شي.

۷_ کیسه داسې لیکئ لکه له یوه ګران ملګري سره چې خبرې کوئ، ځکه چې دا ډول اسلوب په لوستونکي کې د ملګرتیا احساس پیدا کوي ګومان کوي چې ته یې ملګری یې، د هغه لپاره لیکنه کوې، او ته دا هڅه نه کوې چې خپله استاذي وروښیې.

۸_ د لیکنې پر وخت له قلم سره مینه کوئ ۰۰ قلم پرېږدئ چې افکار مو په اساني بیان کړي، له قلمه کلنګ مه جوړ وئ چې په زور څه پرې وکړئ ځکه چې زور ستاسو اسلوب له سادّه ګي، نرمي او ژوندۍ تشوي ۰

۹_ د یوې غمجنې پېښې په لیکنه کې له عادي اسلوبو کار مه اخلئ، که تاسو په یوې جدي پېښې کې جدي ونه اوسئ داسې به ښکاري لکه په یوې غملړلې سینمايي پېښه کې چې په کټکې خاندئ ۰

۱۰_ تل هڅه کوئ چې کلمات مو ټاکلې مانا ولري ۰ خبره مه اوږدوئ ۰

# مکالمه

ځرګنده ده چې مکالمه د لنډې او اوږدې کیسې یو مهم توکی دی٠ که په اوږده کیسه کې د مکالمې اصلي موخه د کرکټرونو په ژبه د لیکوال د غوښتنو وړاندینه وي، نو په لنډه کیسه کې د دې عنصر اصلي غرض د موضوع پرمختګ دی٠

په دې هدف سربیره مکالمه نورې ثانوي موخې لري چې هغوی هم د کیسې د ښه والي تر پرمختګه لږ ارزښت نه لري٠

۱- خبرې اترې د هغه یك نواخته متن وړ وربدلوي چې پرله پیسې راځي دغه بدلون لوستونکی اسوده کوي د هغه دمه جوړه وي او ستړیا یې ورکمه وي٠ ډېر کله لوستونکی تر لوستو مخته د کیسې پاڼې اړوي رااړوي خصوصاً د اوږدې کیسې که د هغوی په دغو اړول شویو پاڼو کې مکالمه ډیره وي نو ډاډه اوسئ چې کیسه په مینه لولي٠

۲- خبرې اترې د کرکټرونو په انځورولو کې مرسته کوي، ځکه چې لوستونکي ته کرکټر تر هغو روښان او ژوندی نشي ښکاره کیدی چې د هغه خبرې وا نه وري٠

۳- مکالمه په کیسه کې د یوه ځانګړې موقعیت په انځوریدا، او د یوه عاطفي ټکر، یا نفسیاتي حالت په راښوولو کې مرسته کوي٠

۴_ خبرې اترې د کیسې روح تازه کوي داسې چې کیسه لوستونکي ته لا ریښتونې په نظر ورځي٠

دا لاندنـي مكالمـه د مكـالمې د صفـاتو ډېرې برخـې رانغـاړي چـې مهمـه يـې د موضـوع پرمختـګ دی ٠

* * *

كله چې موټر لـه سورليو تشـيده د ابراهيـم پـام د دوو ځوانـو ښايسـته نجليـو ژغ پـه بلـه واړاوه٠

يوې يې وويـل:

ــ لـولا نـن شپه بـه سره ووينو كـه ـ

لـولا تـر خپلو اوږدو وريـځو لاندې ابراهيـم تـه سـترګې ور اړولـې وې، وې ويـل:

ــ شپږ بجې ( التبرزي ) تـه ځم، اتـه بجې ښخـې بـې كـاره يـم ـ

ــ نـو پـه ( كـازينو ) كې بـه سره ووينـو ـ

ــ دا د البوزيفـا چ كـازينو ښيـې؟

ــ هو نـو ٠٠

لـولا اوږده سـاه واخيسـته بيـا يـې ابراهيـم تـه سـترګې ورواړولـې او وې ويـل:

ــ ګوره يـوازې بـه يـو، ډېرې بـه سـره نـه كينـو ـ

ابراهيـم پـوه شـو چـې دی پـه غـوږ وهـي، او ده تـه پـه كـازينو كـې د اتـه بجو وعـده وركـوي٠

* * *

دغـه لنـډه مكالمـه ګڼ خصوصيـات لـري٠

يك نواختـه متـن بدلـوي٠

موضـوع پرمـخ بيـايې، ځكـه چې ابراهيـم پـه دغـه كيسـه كـې د دوی د وعدې ځای تـه لـه خپـل ملـګري سـره ځي ٠

د دواړو نجليـو د كركـتر پـه را پـېژندلـو كـې مرسـته كـوي ، دا مكالمـه موږ خبروي چـې دوی فاحشـې دي سـړي غلطـه وي ٠

د نجليـو لـه داسـې سـړي سره ليـدل كتـل چـې څه شـتمن ښكـاري يـو ځانـګړی موقعيـت جـوړ كـړی دی، پـه پورتنـۍ مكالمـه كـې دغـه موقعيـت انـځور شـوی دی٠

اوس بـه ديـوه نفسـياتي حـالت د رابنوولـو لپـاره يـوه مكالمـه وړانـدې كـړو ٠

* * *

مثلا د وفـا حـالت ٠

ښځې ژړل، عبـاس ورتـه وويـل:

ـ سل واري مې نه دي درتـه ويلي چې ميـړه دې پـه درد نـه خـوري ـ

ښځې رومـال سترګو تـه ونيـو ژر ژر يـې وويـل :

ـ هو، باور مې نه و چې داسې بـه هـم كـوي ٠ تنـها بنديخانـه يـې بس نه ده! څنګه يـې پښې ورتلې چې د شـركت مـال يـې غـلا كـاوه او پـه يـوې ارزانبيه رقـاصې يـې لګاوه ـ

ـ اوه ٠٠ عباسـه بس كـه ٠٠

ـ پـو ! لا دې زړه پـرې سـوځي ٠

ـ څه وكـړم ـ

ـ نور بـه يـې لا څه كـول ـ

ـ كاشكې د ده پـر ځاى زه بنـدي واى ـ خـاوند مـې دى، د كـوچنيـانو پلار دى، هغه كلونـه مې نه هيريـږي چې سـره يـو ځاى و لا بـې لارې نـه ٠

* * *

دا ډول د نـورو نفسـياتي حـالاتو ډېر مثالونـه شـته چـې د ټولـو راوړل خبر تر ټوكونو اړوي نـو پـه همدې يـوې ببلګې بـه بسـنه وكـړو ٠

* * *

پـه كيسـه كـې د مكـالمې ارزښت خـورا ډېر دى ٠ داسـې ډېرې كيسـې شـته چې ټول بريـاليتوب يـې د كركـترونو پـه خبرو اتـرو پـورې تـړل شـوى وي ٠٠ مـاهر كيسه ليكـوال هېڅكلـه مكالمـه كـټ مـټ د عوامـو د خـبرو اتـرو پـه څيـر نـه وړانـدې كـوي ځكـه چـې خلك عادتـا مشـخصې او هـدف داره خبرې نـه كـوي بلكـه لـه يـوې موضـوع بلـې تـه بـې لـه كومـې ځانګړې موخـې ټوپ وهـي ٠ خـو تكـړه ليكـوال پـه كافيـانو، كورونـواو يـا بـل هـر ځاى كـې خـبرې اتـرې اوري، دقـت ورتـه كـوي او د كيسـې د مكـالمې لپـاره د كـار خبرې غـورچـاڼوي ٠

بې هدفه خبرې په لاندنې مکالمه کې د الف ـ ب ـ ج ـ تر منځ ورانـدې شـوی دي :

الف ـ ښکا مې سخته فلم ولید ـ

ب ـ دشاه رخ خان وال ٠٠

الف ـ نه ٠٠ ته ښکا چیرې وې، تلیفون مې درته وکه پیدا مې نه کړې ـ

ج ـ بس راغی ـ ډېر ډك ښکاري ـ

الف ـ دغومره جای خو به یې سي په کې جای سو ـ

ب ـ رشتیا د فلم کیسه دې کوله ـ

الف ـ پریژده یې ـ ما هسې ویل سي ته دا راته ووایه سي ته چیرې ځې.(۱)

***

د دغو دریو ملګرو الف ـ ب ـ ج ـ تر منځ خبرې اترې بې له کوم ترتیب او ځانګړې هدفه پر مخ ځي٠ خلك د عادت له مخې دا ډول مکالمه کوي او یا لنډ لنډ ځوابونه یو بل ته ورکوي لکه میرمن چې خاوند ته ووایي:

ـ ډوډۍ تیاره ده ـ

ـ ښه ٠٠ اوس ٠٠

یا لکه د دفتر مشر چې یوه کشر مامور ته ووایي :

ـ ها پرون چې مې درته ویل د هغه دوسیې کارونه مې خلاص کړل٠

ـ صاحب ٠٠ هو صاحب ٠٠

د ډوډۍ او دوسیې په څېر مکالمه کله لږ اوږده شي خو غالباً نورو موضوعاتو ته نه اوړي.

د خلکو خبرې اترې ټکي په ټکي را نقلول په کیسه کې د رښتونې ژوند استازیتوب نه کوي بلکه هله دا خبرې رښتونې ښه خپله وي چې لیکوال یې وچنې، ویې تلي، سمې یې کړي او په هغه لیکه یې وربرابرې کړي چې د کیسې له پېښو سره سمون خوري، دا کار باید

---

۱ - ښلګه د ژباړن ده.

لیکوال په داسې مهارت وکړي چې لوستونکی ګومان ونه کړي چې مکالمه په کیسې ورتپل شوې ده، اضافي ده، او یا له کرکتر سره مطابقت نه لري ۰

مبتدي لیکوال باید د مکالمې له هغو تیر وتنو ډډه وکړي چې نورو لیکوالو تر ده مخته د مکالمې د قواعدو له زده کړې او لوستو پرته کړي دي.

لیکوال باید لاندنیو ټکو ته پاملرنه وکړي :

۱ - مکالمه باید له ضمني مانا تشه نه وي مثلایو زلمی چې په یوې پېغلې مین وي هغې ته داسې ونه وایي:

ـ ښېخې ډېره راباندې ګرانه یې، زړه مې دی چې واده درسره وکړم ۰

ښایسته او مناسبه داسې ده چې هغې ته ووایي :

ـ چې ته نه یې زړه مې په تنګ وي ۰۰ زړه مې دی چې یو ماښام ډوډۍ وکړم د ژوند له ملګرې سره یې وخورم ۰۰ څنګه خوښه دې نه ده!

په دغو لاندنیو جملو کې رقت، او شاعري شته، د دغه عاطفي وړاندې کول په شاعرانه انداز کې یو ضرورت دی خو کله چې دوه کسه سره څه شخړه لري اویا په یوې خبرې سره نه جوړېږي، اویا د دوو دوستانو تر منځ عادي خبرې اترې کېږي نو طبعي خبره ده چې هلته د رقیقو الفاظو کارول ناسم دي ۰

۲ - په مکالمه کې له بیانې ډډه کول ضروري دي ، لیکوال باید کرکتر داسې انځور نه کړي چې له هغه ویاند جوړ کړي یو لاس یې سپوږمۍ ته نیولی وي او په اخباري جملو د هغې ستاینه کوي ۰

۳ - هڅه مکوئ د الفاظو او جملو په ذریعه په مصنوعي طریقه د لوستونکي جذبات وپار وئ ۰

۴ - په مکالمه کې دې له متلونو او اصطلاحاتو ډېره استفاده نه کېږي داسې چې لوستونکی احساس کړي چې کرکترونه خپل بلاغت او فصاحت رانبیي.

۵ - د خبرو اترو یوه یا څو جملې باید یوه کامله ځانګړې فقره جوړه کړي یعنی هره فقره په نوې کرښه پیل شي څو مکالمه او متن سره یو ځای نه شي.

۶ - بهتره ده چې مکالمه د کیسې په منځ کې وړاندې شي او د هغې یو اساسي جزء وي داسې چې د مکالمې د یوې کرښې په لرې کیدا ټوله کیسه ګډه وډه شي ۰

۷ - نوی کیسه لیکوال دې په مکالمه کې عامیانه ژبه نه کاروي د عوامو د ژبې کارول تر فصیح ژبې ډېر ګران دي ۰ او خورا مهمه دا ده چې مختلفې لهجې ونه کاروي، ځکه چې بیا هرې لهجې ته پام کول به له لیکواله کیسه ګډه وډه کړي ۰

۸ - لکه څنګه چې مکالمه د متن یکنواختي کمه وي لیکوال باید د مکالمې د یکنواختي د مخنیوي لپاره تر دریو څلورو فقراتو اوږده مکالمه یو ځای وړاندې نه کړي چې له لوستونکي دوه کرکتره سره ګډ وډ نه شي ۰ هڅه دې وکړي چې د یوه کرکتر د خبرو یو وار تر دریو څلورو جملو وانه وړي څو په دې ډول لوستونکی د مکالمې هغه بل لورې هیر نه کړي ۰

۹ - لیکوال باید هڅه وکړي چې د مکالمې جملې تر وسه وسه لنډې او سریع وړاندې کړي ۰ لیکوال کولی شي چې د یوې اوږدې مکالمې جملې په څو کلمو کې ځای کړي دا ډول لنډ مفاهیم که تر شلو کرښو هم ورسیږي لوستونکی نه ستړی کوي ۰

۱۰ - د کیسې په مکالمه کې هڅه وکړئ چې لوستونکی د واقعي ژوند مکالمې احساس کړی شي ۰ په واقعي ژوند کې د خبرو اترو په وخت موږ ځنې کلمې نیمګړې تلفظ کوو بشپړ کوو یې نه، کله بیا درېږو ټکان خورو، کله بیا تایید کوو تم کېږو، یا یو څه بیا رایادیږي اویا مخته تر دې چې جمله بشپړه کړو درېږو ۰۰

اوس به ددغو مکالمو مثالونه وړاندې کړو:

۱_

الف ګومان مې کاوه چې ته _ ورك یې کړه، دا مهمه ده چې سبا بیا هلته راشې او _

ب او په هم هغه وخت!

دلته (الف) مخته تر دې چې خپله ټوله جمله ووایي( ب )یې وربشپړه کړي ۰

۲_

پرون مې محمود وليد ـ ملګرى دې محمود عبدالمجيد ـ وينو اول نوم اخلي بيا ورياد يږي او بشپړ يې يادوي ۰۰

۳_

الف  کله چې څارنوال په دې خبره کې راګير کړم قريب مې له خولې وروتلي و چې ما دا کار کړى دى ـ

بيا غلى شي او پسې ووايي:

ـ که وکيل ژر په خوله کې نه واى رالويدلى نو ـ

بيا يې اوږې وخوځولې او غلى شو ۰

په دې جملو کې مکالمه له لږ سوچه وروسته قطعه شوې او بيا پيل شوې ده. له دغه قطعه شوې جملې مانا واضح ښکاري او نورو جملو ته اړتيا نه پېښيږي ۰

۴_

خبريال د مشهورې هنرمندې ليدو ته ورغى ، هغه د هندارې مخته ناسته وه، خبريال ورته ووېل:

ـ سهار مو نيکمرغه ۰

ـ کېنئ ۰

هغې بيرته ورته ونه ويل چې ستا سهار دې نيکمرغه وي ۰ له لنډيزه يې کار واخيست او د کېناستو يې ورته وويل دا ځواب د هنرمندې په ځان ويسا او د دوى دواړو ترمنځ نه تکلف راښيي ۰

۵_

ـ پرون تياتر ته ولاړم چې د نيکمرغې ډرامه وګورم ـ

لږ غلي شو بيا يې پسې زياته کړه:

ـ له ډرامې وروسته کافي ته ولاړم چې ودې وينم ۰

دلته وينو چې يو ځل يوه خبره کوي بيا له لږ چوپتيا وروسته بلې ته توپ کوي ۰

۶_

ـ سوالونه ډېر ګران و، د نيمو ځوابونه مې ورکړل ـ

بيا يې پسې ووېل:

ـ خدای دې وکړي چې ځوابونه مې سم ورکړي وي ·

دغه زیاتونه له لومړی (( پنځم )) یوې توپیر لري دلته اوله خبره له لږ مکثه وروسته په بل عبارت وړاندې کېږي ·

۷ـ

ـ والله نه پوهېږم چې څه وکړم ·· هر څه ·· هر څه فکر چې په ـ په موضوع کې کوم ـ نور هم نا امیده کېږم ·

په دغه جمله کې ویونکی دوه زړی دی داسې څرګندیږي چې دی په خپله خبره باوري نه دی ·

۸ـ

ـ نن يې خامخا وينم ·· که په کور و که په دوکان که هر ځای مې ګیر کړ ··

ویونکی د بل د خامخا لیدو لپاره په خپلو خبرو ټینګار کوي چې هرو مرو به يې ويني ·

۹ـ

الف زما په فکر باید ښځه د ژوند ټول حقوق تر لاسه کړي ·

ب ولې څه حق يې خوړل شوی دی؟

الف هو ·· مثلا ټولې لیکنې باید هغې ته متوجه کړو!!

پدې مکالمه کې ویونکی د ښځو په اړه واحده خبر نه کوي ·

۱۰ـ

الف بخمل ته مې يو چارك غوښه واخيسته ـ

ب بخمل؟

الف تازي ښيم په خپل تازي مې بخمل نوم ايښی دی.

دلته ویونکی بې پامه د خپل سپي نوم اخلي · خو کله چې بل ترې پوښتنه وکړي، دی ورته خبره شرحه کړي · په یوې اغېزمنې مکالمې کې بې له دې چې مخاطب د بخمل په اړه پوښتنه وکړي متکلم په خپله بخمل وښيي.

۱۱ـ

الف پرون مې ولیدې له لور سره روان وې ··

ب لور سره؟!

الف ښه ښایسته وه۰۰ که مې واده نه وای ـ

ب های۰۰ های ۰۰ میرمن مې وه ۰

په دې مکالمه کې له الفه خبره چړپیدلې ده دغه ورانی مکالمې ته ربښتینتوب او تلوسه وربخښي : ۰۰ کیدای شوای چې په غیر هنري ډول یې داسې ویلي وای چې الف ـ ب ولید هغه له خپلې ښځې سره رهي و ده د لور گومان پرې وکړ ۰۰

۱۲ـ

الف. دا ـ کور ـ په پنځم ـ بلاک ـ کې دی ـ هیر ـ یې ـ نه کړې.[1]

دلته د کلماتو تر منځ د دغو کرښو مطلب دا دی چې ویونکی اوریدنکی ورو ورو سم پوه کړي چې کور یې هیر نشي.

۱۳ـ

خاوند میرمن ته ـ د شپې ناوخته راځم ـ له ملگري سره سینما ته ځم۰

خاوند میرمن ته خبره وکړه خو بیا پوه شو چې نور وضاحت ته هم اړتیا شته، نو په بله جمله کې یې هغه پوه کړه چې ولې ناوخته راځي ۰

۱۴ـ

ـ نن د فوټبال میچ ته تلم ـ واوره ۰۰ پرون چیرته وې ؟ !

دلته ویونکی له خپل تګه ژغیږي بیا خبره په بله اړوي د دوهمې خبرې هیڅ ډول ارتباط له لومړۍ یوې سره نشته ۰۰ دا ډول مکالمه د عوامو په خبرو کې ډېره پیښیږي ۰

۱۵ـ

الف ـ غواړم چې نن یې پیدا کړې ـ اوس اوس ۰۰ سمدستي.

دلته وخت پراخ ښیي او د نن عام کلمه راوړي بیا دقیق وخت ټاکي او ورته وایي اوس اوس ۰۰ سمدستي ۰

۱۶ـ

ـ ولې بري ته صبر نه کوو ـ داود ورور مې!

---

۱ - ببلکه د ژباړن ده.

دلتــه لومړی بـری وایـي او دی خپـل ورور پـه دې نـوم نومـوي بیـا بیرتـه خپلـه خـبره اخلـي او ژر پوهـېږي چې اوریدونکـی د ده ورور د بـری پـه نـوم نه پېژني.[1]

* * *

مختـه تـر دې چې د مکـالمې پـه اړه خـبرې پـای تـه ورسـوو، ښه بـه دا وي چـې هغـې زړې او پخوانـی خـبرې تـه بیـا یـو ځغلنـد نظـر وکـړو چـې تـر اوسه لالیکوالـو پرې غـوڅه پریکـړه نـه ده کـړې . هغـه د فصیـح عربـي ژبـې او عامیانـه ژبـې د کـارولو موضـوع ده چـې پـه مکالمـه کـې کومـه یـوه وکـارول شـي .

پـه دې اړه اوږدې خـبرې شـوې دې . اود دواړو نظریـو پلویـانو پـه دې هکله خپـل زړونـه تـش کـړي او ډېر دلایـل یـې وړانـدې کـړي دي . دلتـه پـه دې دواړو نظریـاتو ژغیـدل خـبر اوږد وي، خـو زمـا پـه انـد مبتـدي کیسـه لیکوال دې تـر وسـه وسـه هڅه کـوي چـې مکالمـه پـه اسـانه سـاده عربـي ژبـه وړانـدې کـړي داسـې ژبـه چـې د دواړو ـ فصیـح او عـامي ـ خوږلـښت پـه کـې خونـدې شـوی وي او دا هغـه ژبـه ده چـې نـن سـبا منځنـۍ ژبـه ورتـه وایـي.

خـو پـه ځنـو حـالاتو کـې چـې کرکـتر داسـې کلیـوال وي چـې لوسـتونکی دا تصـور نشـي کولـی چـې هغـه دې فصیـح وژغیـږي نـو د عامیانـه لـهجې کـارول پـروا نـه لـري . لـه دې حالتـه پرتـه، زه د منځنـۍ ژبـې د کـارولو مـل یم، ځکـه چـې عربـي ادب پـه ټولـو عربـي هېوادو کـې خپریـږي او پـه همـدې ژبـې سره پېیـل شـوي یـوو.

---

۱ - ببلګه د ژباړن ده.

# د لنډې کيسې شننه

په دې فصل کې دساده کيسې يو مثال وړاندې کوو دا کيسه په مجموع کې د لنډې کيسې يوه بشپړه بېلګه کيدی نه شي، خو دا امتياز لري چې د لنډې کيسې ډېر اصول او قواعد په کې ځای شوي٠

د دې کيسې پېښه يو واقعيت دی چې دليکوال يوه ملګري ته پېښه شوې ده، کيدای شي له داسې پېښې سره هر څوک په هر زمان او مکان کې مخ شي٠ ليکوال په دې کيسه کې د لنډې کيسې د اصولو مطابق خيال له واقعيت سره نغاړي داسې چې اصلي پيښه تري ګډه وډه شوې نه ده او په دې ډول يې اخباري اسلوب په کيسه ايز بدل کړي دي٠

که لوستونکی يا نوی ليکوال د خيالي او حقيقي برخې د بېليدا هڅه وکړي نو هېڅکله به بريالی نشي چې خيال او حقيقت سره وپيژني٠

ليکوال خيال د پېښې د اغيز د زياتولو او د تلوسې د راپيدا کيدا لپاره کارولی دی، د هغه په برکت يې هغه منطقي دلايل په کيسې کې غښتلي کړي دي چې دکرکټرونو تصرفاتو او انفعالاتو ته طبعي بڼه ورکوي٠

هيله ده چې لوستونکی او نوی کيسه ليکوال د کيسې د لوستلو او شنلو په وخت لاندنيو ټکيو ته پام وکړي:

۱_ د موضوع يووالی، داسې چې سره تړلې وي٠ او هغه پېښې په کې نه وي ځای شوې چې له کيسې سره اړه نه لري٠

۲_ سريع پيل، داسې چې کيسه له لومړۍ کرښې لوستونکی جذب کړي٠

۳_ اسانه اسلوب یعنې د نثر طرز د کیسې له موضوع سره سمون وخوري۰

۴_ مکالمه او موخه یې ( د کرکټر د ځنو اړخونو د یکنواخته وضاحت مخنیونه، او د ویونکي له شخصیت سره د هغې مطابقت )۰

۵_ د پاراګرافونو تسلسل او د هر یوه تنوع، داسې چې هره فقره (پاراګراف) د کیسې د پېښو یوه برخه انځور کړي، راتلونکي فقرې ته لار هواره کړي، او د هرې فقرې جملې له راتلونکې یوې زیاتې یا کمې وي۰ په کمې لحاظ برابر پاراګرفونه ممکن لوستونکی ستومانه کړي۰

۶_ پای داسې غلی او مانادارہ وي چې لوستونکی د هوسایي او رضایت احساس وکړي او کیدای شي چې لیکوال کیسې ته داسې پایله غوره کړي چې لوستونکی د کیسې د انجام په اړه مختلف فکرونه وکړي.

۷_ کله چې لیکوال د کیسې پای ته ورسیږي، باید لیکل بس کړي او نور وضاحت ورنه کړي ځکه چې اضافي وضاحت کیسه خرابوي۰

۸_ د کیسې د زمان او مکان وحدت ته پام پکار دی ۰ په کیسه کې دې ګنې پېښې نه وي چې د لوستونکي ذهن له اصلي پېښې په بله واوړي۰

# شنه شپه

ابراهیم څو ځلوینبت کلن، لور د ننگ غښتلی ځوان و. د ده ښایسته مخ د نیل د اوبو په څیر په سپین والي کې تور ځلیده، سترګې یې خنداني او د ښه سړي ښکاریدې، د تندي او لېمو ګونځې یې داسې ایسیدې چې په خواري او زیار به یوه مړی ډوډی پیدا کوي.
دی اقتصادي ستونزو اړ کړی و، چې هر سهار د سمندري دفترو په ځانګو ځانګو وګرځي او ماښام ستړی ستومانه خو له ځانه راضي کورته راستون شي..

**شننه**

*لیکوال وار له واره پرته له کومې سریزې کرکتر یو څه مفصل معرفي کوي او دا کار د ډرامې جوړښت لپاره ضروري دی. دې معرفي د کیسې لومړی توکی ((څوک)) څرګند کړی دی.*

د شنبې پر ماښام د ((رمسیس)) له میدانه چې کوم بس ((جزیره الروضه)) ته روان و او دی یې په ((الجیزه)) کې کښته کاوه یو ګوښه ځای کېناست چې یوه سترګه خوب وکړي، دمه شي او اولادونه یې ډېر ستړی ستومانه ونه ویني.

**شننه**

*د کرکتر په اړه نور سریع تفصیلات وړاندې شوي دي، دا شرحه د کیسې هنري جوړښت ته ضروري ده چې وروسته په کیسه کې جوتیږي. همدا راز په دې پاراګراف کې له مکان ((چیرته)) او زمان ((څه وخت)) څخه خبریږو.*

موټر لاولاړ و سم ډك شوی نـه و چـې دوه چـتـې نجونـې وروختلـې لـه نـورو خـالي چوکيـو تـیر ې شـوې د ده مختـه کېناسـتې، د دوی پسـتو ژغونـو او خنـداوو تـه د ابراهیـم ورپـام شـو خـوب یـې وتښتیـد ، ورتـه ځیـر شو ډېرې ښایسـتـه ورتـه ښکـاره شـوې، سـترګې یـې ورپولـې، ویـې موښلـې عجیب خندان ښایسـتـه خلـك یـې مختـه کېناسـتې و ·

**شـننه**

*لیکـوال دلتـه د کیسـې د فنـي جـوړښت پـه اساس تلوسـه پیلـوي·*

پـه چوکـۍ کـې وخوځیـد را وخوځیـد ځان یـې سره سم کـړ، پـه جیبونـو یـې لاس وتپـاوه، ګران بیـه سـګریټ یـې راوایسـتل دی هـر وخـت قیمتـي سـګریټ څکـوي، بیـا یـې ورو د اور لګیـد خلـی ورتـه ونیـو نجونـې یـې لاندې بـاندې لـه نظره تیرې کـړې·

**شـننه**

*د نجونـو د راختلـو تـاثیر پـه اصلـي کرکـتر جـوت دی· تلوسـه لـږ نـوره هـم زیاتـه شـوې ده او د کیسـې هـنري تسلسـل خونـدي دی·*

د ده لـه کتلو سره هغوی هم پـه خنـدا خنـدا ورتـه وکتـل ابراهیـم یـو دم د هوسـايي او راحـت احسـاس وکـړ داسـې احسـاس لکـه د ټولـې اونـۍ د ستړیا پیټی چې یې لـه اوږو کـوز شـوی وي·

**شـننه**

*تلوسـه نـوره هـم پیـاوړې شـوې ده او لیکـوال د ځنـو تفصیلاتـو لـه لارې چـې د کرکـتر نفسـیاتي حـالت څرګنـد وي د کیسـې هـنري جـوړښت پـه ځای سـاتي·*

ژوره سـاه یـې واخیسـتـه ځوانـي یـې وربـه زړه کـړه، هغـه وختونـه چـې د هرې نجلۍ پـه یوه نظر بـه یـې وینـه پـه جـوش راتلـه، او پـه کتـو بـه یـې زړه هوا کولـه·

**شـننه**

*کـه پـاراګرافو تـه ځیـر شـو تـر اوسـه هـر پـاراګراف پـه منطقي ډول لـه یوه بـل سره تړلـی دی او د حجم پـه حساب سره تـوپیر لـري·*

له ځان سره يې حساب راواخيست چې تر اوسه څو واري ده دغسې بل چاته کتلي او هغې ده ته. شونډې يې سره ويړې شوې، بيا يې سره ساه وايسته سر يې وځانده خپله ميرمن او ماشومان ور په زړه شول، د هغوی مينه يې سترګو ته ودريده.

**شننه**

*د کيسې د ډرامې جوړښت پر لور يو تت نفسياتي ټکر انځور شوی دی.*

بيرته يې نجليو ته ور پام شو يوې يې نېغ نېغ ورته کتل د ده چرتونه يې والوزول، هغې په داسې حال کې چې ده ته غبرګې سترګې نيولې وې خپلې ملګري ته وويل:

ـ ميمي زه ((مدام روز)) خياطي ته ځم .. له ما سره نه ځې؟

ابراهيم د هغې له کتلو پوه شو چې ده ته بلنه ورکوي. دی د هغوی له لوڅو وليو، خلاص ټټره، تيز سينګاره، ځای بې ځای خنداو او رډ رډ کتلو پوه شوی و چې فاحشې دي، له ځان سره يې ويل:

((د دوی ځوانې به څومره ژر ختمه شي.. زه خو ښځه لرم اولادونه لرم مسووليت لرم..)).

د بس نګران رابنکاره شو ده سترګې سره ورووستلې نګران ته يې ونيولې او نجليو ته يې وويل:

ـ درود ووایاست .. په پیغمبر درود ..

هغوی وخندل ده ته نورې هم ځيرې شوې، خو ابراهيم دا وار ځان ناګاره کړ نګران ته يې پيسې ونيولې ټکټ يې واخيست، « نجليو د ټکټ پيسې يې ورنکړې ځکه چې پوهيده د هغوی د پيسو ورکول خبره چيرته رسوي.

**شننه**

*دلته تلوسه زياته شوې ده، کرکتر ته يوه ستونزه پېښه ده چې څه به کوي، او دغه انتظار د غوټې رامنځته کيدو ته لار هواره وي.*

هغوی به خامخا مننه ترې کوي او له مننې سره به د دوی تر منځ د مینې خبرې پیلیږي خبرې به داسې خواته ځي چې د یوه غریب خواري کښ او متاهل لپاره به مناسبې نه وي ۰

**شننه**

*داخلي او نفسیاتي تکر بیا راپیداشوی دی ۰ په دې برخه کې لیکوال تقریري جملې او عبارات کارولي دي ، دا د نوې کیسې د کره کتنې له مخې عیب گڼل کیږي، او پدې پاراگراف کې کلیشه اي راغلي دي ۰ دا هم هنري عیب دی۰*

د ټکټ اخیستو په وخت د یوې نجلۍ تندی تریو شو، هغه بله لا موسکۍ وه او داسې ښکاریده لکه چې وایي: (( زموږ د ښایست له منگولو به ونه تښتې)) ۰ دغه خنداني خپلې ملگرې ته وویل:

ـ کله چې له (( مدام روز )) ولاړو په (( کازینو)) کې به کېنو ۰۰

هغې ابراهیم ته غبرگې سترگې ونیولې او د یوې کازینو نوم یې واخیست چې د نیل په غاړه دلته هلته په کې چوکۍ وي، او د سپوږمۍ وړانگې په اوبو کې ناخي ۰۰

ملگرې یې په خندا خندا سترگه ووهله:

ـ په داسې ښایسته ځای کې بې ملگرو ناسته څه خوند کوي؟

ابراهیم تك سور شو، غوني یې زیږه شو، خواري زحمت د واده لس کاله ترې هیر شول ۰

**شننه**

*تلوسه زیاته شوې لیکوال هڅه کوي چې د کیسې له اصلي کرښې ونه وځي۰*

شاوخوا یې وکتل گومان یې وکړ چې ټولو ناستو کسانو دغه په کازینو کې د شپې تیرولو بلنه اوریدلې ده خو د یوې زړې ښځې خبرې: (( توبه خدایه څه نه دي چې نه یې اورم )) دی ډاډه کړ چې له همدې پرته نورو خبره نه ده اوریدلې ۰

شننه

*دلته وینو چې لیکوال مکالمه د کیسې لپاره کارولې ده یعنې د هغې په مرسته یې د کرکتر ځنې خواوې څرګندې کړې دي او هغه یې په ماهرانه شکل لنډه پېژندګلوي کړي را اخیستې، که اوږده شوې وای د لوستونکي زړه ورته تنګیده.*

دغه یوې بیا ابراهیم ته سترګې ونیولې او خپلې ملګرې ته یې وویل:

ـ میمې څه خبره یې چې بې اندیوالانو به ناستې یوو؟

ـ څنګه ناسته به خوند وکړي؟

ـ ولې نه، لولا ۰۰ بېخي ډېر ۰۰

ـ څه وخت؟

ـ له نهه بجو ۰۰تر ۰۰ نیمې شپې ۰۰

لولا بیا ابراهیم ته سترګې ونیولې خپلې ملګرې ته یې وویل:

ـ منتظره به یم ۰۰ ګوره چې ناوخته نشي ۰

موټر ((جزیره الروضه)) واټ ته وګرځید نژدې و چې: عباس پلار ته ورسیږي خو ابراهیم له خولو ډک تري ښکته شو ۰۰ د کور خواته داسې روان و چې نه پوهیده په هوا ځي که په مځکه ۰۰ له واده وروسته په تیرو لسو کلونو کې دا اول ځل و چې له داسې یوې پېښې سره مخکیده

ډېر ځله دی په سفر کې له داسې ښځو سره مخ شوی دی چې د وخت د تیریدا لپاره یې خبرې اترې ورسره کړې دي او سفر یې په خبرو ښند کړی دی ۰ یو وار خو یوې ورته ویلي و چې هر واري په المنصوره تیریدې خامخا راګرځه د هغې زړه وه چې یارانه ورسره وکړي او یوې ورته ویلي و چې کونډه ده دی د هغې له ورغوښتو پوه شوی و چې څه وایي ۰

خو دی نه و ورغلی ۰ ښایي ښایسته به نه وه ورته ښکاره شوې که څه هم بده نه وه څه نا څه شتمنه وه ۰ ۰ او شاید علت به دا و چې په روزي پسې به سرګردانه و لکه نن سبا چې دی ۰

**شننه**

*کیسه سره پییلې ده، په هنري شکل په مخ روانه ده، تلوسه او داخلي مکالمه لري.*

خو داخلې د پخوا غوندې نه و، وروسته له ډېره وخته یو چا بلنه ورکوله او ده په دغه اوږده موده کې انګیرله چې نوریې د ځواني وختونه تیر شوي دي خو له ننی بلنې ځرګندیده چې دی لاځوان دی او د ښځو لاسترګې ور اوړي . او بلنه په زړه پورې بلنه وه د نیل په غاړه د سپوږمۍ وړانګې به د اوبو پر مخ ځلیدې، د شپې خوږه هوا به د هغوی پر پستو ګوتو داسې تیریدې چې زړه او ذهن به تازه کوي.

لولا ورغوښتی دی او هغه تر هغې بلې پسته مسته او جذابه ده ..

د هغوی خبرې، خنداوې، لیدل کتل داسې جادوګر و چې د ده ستړیا یې یو مخ ورکه کړې زړه یې ور غوړولی و .. که له هغې سره کېني، له لاسه یې ونیسي، اوږې یې پر خپلو زنګنو ولګوي، یو پیاله ورسره په سر واړ وي، خبرې ورسره وکړي .. ښکل یې کړي .. خو نه .. نه .. لعنت شه په شیطان ـ ابراهیم دغسې له ځان سره ژغیده او کور ته ورننږدې کیده .راځه دغه یو وارې به په کازینو کې ورسره کېنم څه کېږي، خو که دا مې عادت شو؟ او په دغو کارو روږدی شوم بیا به یې څنګه پرېږدم .. او دغه په خواري زحمت چې یو څه پیسې ګټم دغه په دغو لنډه غرو وخورم او که یې خپلې ښځې او اولادو ته وسپموم..؟ توبه خدایه توبه ..

**شننه**

*تلوسه نوره هم زیاته شوې ده او کیسه په فني شکل پر مخ تللې، ډرامې جوړښت اوج ته رسیدلی دی او د لاندې راتلو لپاره چمتو دی.*

*مکالمه په فصیح ژبه وړاندې شوې ده، لیکوال هڅه کړې ده چې ډېره ساده یې وړاندې کړي. همداراز دی په دې برخه کې د ((څه شي)) عنصر وړاندې کوي .*

میرمن یې په پخلنځي کې ډوډۍ تیاروله هغې غوښتل چې خپله ناروغي پټه کړي، د ابراهیم مخته یوازې زوی یې مجدي ور منډه کړه. ابراهیم خپلې میرمن ته وکتل ور په زړه شو چې د هغې اوږه سهار خوږېده، ورته وې ویل:

- اوږه دې څرنګه ده ؟
- ده نو ..
- سهار ډاکټر ته ورشه.... مزدوره چیرې ده ؟
- مروره شوه..
- هه .. ولې؟
- هسې هم تله .. پوه شوه چې زه د اوږې له خاطره مرسته نشم ورسره کولی)) .

ابراهیم چې ډوډۍ ته کېناست، شاوخوا یې وکتل وې ویل:

- فیفي او سوسو چیرې دي؟
- فیفي ته خوب ورغی .. د سوسو بیا تانسلونه دي پروت دی، لږ تبه یې ده ..

شننه

*لیکوال په دې برخه کې د ((څه شي)) توکي د وړاندې کولو لپاره منطقي دلایل وړاندې کړي دي چې کرکټر به څه وکړي؟*

د ابراهیم زړه په تنګ شو، دی چې راته زړه یې غوښتل د هر کله غوندې به یې ښځه او اولادونه په خندا مخته ورغي یو ځای به سره کېني او ډوډۍ به خوري . د ورځې د کار او روزګار کیسې به یوه یوه ورته کوي بیا به ناست خونې ته ځي د راډیو ځنګ ته به کېني مجله یا کتاب به وراخلي .. له کوچنیانو سره به لوبې کوي، له ښځې سره به ژغیږي چې کوچنیانو ته خوب ورشي بیا به په ارامي لږ مطالعه کوي چې سترګې یې درنې شي نو غلی به راپاخي او خپلې بسترې ته به ولاړ شي ..

د ده هره شپه دغسې یو رنګ پروګرام نه و کله نا کله به له میرمن او کوچنیانو سره د ځنو ملګرو او دوستانو لیدو ته تلو او په هفته کې

به یوه شپه سینما ته روان ول، دسینما د تګ یې همدا نن د شنبې شپه وه ۰۰ خو ځنګه ولاړشي د ښځې یې اوږده خوږیږي، فیفي ویده دی او د سوسو تبه ده۰

دوړی خوند ورنه کړ، ژر پورته شو، ږیره یې وخریله د تګ کالي یې واغوستل عطر یې پرې وموښل ۰۰

**شننه**

*نور ډرامې جوړښت له تلوسې سره غبرګ روان دی ۰*

ښځې یې حیران ورته وکتل او وې پوښت:

ـ چیرې له خیره؟

ـ له یوه مامور سره مې وعده ده۰

مجدي د عادت له مخې ورته وزغونځید:

ـ بابا زه هم درسره ځم۰

ـ نه زړګی ۰۰ نن له خپلې مور سره پاتې شه ۰۰ زه شاید ناوخته راشم ۰۰

ابراهیم ووت ۰

دا واریې په شیطان لعنت.ونه وایه ۰۰

**شننه**

*د پلار او زوی تر منځ خبرې اترې ډېرې ساده او طبعیې راغلې دي۰ او د دې پاراګراف وروستی جمله خورا قوي راغلې ده ۰ (دا جمله باید عربي کلچر ته په پام سره قوي وګڼو۰ ژباړن)*

کازینو ته روان شو چې شپه هورې تیره کړي ۰۰ ور په یاد شو چې هغوی دوې دي او دی یو ۰۰

نو ښه به دا وي چې خپل یو ځوان ملګری پیدا کړي او هغه دوهمه هغه ته وروسپاري، له ښه سوچه وروسته وحید ور په زړه شو، وحید ښایسته ځوان و دغسې پروګرام یې خوښاوه او هغه الروضه ته نژدې اوسیده۰

دوی چې کازینو ته ننوتل وحید ابراهیم ته وویل:

ـ مطمین خو یې چې خامخا به انتظار وي ۰۰

ـ هو هو ۰۰

ـ که نه وي بیا ۰

ـ مصرف په ما، په هره کازینو کې چې شپه تیر وې ۰۰

لولا او میمي انتظار وې ،د هغوی له لیدو سره وحید ابراهیم ته ورتر غوږ شو:

ـ اخ ابراهیمه سخته شیان دي پیدا کړي دي ۰۰ خصوصا هغه د چسپ کمیسه واله ۰۰

ـ لولا بنیې ۰۰ هغه ما خوبنه کړې ۰۰ پام چې چپ ورته ونه ګورې ۰))

د ابراهیم زړه په دربیدا شو ورو ورو د هغوی پر لور ور مخته کیده، سر یې وځانده چې هسې نه خوبویني، چې د کازینو د وره له بیروباره ورتیر ...ده هغوی په خندا خندا راپورته شوې داسې ایسیدې چې ته وا له عمرو عمرو سره پېژني ۰۰ د نیل په غاړه سره کېناستل ۰۰ د دوی ناستی د خوراك په راوړو او د بیر د ګیلاسو په سر اړولو نور هم خوږ شو، لولا د ابراهیم لاس په موټې کې ټینګ کړ د هغه لور ته یې سترګې پورته کړې:

ـ هوا ورو ورو سړېږي ۰۰ په دغه کوټو کې نه کېنو۰ ابراهیم یو سل او نوي جنیه ( مصري پیسې ۰ژباړن ) بیل ورکړ ۰ بیا په یوه وړه خالي کوټه کې کېناستل۰ وحید وکړای شول چې خپله ملګرې څو وارې هلته بنکل کړي، او لولا د ابراهیم مخ د ځان لور ته ور واړاوه او یوه اوږده مچکه یې ترې واخیسته ۰۰

## شننه

*کیسه د فني جوړښت په حساب اوج ته رسیدلې ده او د پای په لور کوزیدا ته چمتو ده۰*

ابراهیم او وحید د کازینو په وره کې له نجلیو سره مخه بنه وکړه او سره وې ویل چې سبا به بیا په همدې وخت او ځای کې سره ویني، دوی چې له کازینو لرې لرې شول ابراهیم لاژې تو کړې اخ اخ یې وکړل بیا یې توبه وایسته وحید ته یې وویل:

ـ زه چې یې ښکلولم د خولې اوبه یې راوزبیښلې یو بد بوی یې د خولې تو چې څه درته ووایم ·

وحید وخندل وې ویل:

ـ د خپلې اندیوالې د خولې پر بوی به دې شکر ایستلي و که دې زما والې د خولو بوی لیدلی وای ·

ـ توبه · ·

ابراهیم بیا اخ تو کړل · · وې ویل:

ـ کاشکې نه وای راغلي · · یو سل او نوي جنیه ولاړې او په نس مو لاګوښي درد دي ·

ـ نو سبا دې زړه دی چې رانشو · ·

ـ توبه خدایه · · لا دې زړه دی؟

ابراهیم لاس جیب ته کړ چې له بټوې څه راواخلي، بټوه یې پیدا نه کړه په تروه تندي یې په داسې انداز لکه خوله چې یې له لاړو ډکه شي وویل:

ـ کیسه بره هم وه؟

ـ اوه · · بټوه یې وهلې ده؟

ـ هو · · تر هغو خو له ماسره وه چې بیل مې ورکاوه د بیل پاتې پنځه جنیه مې هم په یاد دي چې په کې کېښودې ·

ـ څو وې · · پولیس خبر نه کړو · ·؟

ابراهیم اوړې وخوځولې:

ـ دغه پنځه جنیه وې · · د ساده پیسه دار ګومان یې راباندې کړی و ·

دواړو وخندل وحید په جیب لاس وتپاوه:

ـ شکر دی چې زما والې کیسه بري نه ده کړې · · که نه تباه شوی به وای د پوره میاشتي تنخوا مې په کې وه · ·

شننه

*لیکوال ورو ورو د پای لور ته ګام اخیستی او د تلوسې مزی یې لاکلک نیولی دی ·*

دولس بجې دوی دواړه سره بېل شول٠ ابراهيم کور ته ولاړ د کور ور يې ورو په کلي خلاص کړ، او سوکا سوکا د خوب کوټې ته ورغی، کالي يې په احتياط بدل کړل چې څوك راويښ نه شي٠٠

په توشك اوږد وغزيد کوچنيانو ته ځير شو هغوی ارام ويده ول، د دوی هوسايني خوشاله کړ، خو سترګې يې له اوښکو ډکې شوې تر ژبې لاندې يې وويل:

**شننه**

*کيسه پايلې ته ورنژدې کېږي، لوستونکی بيره لري چې ژر د کيسې نتيجه ترلاسه کړي٠*

ـ شکر دی چې ارامه، خاطر جمعه ويده دي٠ څومره هوسا به وي، دوی به په خپل پلار څومره ډاډه وي چې د خولو په تويدو او د زړه په ويلي کيدو يوه مړۍ ډوډۍ ورته پيدا کوي٠ په خپل توشك کې واوښت د هوسايي او ارامي احساس يې وکړ٠

**شننه**

*کيسې خپلې ټولې غوښتنې پرځای کړي دي نو ليکوال هم کيسه پای ته رسولې ده٠*

*ليکوال په دې کيسه کې فني جوړښت ته په پام سره هدف واضح څرګند کړي دی٠ ده د کيسې موخه په سمبوليك يا غير مستقيم ډول نه ده بيان کړي، د ده په اند اکثر لوستونکي تر غير مستقيم انداز وضاحت خوښوي او تر رمز او سمبول ښکاره بيان ورته ښه ښکاري*

*ددې کيسې موخه لکه څرنګه چې يې لوستونکی هم احساسوي دا ده چې انسان له واده وروسته ډېر مسوليتونه لري او هر هغه څه بايد ونه کړي چې زړه يې غواړي، د ده مسوليتونه د يوه پلار په صفت ډېرې قربانۍ او فداکارۍ ته اړتيا لري تر څو ټولنې او هېواد ته نيك عمله او نيك صالحه کوچنيان وړاندې کړي.*

# تحلیلي کیسه

پدی فصل کې هغه کیسه څیړو چې د لیکلو لپاره یې خاصو موهبو ته اړ یو.

په تېرو پاڼو کې مو ساده او تحلیلي کیسو ته نغو ته وکړه او د دواړو تر منځ چې کوم توپیرونه دي هغه مو څرګند کړل. د ساده کیسې مهمه ځانګړتیا د پلاټ لړل دي چې پیښې یې د تلوسې له اوج سره کلکي غوټه کېږي، او بیا د پایلې په لور د رومي.

ساده کیسه د غښتلې تلوسې ، حرکت ، سرعت او پیچلې غوټې له امله ډیر خلک خوښوي ، په تیرو څپرکیو کې مو هغه اصول او قواعد په نخښنه کړل چې مبدتي لیکوال د هغوی په پیروي د ګڼو لوستونکیو د پیدا کیداچم زده کولی شي.

زما له نوي کیسه لیکواله دا هیله ده چې په اول کې لیکل په ساده کیسو پیل کړي وار له واره تحلیلي کیسې ونه لیکي ځکه څوك له پیله هنري موهبه، دقیق نظر ، د بشري نفس د پېژندلو قوت ، د سایکالوجي او منطق په اړه معلومات او د ژوند پراخه تجربه ولري بیا بېله خبر ده خو ښکاره ده چې دا ټولې ښیګړې په ځوان لیکوال کې نه شي یو ځای کیدی مګر خدایي سره راټولې شي.

زما مطلب دا نه دی چې د ځوانو کیسه لیکوالو د عزم مخنوی وکړم ، بلکه دا څرګندول غواړم چې ښه دا ده چې کیسه لیکوال په ساده کیسه لیکل پیل کړي هغه کیسه چې په پلاټ ، ټکر او حل ولاړه وي، کله چې یې د دغه ډول کیسې لیکل زده کړل ، د ژوند تجربې یې وازمویلې ، د بشري نفسیاتو په عمق پوه شو بیا دي تحلیلي کیسې ته لاس کړي.

ساده کیسه د ژوند یوه برخه روښانه وي، له لوستونکي ډېر دقت نه غواړي. تحلیلي کیسه بیا د ژوند په یوه ګوټ پوره رڼا اچوي او لوستونکي ته د ژوند په اړه زور احساس ورکوي، د هغه فکر پراخوي، له نویو تجربو سره یې اشنا کوي، او داسې نظر ورکوي چې هر څه او شي ته له نویو زاویو ځیر شي.

مبتدي لیکوال د څه نا څه قواعدو او اصولو په پوهیدا، د نسبتا روغ نثر په برکت او د قوي مشاهدې په زور په سلګونو داسې کیسې لیکلی شي چې په عادي ورځپاڼو او مجلو کې د چاپ وړ وي. خو تر څو چې دی خپل استعداد ښه ونه روزي، په هنري لحاظ عالي کیسه نشي لیکلی.

په نړۍ کې هر وخت او هر ځای د دې خبرې د اثبات مثالونه موندېږي مثلا، دلنډې او اوږدې کیسو په لسګونو زره لیکوال شته او تیر شوي دي خو څو کسه د تور ګنف، چخوف، دستویوسکي (روسیه کې)، او موباسان، بلزاك، امیل زولااو اندریه مورو (فرانسه کې)، او دیکنز، لویس ستیفنس، هـ.ج ویلز، سومرست موم(انګلستان کې)، شتاینبل، همینګوی، پیرل بك، او جون او هارا(امریکاکې)په ځیر دي. دغسې نور ډېر د لنډې او اوږدې کیسې نوابغ په نړۍ کې شته خو د هغو لسګونو زرولـه ډلې دغه وتلي ځیرې لـه لسګونو نـه اوړي. دغو غونډو غښتلیو لیکوالو کیسه ایز هنر اوج تـه ورساوه، او ډیرو یې کیسو ته قواعد او نوي اصول وضع کړل خو دوی لـه دغه نبوغ سره سره فني زده کړه پوره پوره کړې ده.

دموسیقۍ نړیوال ستر نابغه بتهوفن په پیل کې دې ته اړو چې د موسقي د هنر اصول او قواعد زده کړي او بیا خپل نبوغ څرګند کړي.

او سومرست موم د اوسنۍ پیړۍ (د شلمي پیړۍ) ستر ناول کښونکی دې تـه اړ و چې د لیکوالي فن، اسلو ب او د ژبې ګردود ولولي. دا خبرې دا حقیقت څرګندوي تر څو د هنر په باب دقیقه مطالعه له استعداد سره مله نشي نو استعداد به یو وزرې مرغۍ ته ورته وي. هغوی چې وایي په سلو کې یو استعداد او په سلو کې نهه نوي هاند په کار دی بې ځایه نه ګڼېږي. بیا به تحلیلي کیسې ته وروګرځو دې

کیسو ته څوك مشخص قواعد او اصول نشي ټاکلی. ځکه که چېرې دا کیسې یو ډول هنري تخلیق ګڼل کېږي او ځانګړې اصول او قواعد نه مني خو بیا هم د کیسو ټول جلال او کمال په دغه ډول کیسو کې نغښتی دی. تحلیلي کیسې معمولاً قوي پلاټ نه لري او کرښې یې متوازي پر مخ ځي خو تلوسه لري، ښکلی پیل او غښتلی پای لري، د قوي جوړښت او ښایسته نثر په مټ لوستونکی ورکاږي.

د دې کیسې لوستونکی له لوستو وروسته داسې انګیري چې نوی شی ګوري، یا نوي خلك له نویو زاویو ګوري، او یا داسې احساسوي چې په ژوند کې یې نوي څه لاسته راوړي دي.

مثلاً:

څومره عادي خلك په لارو ، دفترونو کې وینو چې نه د ژوند او نه د ځان په هکله سوچ کوي.

په کوم اپارتمان کې چې ژوند کوو د هغه چوکیدار (مثلاً)د ودانۍ ، دلیفت، زینې وره یا بلې برخې په څیر ښکاري . او یو شی چې دی له دغو شیانو بېلوي هغه ژوند دی.

خو .. کله تاسو فکر کړی چې د دې څوکیدار په زړه څه تیریږي؟ ایا تاسو دهغه د درد او غوښتنو په هکله سوچ کړی دی. د هغه ستونزې او خوښۍ ته موپام کړی . ستا په باره کې هغه څه فکر کوي.. د کور د څښتن په هکله څه فکر کوي؟

هغه مزدوره چې ستاسو کور ته په اونۍ کې یو دوه ځلې د جامو وینځلو لپاره درځي په اول نظر تاسو ته د پریو لکې (د جامو وینځلو ماشین)غوندې یو شی ښکاري. خو کله مو داسې فکر کړی چې هغه هم یوه انسانه ده ستاسو په څیر ،هغه ستونزواوکړاونو دې زیارته اړایستې، د هغې ځانګړې ستونزې دي، خوښې دي غمونه دي، امیدونه..

او هغه ټټ پوړی مامور چې دکار پر میز ورکړوپ شوی وي دوسیې ګوري او یا له خپل ملګري سره خواله کوي پرته له دې چې ستا کار ته پام وکړي،ایا فکردې کړی چې څنګه ژوند کوي،څه ستونزې لري،څه دردونه لري،چاپېریال یې څه ډول دی او څه غوښتنې لري؟

دغـه د ژونديـو موجوداتـو څو ببلـګې وې.دجمـاداتو هـم بـې شـماره بيلـګې شته چې هـره ورځ يـو نـه يـو شـي خامخـا وينـو او پرتـه لـه دې چـې ورتـه ځيرشـو دهغـه پـه اړه سـوچ كـوو دومـره برسـېرن سـوچ چـې لـږ ورسـته مـو بيا هـير وي.

خـو هـنرمند ليكـوال د دې تـوان لـري چـې مـوږ تـه داسـې احسـاس راوبخښي چـې وره يـا پريولكـې تـه يـا ګل تـه ان د پخلنـځي لوښو كوديوتـه پـه بلـه سترګه وګورو داسـې چـې شعور مـو ډېر ژور ولاړ شـي دومـره ژور او روښان چـې پخوامـو ببخـي وريـام نـه وي.

څنګه چـې د تحليلـي كيسـې لپـاره څوك خـاص قواعـد او اصـول نـه شي وضـع كولى نـو د نـوي ليكـوال دذهـن د روښانتيـا لپـاره بـه يـوه ببلـګه راواخلـو.

دا مثـال چـې دلتـه يـې وړانـدې كـوو ډېر غـوره مثـال نـه دى خوداسـې ببلګه هم څوك نشي راوړى چې پـه هر حسـاب يـې تـر ټولـو غـوره وګڼو.

دا ببلـګه د هغـو مـامورينو پـه ژونـد رڼا اچـوي چـې پـه دفـتر كـې كـار كـوي.

ښكـاره ده چـې ټيټ رتبـه مـامور داسـې ژونـد نـه كـوي خـو داكيسـه يـو ځانـګړې شـخصيت معرفـي كـوي داسـې شـخصيت چـې لـه نـورو سـره يـې ځنې صفـات او خـواص ورتـه دي،او ځنـې نـور يـې بـل ورړدي.

او دا ځكـه چـې انسـان، هـر انسـان ځانـګړې دنيـاګۍ لـري او هېڅكلـه دوه كسـان پـه خـاص او عـام ژونـد كـې كټ مـټ ورتـه نـه وي.

# مړه

سید د کوټې وره ته ودرېد، په خپلو جیبونو توش شو.. ده سکه ویل کلي یې ورکې دي، خو د بنیان د لاندني جیب په یوه کونج کې یې وموندلې، لاړې یې تو کړې، وزغونځېد، ډېر وزغونځېد او د تل غوندې د (څتلې) په ویلو غلی شو..

خپلې تیاره کوټې ته ور ننووت، څوتوبنپلي لوشي کودي تیت پیت پراته ول د څراغ سویچ ته یې لاس ور اوږد کړ،چې څراغ بل کړي، خو بل نه شو.. ور په زړه شو چې نن څومه ده، برق قطع شوی او د ده لاس د عادت له مخې سویچ ته ور وغځېد.. څتلې!!

د برېښنا مزی برقیانو شکولی.. هر څه مات ګوډ و.. کلیانې ورکې وې، که د بنیان د لاندني جیب له کونجه نه وای راوتلې.. برېښنا قطع شوې.. په تیاره کور کې کوټه نوره هم تپه ښکاري..

سید ته ور په زړه شو چې د مېز په روق کې نیمه توټه شمه پاتې ده، هغه یې په زغنځېدا زغونځېدا وموندله، له جیبه یې اور لګید را ویست بله یې کړه، په نالۍ اوږد وغځېد او سړه ساه یې وایسته.

د ده ورځ سربداله سرګردانه تېرېږي، خو د شپې په مخ یې دغه کوټه سرپناه وي، دلته یې څه ناڅه ساه سمېږي.. خو دا معلومه نه ده چې دا ځای په تر کله ورسره وي، ده ته نور د کار شی ور پاتې نه دی، هر څه ترې د سترګو په رپ کې له ګوو ووتل.

میاشت په وتو ده، که نوې میاشت رابره شي او بیا هم تېرې کرایې ور نه کړي او یا یې یوه برخه ادا نه کړي، نو خامخا به یې لوښي کودي په سرك پراته وي، بیا به د سر لګولو ځای پرې ودرېږي...

سید غزونې وکړې، شونډې یې لږ وېړې کړې، د ډنګرکي له خولو ډك مخ ګونځې یې سره ورغلې، نور هم ډنګر ښکاره شو، د کور څښتن ولې داسې څټلې نه دي؟

سید د لوږې احساس وکړ دا څو اونۍ یې یو مخ اشتیاه سره ورغلې وه.. ده به پخوا هم ډېر کله ډوډۍ د عادت له مخې خوړه ویل به یې دا هم یو پور دی چې پرې شي...

زړه یې سولیده، په کوټه کې پرته له هغه یو ټوټې مړۍ چې د موږکانو لپاره یې د ټوکریو په تلکه کې ایښې وه، نور هېڅ شی یې د خوړو نه درلود..

له خپلو جیبونو هم خبر و، چې نن شپه په کې یوه ټنګه نه وه، هر څه یې له خپلو ملګرو سره په کونکان (یو ډول جواری) کې بایللي و.

ملګري یې د ده په اند څټلي دي.. دی پوهېده چې دی هم د هغوی غونډې څټلی بنیادم دی، تر هغې لا ډېر څټلی.. لوږې ډېر په تنګ کړ، نه یې څه د خوړو لرل، نه د اخیستو توان.. دا لوږه هم څټلی شی ده، ډېره څټلې!

سګرېټو په ډبي کې یې لا اته سیګرټه پاتې وو، دې شي لږ بې غمه کړ، دا سګرېټ یې څو ساعته بس دي، تر هغو کافي دي، چې خوب یې وړي.

د شمې رڼا ته یې د سګرېټو په کړۍ کړۍ لوګو کې د خپل ژوند مختلف وختونه تر سترګو کېدل..

دی حیران و چې څنګه یې ښوونځي خلاص کړ او پوهنتون ته بریالی شو، بیا یې څنګه د لیکوالۍ دنده ومونده چې د پوهنتون مصارف پوره کړي او څنګه وشو چې په دې مردار څټلي ښار کې څلور پرله پسې کلونه تېر کړي.

دی دې ته هم حیران و چې څنګه په پوهنتون کې ناکامه شو... ایا د ناکامۍ علت یې دا و چې دی داسې خوی لري چې په ژوند کې یو شي

ته جدي پام نه کوي داسې پام چې د حل لار ومومي او که د ده نشواى کولی چې په يوه وخت کې هم کار وکړي او هم درس ووايي.. چې هر څه ولاسونه يې له درسو وينځلي وو، لکه څنګه چې يې له هر څه او هر چا لاسونه وينځلي وو، حتی له خپل پلار او موره يې اميد قطع و، له هغوی يې دا تمه نه کېده چې مرسته به ورسره وکړاى شي، که څه هم زړه يې کېده چې ورشي، خو په دې پوه و چې دا کار هم ځتلی کار دی او که دا کار وکړي نو ربنتيا به دېر ځتلی يې ځکه چې هغوی ده ته اړ دي.

ده د عادت له مخې خپلې اوږې پورته وغورځولې او د خپل وجدان د هوسايۍ لپاره يې تولـه پړه په خپل پلار او مور واچوله چې ولې يې پيدا کاوه چې نه يې شواى ساتلاى.

دى هر وخت دې ته هېښ و چې ولې پرې نـه لار ګران دى نـه مور او نه يې خويندې او ورېه خوبس دي. خو ځان يې په دې خلاصوه چې ده حو هسې هم له ځانه پرته څوك ښه نه ايسي..

ځان پرې ګران دى يوازې خپل ځان... او ده په واز کومي هر چا ته او هر چېرته دا ويلي چې ما له ځان پرته څوك نه خوخېږي او هر ځاى دا وايي چې زه ربنتونی يم او خلك دغه حقيقت پټوي چې زه يې وايم.

او کله چې ده د ځان په اړه فکر کړی، نو ويلي يې دي چې زه له هغو خلکو يم چې د شاعر په وينا باور لري، چې وايي: "ان مت ظمانا فلا نزل القطر- که له تندي مړ شوم بيا هم څاڅکی و نه ورېږد" او دی هېڅکله هم دا نشي زغملاى چې د بل لپاره ښه شي او د بل لپاره ځان اوبه کړي.. کله چې ده خپلو ملګرو او انډيوالانو ته د خپل خوی وويل، هغوی پرې د مړې نوم کېښود، "دا ځکه چې مړه د خداى پاك په مخلوقاتو کې له ځانه پرته د هېڅ چا په ښه نه راځي.

ملګرو چې به کله ورپورې نخوال کاوه، نو ځتلی به يې هم ورته وايه.

په ده دا ټکي بد نه لګېدل، ځکه چې ده به په خپل فلسفي تعبير ځان ته ويل: "که ته ځتلی يې نو ټول ځتلي دي"

سید د شمې په رڼا کې د سګرټو حلقو ته وکتل او موسېد، ختیلې.. ولې مړه یم؟ رښتیا به سره وایو، زما چې څه په زړه وي هغه مې په خوله وي؟! که زورور ته له دې ښکته پورته کېږم چې یو وخت به مې په درد وخورې او د کمزورو په کیسه کې نه یم نو دا خو طبیعي خبره ده، دوی هم ځکه پر ما نومونه ږدي چې نه مې څه په وس کې دي او نه مې څه ګټه ورسېږي، یوازې هغه وخت راسره خواږه خواږه کېږي چې میاشت نوی شوې وي هغه هم ځکه، ګومان کوي چې د تنخوا په روپه ګیو به مې جیب ډک وي.

بل څه وخت؟

بل هغه وخت راته ښکته پورت کېږي چې له دوی سره کونکان کوم ځکه چې دوی پوهېږي چې ورل مې په نصیب نه وي او غواړي چې تش جیبونه لکه غلو چې شکولی یم خپلې کوټې ته راستون شم.

لکه نن شپه چې راسره وشول..

او یا لکه ډېرې داسې نورې شپې چې راسره کېږي..

کله چې خپلې دپې مپې کوټې ته خالي لاسونه وږی تږی رهي کېږم، له ورایه پرې پوهېږم چې د دوی په سترګو کې شیطانت ځلېږي.

دوی به اوس، دغه راته نږدې، زما د هغه بل ملګري په کوټه کې را پنډ وي، ماښامی به په هغو پنځه څلوېښت جنیه (مصري پیسې ژباړن) کوي چې د پلار او مور قوت لا یموت مې و..

په ما پسې به خاندې، داسې ملنډې به راپسې وهي لکه ما چې خپلې ځینې طنزیه کیسې دوی ته لوستې وې..

دوی به سره ژغېږي چې که کومه ورځ رښتیا لیکوال شوم، نو د ادبي نړۍ مړه به یم.

خو زما په دې ټولو خبرو سره خلاص دی، په هر څه پوه یم، والله که به له بخیلي پرته پل شی وي.. دوی په زړه کې پوهېږي چې ما ته نشي را رسېدلی، زه د دوی په څېر د ټګۍ برګۍ سړی نه یم، په ډېرو شیانو پوهېږم.

د دوی زړه ته لوېږي چې اخر به راسره بخت یاري وکړي، تر ټولو به پورته یم، ټول به مې تر لاس لاندې وي، دوی به له خاورو سره خاورې

شي، خو نه پوهېږم چې دا بدمرغه بخت به مې کله را بیدا ږي. لس کاله وشول چې لیکم او لیکم، تر کله به یې لا پسې لیکم. چې لږ خوابدی یم، بیا نو پرته له چتیاتو بل څه نشم لیکلای. ټول د ځیرلو وي زه یې هم ځیري کوم. که دا کار له ما پرته په بل لیکوال شوی وای، وخته به یې لیکل بس کړي وو، او له دې ذهني بوجه به یې ځان بېغمه کړی و. خو زه هېڅکله نه مایوسه کېږم او هېڅ وخت به مې له لیکوالي زړه تور نشي که څه هم له هر څه مې زړه تور شوی دی.

زما په ژوند کې همدغه لیکل دي چې خلک یې راسره بخیلان او عقدیان کړي دي.

څوك څه نشي ویلی، کېدی شي چې یوه ورځ له هغه لیکوال سره وګورم چې ځانته په ډېره لویه سترګه ګوري، خو چندان شی نه دي، لیکن دنیا ډېره نیمګړې ده، هېڅ شی هم نه ده. کله له داسې چا چې د دوو خرو اوربشې نه شي وېشلای، لوی شاعر، لیکوال او یا داسې شی جوړ کړي چې باور به دې را نه شي. که څه هم پوهېدم چې دا لیکوال هېڅ شی هم نه و، خو بیا هم ورته ښکته پورته کېدم، دومره مې وستایه، وستایه او وپړساوه چې نژدې وو سره وچوي. ما خو یې ډېر قدر وکړ، هسې مې وچ په وچه صفتونه نه کول، ښه مېلمستیا مې ورته وکړه، په مېلمستیا کې مې د ده ټول نژدې ملګري را خبر کړل.

ما دا ټول خرڅ په خپله غاړه واخیست او د تل غوندې بیا هم په دغسې وختونو کې مطرح نه شوم، چا سم را و نه ژغولم.

ملګري مې دا ځتلي هر وخت د سترو مېلمنو مخته د هغو مېلمنو مخته چې ځان ورته لوی ښکاري ځانونه مخته مخته کوي او زه بېچاره بیا هم شا ته شاته کېږم، خو دا مهمه نه ده.

مهمه خبره دا وه چې سره وموپېژندل او چې ښه یې ځان په ډوډۍ ډك کړ، نو ښه ستاینه مې وکړه، بیا مې خپلې څو کیسې ورته ولوستې.

زما کیسې یې ښې خوښې شوې، باید خوښې شوې یې وای، خو نه پوهېږم چې هسې یې زما د خوشالۍ لپاره وستایلې، که د زړه خبره یې کوله.

ما ته يې وويل چې کله مو سره ليدل، خامخا به دې کيسې را اوروې، زما د کيسې د خپرولو وعده يې هم راکړه چې د چاپ زمينه به ورته برابره کړي، خو زه پوهېږم چې زما مخه به نيسي، ځکه چې په ځان يې ختمه وه، نو بل چېرته پرېږدي چې تر ده مخته شي.

خو دا هم ښه شول چې سره ومو پېژندل، ګوندې د ده له لارې رښتيني تکړه ليکوال وپېژنم.

دا ټول کارونه به هغه وخت کېږي چې زه قاهرې ته تبديل شم، يا قاهرې ته نژدې لکه داوسني کار غونډې کار پيدا کړم او له دې ختيلي ښاره په خير پښې سپکې کړم.

وزارت که راسره د تبديلي موافقه وکړه، بيا به دا ښتلي پوه شي چې "مړه" څوك ده او "ښتلي" څوك...

ټك ټك شو..

دى له خپل توشکه اوچت را غورځار شو، دربيم که خلورم سګرېټ يې له لاسه وغورځېد، له ورخطايي يې يوې خوا بلې خوا وکتل، پوه شو، چې خبر دى ((موږکانو)) ټك او پوك جوړ کړى.

ايا دا وار به يې کومه مړه نه وي نيولې؟

او که يې نن بيا د ټل غونډې ترې ټوپ کړي او قفس ور هسې پوري شوى دى..

چې له کومې ورځې دې کوټې ته راغلى دى له اولې ورځې يې له موږکانو سره سر و. او دى هر وخت په مړې پسې ګرځي چې ويې نيسي، دى يې د دې لپاره نه نيسي چې مړه يې کړي د دې لپاره يې نيسي چې له دې کوټې چې وباسي، او ښه يې وويني چې دا ((مړه)) لا څه وړ ده چې ده ته هم خلك مړه وايي.

ده په خپل ژوند کې ډېر موږکان له لرې ليدلي دي، خو کله چې يې سترګې پرې لګېدلې دي، هغوى منډه کړې ده او عجيبه ده چې هېڅکله يې هم په تلکه کې بند موږك نه دى ليدلى.

لاسونه يې ومونښل او خپلې وچې شونډې يې په ژبه لندې کړې، شمه يې راواخيسته سوکا سوکا د تلکې خوا ته ورغى او هو.. اخر يې مړه ونيوله..

ښه په خیال یې تلکه راپورته کړه پر مېز یې کېښوده، شمه یې ورته ونیوله، ځیر ځیر یې ورته وکتل او موسېد.

داسې احساس یې وکړ چې دی هم په زندان کې ژوند کوي، د ده او د دې مږې څه توپیر دی.

دا یو کوچنی بې وزله حیوان له خپل استوګنځي په یوې مړې ډوډۍ پسې راوتلی و او په دې لومه کې کېوت.

او دا خوراکې نشی کولی چې په تلکه کې دا یوه ګوله تر ستوني تېره کړي او بیا ځان هم وژغوري.

دی په دې حالت کې یو مخ مږې ته ورته دی.. دواړه وږي دي او دواړه په لومه کې نښتلي دي.

خوا یې بده شوه.. موسېدلې شونډې یې سره ورغلې. انسان څومره بې لاس او پښو بنیادم دی.

دی چې کله د انسان په هکله ژغېږي ټول انسان یو وږ ورته ښکاري پرته له هغو غټو مږو چې د ډوډۍ پروا نه لري که له مځکې وي که له اسمانه ور رسېږي.

نو د انسان او دې مږې تر منځ څه فرق دی.

د یوې مړې ډوډۍ لپاره هم انسان خپله خپلواکي له لاسه ورکوي، هم مړه...

دغه یوه مړې ډوډۍ ده، چې په دغه مردار ښار کې بندي یم او د ماموریت ځولنې پښو ته را لوېدلې دي.

ایا دا مې په وس کې نه ده چې په لږ زیار ستر لیکوال را څخه جوړ شي خو د زیار او خوارۍ مخه مې دغه یوې مړې ډوډۍ نیولې.

او دغه مږه هم! نشي کولی چې ازاده وګرځي، لوږه یې مجبوره وي چې دغه بدمرغه ماتې ومني.

خوارکۍ!

ګرانه ملګریه، هېڅ هڅه مه کوه تر څو زه و نه غواړم له دې زندانه نشې خلاصېدلی ټول واک دې له ما سره دی، خدای دې تقدیر ته هم انصاف ورکړي، د یوې مږې واک بلې ته ورکوي! غواړې چې دا اوس اوس دې پرېږدم!

خلك خو وايي چې وژل دې روا دي، ځکه چې ته په دغه واړه ځان د ناروغيو مور يې!

که په دې حساب عدالت وکړم، نو مرګ دې روا دی، خو له دې چې دواړه يو ور يو، نو زړه مې غواړي چې درباندې ورحمېږم او پرې دې ږدم.

زه نه پوهېږم، ستا په وژلو د مځکې موږکان نه کمېږي، نه دې دي اورېدلي چې پوهان وايي، که په مځکه څه مصيبت راشي او ژوندي ساري تولـه پوپناه کړي نو يوازې دوه ډوله ژوندي ساري به پاتې شي او هغه: مږك او مېږی دي.

ملګريه لږ وار کوه.. تر خلاصېدو مخته به لالږ خواله سره وکړو.

اوف.. لوږې خپلواکي در څخه هېره کړې وه!

نه پوهېدې چې د هغې ډوډۍ دې مخ پرته شي چې خپلواکي در څخه اخلي، پوهېږم چې ستا ستونی به هم يوې مړۍ ته دغسې تخنېږي لکه زما وال.

سيد د قفس لومې ورته لاس ور وغځاوه او خلاص يې کړ، ده سږي ته وکتل هغې ډوډۍ پرېښوده او د توغندي غوندې چابکه ووته.

سيد له قفس لومې د ډوډۍ ټوټه راواخيسته، له لوږې يې خپلې شونډې وختلې، د ډوډۍ ټوټه يې د کوټې هغه کونج ته يوړه چې مږه هغه خوا ته ولاړه، هلته يې کېښوده.

بېرته په توشك وغځېد، چت ته ځير شو، چورت يووړ که وزارت سبا سبا د ده تبديلي قاهرې ته ومني، نو بيا به په عقديانو او بخيلانو څه تندر را پرېوتی وي؟

د ده سترګې خوب يووړې او نه پوهېده چې وزارت د ده په هکله وار له مخه پرېکړه کړې ده د تبديلي پرېکړه نه، د برطرفۍ پرېکړه.

# د نړيوالو کيسو بېلګې

د بېلګو انتخابول ګران کار دی، څنګه کيسې په دې فصل کې راواخلو؟

هغه کيسې را واخلو چې د تکنيك په تول پوره وي پيل، پلاټ او پای ولري يعنی ساده کيسې.

که تحليلي کيسو ته مخه کړو هغو ته چې اصول او قواعد نه مني خو له کيسه ايز ادبه تيری نه کوي!

او يا له دواړو بېلګې راواخلو.

که دغه وروستۍ خبر ومنو، نو له نړيوالو ليکوالو به کوم يو انتخابوو.

او که مو کوم ليکوال خوښ کړ د هغه له لنډو کيسو به کومه يوه راچڼو چې له هرې خوا پوره وي.

په حقيقت کې نه د بېلګو انتخاب اسان دی نه دا چې څوك په خپل ذوق ديو مشهور ليکوال يوه کيسه انتخاب کړي او هغه د لنډې کيسې د فن يو کامل مثال وبولي دا خبره هم آسانه نه ده چې څوك ووايي پلانۍ کيسه د نړۍ تر ټولو کيسو غوره ده او يا ووايي چې پلانۍ کيسه ليکوال د دنيا او يا د ده د هېواد تر ټولو پياوړی ليکوال دی.

په فني او ادبي نړۍ کې د تفضيل ياغوره توب صيغه فن او ادب ته نه کارول کېږي، موږ دا نه شو ويلای چې پلانی تر ګردوښه ليکوال

دی، یا تر ټولو ستر هنرمند دی، او یا ووایو چې دا یو مخ بې جوړې کیسه ده، خو دا منو چې ستر لیکوال شته ، ښکلې کیسه شته او غوره هنرمندان شته.

داسې هم نه ده چې د یو لیکوال ټولې لیکنې له یو مخه غوره یې وي. که یو لیکوال هر څومره تکړه وي او هر څومره مشهور وي بیا به هم ټولې لیکنې عالي نه وي او دا شی ګڼ عوامل لري.

مثلاً د موپاسان د ((غاړګۍ)) ترکیبي لنډه کیسه چې ناڅاپي پایله لري د ټولو نړیوالو کره کتونکو په اند د همدې ډول کیسو یو کامل مثال دی، او ټول یې په یوه خوله ستایي.

ښایي دا خبر سمه وي خو آیا د موپاسان ټولې کیسې د همدې غاړګۍ په څیر ښې دي؟! او یا که هره ترکیبي کیسه د غاړګۍ په سویه نه وي نو ښه یې نشو ګڼلی؟

بل مثال د سومرست موم دی!!

دی په نړۍ کې نن سبا د لنډې کیسې باچا دی خو دا باچاهي تر ډیره حده د هغه د سپین ږیریتوب له امله ده نه د هغه د فن په خاطر، ځکه چې د ده په څیر ډېر نور تکړه لیکوال هم شته .

سومرست موم د کیسې لیکلو نړیوال شهرت لري، له دې درکه یې ډېرې پیسې ګټلي دي خو یو مصري کره کتونکي هغه ته د نړۍ د یو ستر کیسه لیکوال په سترګه نه ګوري .

یو مخ لکه د خدای بخښلي عقاد غوندې چې شوقي یې ستر شاعر نه ګاڼه!

دا خبر موږ ته د یو ستر لیکوال په اړه د کره کتونکو د نظر یو مخالفت په ډاګه کوي، یعنی هغه څوك چې زه ستر کیسه لیکوال بولم بل یې نه ګڼي!

دغه شی د نړیوالو کیسو د بېلګو چڼل راته سخته کړي دي.

کومه کیسه به غوره بېلګه وي؟!

له ښه غور او سوچ وروسته مې دا ستونزه داسې حل کړه چې له یوه اندیواله مې چې په انګلیسي نه پوهیده وغوښتل د کتابتون له هغه

الماری چې د سترو نړیوالو لیکوالو لنډې کیسې په کې پرتې دي درې کتابه ماته راوړي، هغه دا درې کتابونه راوړل :

یو د موپاسان

بل د سومرست موم

او دریم د پیرل بک کتاب ·

دا درې لیکوال خو بې له شکه د نولسمې پیړۍ له پایه تر ننه ډېر مشهور کیسه لیکوال دي. نو ومې پتیله چې د اوسنیو ادبیاتو له سترو لیکوالو دوې کیسې راواخلم چې په International Short Stories مجله کې یې خپروي ·

توکلې مې د موپاسان کتاب پرانیست د(( ډارن مین )) کیسه راووته په همدې ډول مې ((څلور هالنډیان)) کیسه د سومرست موم له کتابه پیدا کړه، او د پیرل بک (( ناڅاپه )) کیسه هم په فال راووته · له هغو دوو نورو کیسو سره مې هم دا چم وکړ · دا کار مې ځکه وکړ چې یو خو د ببلگو په غوره کولو زما خپله رایه او نظریه نه وي تپل شوې، بل دا چې له یو ستر لیکوال سره مې زیاتی نه وي کړی چې ما یوه کیسه د هغه د غورې کیسې په نوم رااخیستې وي او دی بل نظر لري ·

پدې ډول پنځه نړیوالې کیسې لاس ته راغلې، درې یې د دریو مشهورو نړیوالو لیکوالو، او دوه نورې یې د دوو نورو لیکوالو چې د لومړیو دریو په څیر شهرت نلري ·

١ (( ډارن مین)) د فرانسوي لیکوال گي دې موپاسان ·

٢ - (( څلور هالنډیان)) د انگریز لیکوال سومرست موم ·

٣ - (( ناڅاپه )) د امریکایي لیکوالې پیرل بک لیکنه ·

۴ - (( د انسان تقدیر )) د روسي لیکوال ریکیو ·

۵ - (( پیشو)) د هسپانوي لیکوالې اناماریامانیموت ·

گومان نه کوم چې داسې کیسه لوستوال هم وي چې هغه د موپاسان، سومرست موم او پیرل بک نه پیژني نو ځکه هغوی لنډه پېژندنه نه وړاندې کوم.

او د دغو نورو دواړو لنډه پیژندنه به چې د هغو دریو په اندول نړیوال شهرت نلري راوړم.

# ډارن مین

## ګي دي مو پاسان

تیرې هیرې خبرې په زړه پورې وي · زموږ په زړونو ناستې وي او د زړونو تل ته ورکوزېږي، هېڅکله یې نشو هیرولی ·

زما په ژوند کې ډېرې ښېښې ښېښي شوي دي، ځنې د خوشالی وي، ځنې یې د خپګان او ځنې یې هیښ کوونکي خو کلویشت ادې ښېښه سره له دې چې ساده ښېښه وه کله مې له زړه او ذهنه نه وځي، عجیبه مې په ذهن خپره ده داسې ورځ دې بده شي چې یو نه یو وار به کلویشت ادې نه را په زړه ګېږي ·

زه دولس کلن وم چې دا زموږ کورته د هرې پنجشنبې په سهار راتله سپځیدلې جامې یې راګنډلې په هغه وختو کې موږ په کلي کې وکور مو دکلي له کلیسا سره و، کلویشت ادې به عادتا د سهار اوه بجو شاوخوا راتله، او ټوله ورځ به یې د سپځیدلو کالیو په اوبدلو او سمولو تیره کړه ·

دا بوډۍ وه، ګوډه وه،د پوزې په سر او نور مخ یې ځای ځای پاسته وینبتان راشنه و وینبتان یې د ږیرې په څیر ښکاریدل ·· او ګڼې وریځې یې داسې ښکاریدې لکه غټ بریتونه چې یې د شونډې پر ځای د سترګو د پاسه پراته وي ·

کلوشیت ادې په ما ګرانه وه، دې هم زه ښه ایسیدم د کلي کیسې او ټوکې به یې راته کولې او له جیبه به یې هر وخت ماخی راایستلې راکولې به یې ·

يوه پنجشنبه چې سهار راغله زه د هر کله غوندې وړپسې شوم تر هغې کوټې ددې شاته روان وم چې سپخیدلې کالې به یې په کې ګنډل ۰ ما ویل چې نن بیا راته کیسې وکړي او خوله مې په ماخیو خوږه کړي ۰ خو کله چې ورننږدې شوم سر یې د چوکۍ خواته کوږ ، لاسونه یې بې حاله یوې خوا بلې خواته پراته و، ستنه یې لا په ګوتو کې کلکه نیولې وه ۰۰ پلار او مور زما چېغې واوریدې په منډه راغلل، چې ښځې ته یې وکتل څه ۰۰ څه یې وکړل، په منډه د کلي په سپین ږیرې ډاکتر پسې ووتل ۰ ډاکتر کلوشیت ادې تر یوې دقیقې لږ معاینه کړه، بیا یې وویل زړه یې دریدلی مړه شوې ده ۰ تیکه مې نه راتله یوې خوا بلې خواته شوم اخر په منډه د ناستې کوټې ته ولاړم په یوه تیاره کونج کې مې په چوکۍ ځان واچاوه او اوښکې مې وبهیدې ۰

لږ څه وروسته مې پلار او مور له ډاکتر سره راغلل، دوی کېناستل خبرې یې پیل کړې ۰ ډاکتر ته یې شربت ورکړي و هغه یې څښل، لکه دوی چې ما په دغه تیاره کونج کې نه ویني ۰۰ نو د کلوشیت ادې ټوله کیسه مې واوریده ۰

سپین ږیرې ډاکتر وویل:

ـ خوارکۍ کلوشیت ادې ۰۰ په اوله کې چې دې کلي ته راغله وروسته له دوو ورځو یې پښه غوټه ماته شوه ۰۰ تر اوسه مې دغه پښه په زړه ده داسې راته ښکاري لکه پرون چې پښه شوې وي حال دا چې پوره څلویښت کاله مخته یې پښه ماته شوې وه ۰

د خدای کارونه دي !۰۰ د چا باور نه راځي دا هغه وخت ولس کلنه وه ښه کره وره یې ول، ښایسته اندام یې و، چې چا به ولیده خامخا به یې سترګې وراوښتې تر اوسه مې چا ته دا کیسه نه ده کړې ۰۰ له ما پرته د دې کیسه چا ته معلومه نه ده یو بل سړی هم پرې خبر دی هغه اوس زموږ له کلي لرې اوسي ۰

کلوشیت په ځوانۍ کې د مسیو جاربو په ښونځي کې د اوبدلو ګنډلو ښوونکې وه هورې سیجبرت نومې یو ځوان هم و ۰۰ دغه ځوان ښوونکی ښه ګپي سړی و، د ټولو نجلیو زړه کیده چې له ده سره واده وکړي، خو ده یوې ته هم زړه نه کیده کله چې یې کلوشیت ولیده خوښه

يې شوه. په غوږ کې يې وپسنيده د مينې خوږې خبرې يې ورته وکړې ورته وې ويل: يوازې ته مې خوښه يې. کلوشيت خورا خوشاله شوه ورسره وې منله چې د رخصتۍ په وخت به د ښوونکيو او زده کوونکيو له تګه وروسته په دوهم پوړ کې د تفريح خونې ته ورځي.

د رخصتۍ په وخت کې کلوشيت شاته کيده د دې پر ځای چې ووځي دوهم پوړ ته وخته او د تفريح په کوټه کې يې ځان پټ کړ، ځوان ملګری يې په بيړه کوټې ته ورغې کلوشيت يې وليده، دی پوړيده، ډاريده چې د ښوونځي څښتن او مشر مسيو جاربو يې سره ونه ويني. له څه چې ويريده هغسې وشو، چې څنګه دوی سره نږدې کيدل ور بيرته شو او مسيو جاربو کوټې ته ورننوت ناري يې کړې: ((سيجبرته دلته څه کوې؟!))

سيجبرت ورته وويل: ((دلته لږ دمه کوم)).

سيجبرت کلوشيت ته تر ژبې لاندې وويل: ((د هغه لوې چوکۍ لاندې پټه شه.. زر کوه!)).

د ښوونځي مشر لکه چې دا پسنۍ واوريد، خو هغه ته څوك په کوټه کې ورښکاره نشو ځکه چې ماښام و او کوټه تياره وه، بيا يې سيجبرت ته ور ږغ کړل ((سيجبرته څوك دي درسره، يوازې خو نه يې)) سيجبرت دده د شك ايستلو لپاره ټينګار وکړ چې يوازې يم.

مشر ورته وويل:

((ډير ښه! .. په خپله به يې وګورم!)) .. بيا يې د کوټې ور له د باندې په کلي کولپ کړ، او دی ولاړ چې څراغ ورسره راوړي او کوټې ته وګوري.

سيجبرت ډير ډارن و- لکه د شريرو خلکو يې عقل له لاسه ورکړ، وارخطا شو مخ يې سور شو، کلوشيت ته يې په پوړيدلي ږغ وويل: ((د خدای لپاره د چوکۍ لاندې پټه شه.. که جاربو دې ووينې و به مې شړي، روزي به راباندې ودريږي .. مخ به مې تور شي!)).

نجلۍ ورو ورته وويل: ((ورته ووايه چې موږ واده سره کوو..

دی په خوله کې ورولويد: ((چيري! .. اوس مو لا د واده وخت نه دی.. اه : . د ښښو دربا يې ده .. پټه شه.. خدای ته وګوره!)).

نجلۍ ده ته بد بد وکتل بیا یې ورته وویل: ((نه پټیږم ۰۰ له ورسۍ توپ کوم ۰۰ بس دومره راسره وکړه چې جاربو لاړ روغتون ته مې ورسوه!)) ۰

چې کلي په وره کې تاوېدله، کلوشیت د دوهم منزل له کړکۍ لاندې پټېو ته توپ کړل دغه خوا د ښوونځي شاته وه ۰۰ د ښوونځي مشر شا و خوا ولیده هیښ شو چې څنګه یې بل څوك ونه موندل ۰

سیجبرت زموږ کور ته په منډه راغی، راته وې ویل راځه ملګرې مې بچ کړه، د شپې شرکنده باران ورېده، زه د ښوونځي شاته ورسره ولاړم، هلته دا کمبخته د دیوال څنګ ته غزېدلې وه، ښې لینګی یې مات و کله چې مو راوړه له خبرو لوېدلې وه ۰۰ په لاره کې یې په زګروي وویل:

((خپله جزا مې ولیده ۰۰ هره سمه نجلۍ چې له بې لارې سړي سره مینه کوي دغه یې جزاء)) ۰

په کلي کې مو اوازه خپره کړه چې کلوشیت بګۍ وهلې، بګیوال تښتېدلی، دا یې دغسې پرې ایښې ده ۰ ټولو زموږ په جوړې کړې خبرې باور راغی، پولیسو ناکامه هڅه وکړه چې بګیوال پیدا کړي ۰

کلوشیت ګوډه شوه عمري ګوډه په همدې ګوډ حالت کې سیجبرت د واده ورته وویل ۰۰ خو هغې سخته رد کړه د هغې په ګومان ښوونکی سیجبرت اوس د زړه سوي په خاطر واده ته تیار شوی و او زړه سوی یې ځکه کاوه چې د تفریح په خونه کې یې د دې له خوا د واده وړاندیز نه و منلی حال دا چې دې د سیجبرت د بچولو لپاره ځان له دوهم پوړه راخطا کړی و ۰

په رښتیا هم کلوشیت د هغه د راتلونکي لپاره قرباني ورکړه ۰۰ خپله اینده یې قربان کړه، سر یې سپین کړ تر اخره یې واده ونه کړ اوس به ورباندې څوك ویر کوي.

# څلور هالنډيان

موږ په سينګاپور کې وو، د فان دورت په هوټل کې، د دې هوټل يو پوړ همېشني مسافرو ته مختص شوی، اکثر يې د بېړيو هغه خاوندان چې کار نه لري، بحري انجنيران، ماڼوګان او هغه زميندار وي چې کلنۍ رخصتي په دې بندر کې تېروي. زما خوښېږي، چې د چکر شپې په دغسې يوه هوټل کې تېرې کړم، چې د مختلفو خلکو له ربښتونې ژوندانه خبر شم. د لوړ رتبه او شتمنو لپاره ګران بيه هوټلونه په ټولو هيوادونو کې يو ور دي: نڅاوې، سندرې، لوکسې ښځې مکلفه ډوډۍ، قيمتي شراب او اکثر نور شيان يې تشريفاتي وي. دغه د فان دورت هوټل باغ ډېرې ونې لري، زه د ونو سيوري ته کېناستم، عمومي سړک ته مې کتل، ډېر نوي ماډل موټر، د کرايې زاړه موټر او د سړيو رکشې وې، چې بهېدې.. او خلک لکه مورخين چې د بابل د برج وايي د هر توک، رنګ او دين ښکارېدل.

زما څنګ ته په واړه مېز ځينې ورځپاڼې اومجلې پرتې وې، تر اوسه مې لا پاڼې نه وې ور اړولې. يوه هالنډي ته مې پام شو، له خپل ملګري سره هوټل ته ننوت ورته ويل يې:

- زه د ترخو وريځو او مرغانو د غوښې لپاره دغه هوټل ته راځم..

د ((ترخو وريځو او مرغانو له غوښې)) خبرې ته مې خندا راغله، څو مياشتې پخوانۍ خبره را په زړه شوه، چې سينګاپور ته راغلی وم..

هغه وخت د ملایو د ارخبیل په ټاپوګانو ګرځېدم، یوه زړه قوي تجراتي بېړۍ مې ځانته کرایه کړې وه.. د کشتۍ ساتونکی، چلوونکی، سر انجینر او د خزانه دار دغه ((ترخې وریځې د مرغانو له غوښې سره)) خوښېدې... د دوی هر ماښام دغه خواړه وو، هر یوه به خپل بېشقاب له وریځو ډک کړ، ورته ناست به و.. که د دغو ټاپوګانو کوم مشر ډوډۍ ورته کړې وای نو په ډوډۍ کې به د نورو شیانو تر څنګ دوی هرو مرو ((ترخې وریځې د مرغانو له غوښې سره)) ترې غوښتې.

- بېړۍ د دولسو مساپرو لپاره وه او زه یوازې وم، کله چې به دې نورو ډوډۍ خوړه، بلنه به یې راکوله، زه به ورګډ شوم او دا خوندوره ډوډۍ به مې په خوند ورسره خوړله.

دغه څلور کسان عجیب خلك ول، ما په خپل ژوند کې داسې څلور چاغ ټوکي اندیولان یو ځای نه وو سره لیدلي، نومونه یې نه را په زړه کېږي، را څخه هېر دي، خو کارونه مې په زړه دي: یو کشتۍ وان، بل یې ساتونکی، دریېم سرانجینر او څلورم خزانه دار. څلور واړه جګ، پلن، چاغ. د ورونو غونډې ورته ښکارېدل. دوی سره خواړه ول، داسې اندیوالي یې وه چې ما د دوی په څېر ملګرتیا کله نه وه لیدلې. یو ځای به یې ډوډۍ خوړله، خندل به یې، یو څو تکرار ټوکې یې کولې، هغو ته به یو وار له یوه مخه سره شنه شول. ټوله ورځ به یو ځای وو، یو د خوب او کار پر وخت به سره بېل شول.

دوی په خپلې ملګرتیا کلك ولاړ ول او یو بل ته له سره تېر ول، نه یې غوښتل چې بل له ځان سره په دې اندیوالۍ ورګډ کړي.. که زه په بېړۍ کې یوازې نه وای، او دوی نه پوهېدی چې یو څو ورځې به ورسره یم نو خدای که په هېڅ شي یې ورګډ کړی وای، د یو بل شي لپاره یې هم زه له ځان سره ګړی وم، د بریدج لپاره دا لوبه په څلورو کسانو کېده چې لکه به کوم یو په کار لګیا شو، د هغه په هغه ځای به زه لوبې ته کېناستم.

د دوی ملګرتیا دومره ټینګه وه، چې کشتي وان تر دې لوبې او ګرندۍ بېړۍ ته زړه نه ښه کاوه او ساتونکي ته هم همداسې ښه ځای کار پیدا کېده، خو دوی ټولو په یو خوله سره ویل:

((په ژوند کې نور څه غواړو: روغه بېړۍ، خواړه ملګري، خونده ور خواړه او خوش بويه بير؟))

کله ناکله به د ماښام له ډوډۍ وروسته د ښځو په څکله ژغېدل، د راتلونکي خبرې به يې کولې، چې کله تقاعد شوو، څه به کوو. ساتونکي به ويل زه خپل هيواد ته ځم، له يوې ښايسته نجلۍ سره واده کوم، له هغې سره د زويدرزۍ خليج په غاړه په يوه کور کې پاتې عمر تېروم.. سر انجينر به ويل زه به په يوه ختيځ هېواد کې اوسم له يوې تور سترګې ښايسته ختيځوالې سره واده کوم، چې يو څه ښه اندام لري او په زړه پورې وي له هغې سره د اهرام په لمنو کې اوسم يا د فرات په غاړو او يا د لبنان په کليو.. کشتي وان خپلې شونډې وزېښلې، ويې ويل، زه به له هغې لومړۍ نجلۍ سره واده کوم چې له هالنډې پلار او ختيځوالې ښځې زېږېدلې وي. په دې ډول به لوېديځ ښايست له ختيځ سحر سره يو ځای شي.. سپين پوست له تودې وينې سره..

خزانه دار په ټولو پسې په کټکې وخندل، ورته ويې ويل: دا خوبونه او خيالونه دي چې وينئ يې، موږ هېڅ وخت نشو بېلېدی، مګر عزراييل م سره جلا کړي..

کشتي وان په خپله خبر کلك و، غوښتل يې چې ژر يې ارمان تر سره شي، په سفر کې به يې ځانته ډېر پام و، کله چې به بېړۍ په کوم بندر درېده په بيړه به يې تنده ماته کړه.

زه چې له دوی څخه د ماکاسر په ښار کې بېلېدم، خزانه دار راته وويل:

-هيله ده چې يو کال وروسته بيا راشئ، موږ به درته انتظار يو، موږ څلور چاغ په بحر الکاهل کې ټول پېژني. زه چې له دوی تلم زړه مې نه کېده،له ځان سره مې ويل که مې وخت پيدا کړ بيا به هم دوی پيدا کوم. په رښتيا چې دغه چاغ ملګري په سرېتوب، ټوکو او د خېتې په غم کې بېجوړې ول.

له دې سفره وروسته څو مياشتې د بالي، جاوا، سومترا او کمبوديا تر منځ ګرځېدم اخر د استراحت لپاره په سينګاپور کې دغه د فان دورت هوټل ته راغلم.

***

مجلـو او ورځپـاڼو تـه مـې لاس ور وغـځاوه، د دغـو ورځپـاڼو اومجلـو د لوستلو لپـاره مـې پـه سفر کـې کـافي وخـت نـه درلـود، ځینـې د سـفر پـر وخـت لاس تـه نـه وې راغلـې. مـا یـوه ورځپـاڼه را واخیسـته وار لـه واره مــې پـه دې خبر سـترګې ولـګېدې:

((نـن د اتـر خـت بـېړۍ د غمجنـې پېښـې لـه املـه سـاتونکي او خزانـه دار ونیـول شـول)) چـې خـبر مــې ولوسـت ځای پـر ځای ودرېدم، لـه ځانـه سـره مـې وویـل:

- خیـر کـړې.. د دغـو څلـورو چـاغو بـېړۍ خـو اترخـت نومـېده، چــې څه بـه ور پېښ شـوي یـې؟

هـڅه مې وکړه چـې پـه همـدې ورځپـاڼه، یـا پـه نـورو کـې د دې تفصیـل ومـوم، خـو پیـدا مـې نـه کـړ، د هـوټل مدیـر تـه ورغلـم، هغـه هالنـډی و، د چـاغو ملګریـو پوښتنـه مـې تـرې وکـړه، مدیـر سره تریـو شـو، زه یـې خپـل دفـتر تـه بوتلم، چـې څومـره خبر و هغـه کیسـه یـې راتـه وکـړه..

حادثـه هغـه وخـت پېښـه شـوه چـې کشـتیوان لـه وختـه مخـه د واده نیـت وکـړ، یعنـې لـه تقـاعده مختـه، لـه خپلـو ملـګرو هلتـه بـېل شـو، چـې د یـوې جلـۍ پـه مینـه کـې غـرق شـو، د دې نجلـۍ مـور هالنـډۍ وه او پـلار یـې د ملایـو د ټاپوګانـو، ده پـه خیـال کـې لـه دغسـې یـوې نجلـۍ سـره واده کـول غوښتـل چـې ښایسـته وي، جذابـه وي، پوسـت یـې سـپین وي او وینـه یـې توده، نـو پرتـه لـه څه تـردده یـې واده ورسـره وکـړ، پـه بیـړۍ کـې یـې لـه ځان سره کـړه...

کشـتیوان پـه دغـې ځوانـې نجلـۍ ګرم شـو، ټول وخـت بـه یـې لـه دې سره پـه خپلـې کوټـې کـې تـېراوه..

هغـه نـورو دریـو ملـګرو یـې هـڅې وکـړې چـې د پخـوا پـه څېر سـره یـو ځای شـي، خـو ګټه یـې و نـه کـړه.. تـر ټولـو سـر انجیـنر چـې لـه کشـتیوان سـره یـې لـه زلمیتوبـه انـډیوالي وه ډېر خوابـدی او غمجمـن و.

پـه بـېړۍ کـې هغـه پخوانـی جـوش نـه و پـاتې، څومـره چـې د کشـتیوان مینـه لـه خپلـې ښځې سره زیـاتېده، هومـره یـې لـه ملـګرو سـره دلچسـپي کمـېده..

د دغو نورو دریو ډېر زړه په تنګ شو، د هغوی په اند هسې په هسې د دوی ملګرتیا خرابېده. د انډیوالي شکېدل په خوابدي بدل شو او ډېر ژر د کشتیوان او سر انجینر تر منځ دښمني پیدا شوه.

یوه شپه کشتیوان د سر انجینر کوټې ته ور ننوت، هلته یې خپله مېرمن د یوه غټ صندوق شا ته ولیده، په سر انجینر یې ډزې وکړې، بیا یې منډه کړه او په خپله کوټه کې یې ځان وویشت، دواړه مړل شول، ټول هېښ ول، هېڅوك په حقیقت خبر نه وو.. ولې ځوانه ښځه د سر انجینر په کوټه کې پټه وه؟

ایا هغه د دې لپاره هلته تللې وه چې د سر انجنیر او خپل مېړه تر منځ روغه وکړي؟

ایا د دې لپاره د سر انجینر په کوټه کې پټه وه چې له هغه د مېړه غچ واخلي؟

ایا د سر انجنیر معشوقه وه؟

ایا سر انجنیر د دې لپاره راغوښتې وه چې د بندر په اوله برخه کې یې په زور ښکته کړي، مېړه ترې خلاص کړي او کشتیوان بېرته انډیوالي پیل کړي؟

دا پوښتنې بې ځوابه پاتې شوې.. ښځه په بله ورځ پټه شوه، چا و نه مونده.. ساتونکي او خزانه دار د خپلو ملګرو د انتقام لپاره د ځوانې ښځې د وژلو او بحر ته د هغې د جسد د اچولو په تور محاکمې ته وړاندې شول...

خو محاکمې سم دلایل و نه موندل، دوی یې بري کړل..

ایا د رښتیا یې وژلې وه؟ او که نه.. نو څه شوه، څنګه پټه شوه؟ که هر وړ وه، او هر څه وه.. خو د دې له لاسه د دغو څلورو خوږه ملګرتیا چې د وفا، خوښي او سربښندنې مثال وه، ړنګه شوه.

# ناڅاپه

## د امریکایي لیکوالې پیرل بک لیکنه

مارتن لي ځوان چیناني و، اوه کاله یې په امریکا کې د معادنو زده کړه و کړه ۰ داسې شهادتنامه یې واخیسته چې کار یې پرې موندلی شو خو پلار یې ترې غوښتل چې زده کړې تر آخره سر ته ورسوه ۰۰ په دې وخت کې په چین کې جګړه پیل شوه جاپانیانو د دوی هېواد ښکیل کړاو د ده له خپلو خپلوانو،سره یې بد چلند وکړ، مارتن لي پلار ته لیك واستاوه چې زه درسونه پرېږدم، د تل لپاره درځم له دښمنانو سره جګړه کوم د پلار ځواب ته انتظار نه شو، چین ته ولاړ ۰

چې ښنګه پیکن ته ورسید په کور کې د خپلې غبرګونې خور سی لي خبرو حیران او غصه کړ حیرانیتا و خپګان یې هغه وخت نور هم زیاد شو چې په بیتك کې یې له پلار سره تقریبا ځلویښت میلمانه ولیدل اکثر یې جاپانیان ول ۰

مارتن د ماښام له ډوډۍ اود مېلمنو له تګه وروسته سي لي ته وویل:

ـ باید مخته دې لاسم خبر وای، پلار خومې ښخوا هم بهرني ملګري درلودل،په هغو کې جاپانیان هم ول۰ او هغه جاپانی بارون موراکي خو یې خاص اندیوال و، لیکن اوس شرم دی۰

هغې ورته وویل: ((زه هم دغه وایم ۰۰ خو پلار ته به ښنګه وایو؟)) ۰

مارتن ورته وویل: ((زه به ورته ووایم ۰۰ وطن تر هر څه مهم دی)) ۰

بله ورځ سهار مارتن د پلار مخته د پخوا غونډې نه،بلکه په جرئت کېناست۰

پلار يې پرې پوه شو، خو ځان يې ناګاره کړ ورته وې ويل: (( زويه نن به سره خواله وکړو۰ پرون خو دې وليدل چې مېلمانه و))۰

مارتن په لوړ ږغ ورته وويل: (( پلاره خبره د وطن ده، زه ښکاره درته وايم۰۰ زه چې راغلم زړه ته مې نه لويدل وار له واره مې په کور کې سترګې په دښمنانو ولګيدې!))

پلار ورته وويل : (( فکر دې ونه کړ چې دا به هم څه علت لري؟))۰

مارتن غاښونه وچيچل :

(( د وطن له دښمنانو سره دوستي کول هېڅ دليل نه غواړي!))

پلار ورته وويل :((په ياد به دې وي له پخوا مې لاجاپاني ملګري ول!))۰

مارتن په قهر شو ځای په ځای ودريد وې ويل: (( پخوا پخوا و اوس مو ټول خلك ويني چې ښکاره له وطن سره خيانت دی))۰

پلار يې په سړه سينه ورته وويل: ((ته د هغو منې؟))۰۰

مارتن غلی و، پلار يې پسې زياته کړه :

((چې څه دې زړه غواړي هغه منه ۰۰ ځوانان ټول دغسې طبعيت لري))۰

دواړه په قهر شول خو مارتن ځان نشوای ټينګولی په بيړه يې وويل:

ـ زه نور په داسې کور کې نه اوسم چې دښمنان په کې معتبره وي په منډه له کوټې ووت، د خور کوټې ته ورغی، هغې ته يې دستې وويل:

ـ پلار ته مې وويل زه نور دلته نه اوسم! ۰۰ ته هم راځه راسره!۰۰ دی پوه شه او کار يې۰))

سی لی ورته وويل:

((زه هم دغه وايم، اوله کرښه په شمال لويديځ کې ده زما ملګرې منج ان لار ليدلې ده۰

*

مارتن چې په اول ځل منج ان ته وکتل سترګې یې ور وانه وښتې همه داسې ښځلې وه چې تر ښځو سړیو ته ډېره ورته وه، کلیوالې لنډه ګڼوډه کمیس یې اغوستی و خو له تورو غټو سترګو او ځیرې کلکه ښځه ښکاریده، تور ویښتان یې لنډ بیاتي کړي و، د مخ پوست یې د بزګرانو په څیر لمر وهلی ښکاریده، د پوځیانو غوندې تلـه، نـه ستړې کیده، دوی درې سره پلې روان شو غرمه مهال د سی لی پښې بې واکه شوې، منج ان ورته وویل:

ـ دمه به وکړو، سبا ته که خیرو ډېره لار تلی شو.

دوی لا سمه ساه نه وه جوړه کړې چې یو بزګر یې ولید بزګر په بازار کې سودا خرڅه کړې وه، اوس یې خالي خره را په مخه وه د دوی خواته راته، منج ان تري وغوښتل چې سی لی په خره یوسي، خرکار ورسره ومنله. خلک هر ځای منج ان سره ښه وضعه کوله هغې ته به یې د څښاك او خوراك شیان مفته ورکول کله چې مارتن له هغې ددې پوښتنه وکړه، دې ورته وویل: ((دوی پوهېږي چې د دوی لپاره زیار باسو!)).

څو شپې یې د دښمن تر لاس لاندې سیمو کې مزل وکړ، منج ان د کښتونو په منځ کې روانه وه هغې د جاپاني پوځیانو له ویرې دوی په دغه لار سم کړي و، اخر د ملي مقاومت د قواو سیمې ته ورسیدل، په اوله قرارګاه کې منج ان یوې کوټې ته ننوته لږ وروسته راووته پوځي جامې یې اغوستې وې یوه کوچنی تما نچه یې له اړخ سره ځیریده، مارتن هغې ته په وارخطایي ځیرځیر کتل، منج ان ورته وخندل وې ویل:

ـ له قومندان سره به خامخا وینو.. نن شپه زه یوه پته لیکنه ورسپارم ستا په راتګ به یې خبر کړم، ستا او ستا په څیر خلکو ته خوشالېږي، ضرورت لري.

بیا له سی لی سره د ښځو ټولي ته رهي شوه او مارتن یې پرېښود چې د سړیو ټولي ته ورننوځي.

د سبا ورځې په سهار قومندان دی وروغوښت ورته وې ویل: ((ته د لي منج چن زوی یې؟

مارتن سور شو، وشرمیدو، په زړه کې ورتیر شو ټول خبر دي چې پلار مې ملي خائن دی.. پته خوله پاتې شو، قومندان ورته وویل:

ـ خبر شوم چې تامعادن لوستي دي دا زموږ ښه تالې دي چې لاس ته راغلی یې ۰۰ وسپنې ته سخت ضرورت دی موږ چې دې غرو ته ګورو لمر ته بربښي، که دغه وسپنه وي نو ژر به لاس په کار شو، شاید سپین زر وي خو سپین زر په دې وخت کې دومره ګټه نلري ۰ پړه شوې چې څومره مهم کار در له غاړې کوو؟

مارتن ورته وویل: ((هو ۰۰ پوه شوم چې څه وایاست!))

څو ورځې وا وښتې، مارتن په غرونو کې له هغو خلکو سره چې ده د کار لپاره له ځان سره کړي و وګرځیده، دی خبر شو چې خور یې ترینګ ته تللې، او د منج ان وظیفه د دښمن د قواو تر منځ تیریدل، پیکن ته رسیدل او له هغه ځایه قومندان ته د خبر راوړل دي ۰

مارتن په څو اونیو کې هر لور ته د سپینو زرو معدنونه وموندل، خو د وسپنې معدنونه په شاوخوا غرو کې نه ول، هڅه یې وکړه چې د غرو شاتنیو کړیو ته ورشي ۰ مصروفیت ترې ښار او کلی هیر کړی و، اخر وتوانیدو چې اوه ځایه د وسپنې معدنونه پیدا کړي، قرارګاه ته راغی، له ځان سره یې څو کاڼي راوړل هغه یې د قومندان پر میز کېښودل او ورته وې ویل:

ـ قومندان صاحب اخر مې وسپنه پیدا کړه، ډېره وسپنه ۰

قومندان یو کاڼی ورواخیست لاندې باندې یې ورته وکتل په لاس کې یې واړاوه راواړاوه، سترګې یې له خوشالۍ وځلیدې او له شېبې ځنډ وروسته یې وویل:

ـ تر سرو زرو مو په دې کې خیر دی ۰۰ څه وخت پسې ورځې؟

ـ دا اوس اوس باید ډېر ژر د اړتیا وسپنه استخراج کړو ۰

قومندان په خوشالۍ وویل: ((ډېر ښه زویه! ۰۰ ما هم غوښتل چې ته دغسې یو خواب راکړې خو نن مه څه، اول به پروګرام جوړ کړو او په تا یو ښه زیری کوم ۰ زموږ هغه له رنګه کوچنۍ جاسوسه دې په یاد ده؟

ـ منج ان؟ هو، ولې نه، هغې زه او زما خور سی لی دلته راورسولو ۰

قومنـدان ورتـه وويـل: ((سـتا خـور دلتـه ده؟ ولـې دې مختـه نـه خـبرولم؟))

ده ورتـه وويـل: ((هغـه وخـت مـا ويـل ضـرورت نشـته اوس پـه دريمـه فرقه کـې ده))

قومندان بتمن ټينګه کړه، سی لی او منج ان يې دفتر تـه راوغوښتـې.

مـارتن لـه ځان سـره ووېـل زېرى بـه دا وي چـې راتـه ووايې پـلار دې د ملي خيانت پـه تـور ووژل شـو.

لږ وروسته مـارتن د عسـکري بوټونـو ژغ واوريـد ۰ سـی لـی او منـج ان پوځي کـالي اغوسـتي و، راننوتـې، قومنـدان منـج ان تـه ووېـل:

ـ هغه مختني خبره بيا راتـه وکـه۰

منـج ان ووېـل : وانـج ننـج د خپـل مشـر لـه قولـه راتـه ووېـل ۰۰ سـکرتر خـبر نـه و هغـه خـو هسـې هـم نـه وي خـبر خـو مشـر ددښمـن د مرکـز حـال د هغه له خولې اخلي.

سـی لـی چيغـه کـړه: ((وانـج ننـج د پـلار سـکرتر؟!)) قومنـدان مـارتن تـه مـخ وروا ړاوه : ((زه پوهيـدم چـې د خپـل پـلار پـه هکلـه څه فکـر لـرې هغـه خپله له مـا غوښتـې و چـې لـه تـا خبره پـټه کـړم خـو نـن پـوه شـوم تـه پـه دې ارزې چـې د خپـل هېواد مينـې پـلار لـه کـارو خـبر شـې، د هغـه چـا لـه کـارو چـې د جاپانيـانود يرغـل لـه پيلـه زمـوږ همکـار دی او ځان يـې لويـو خطـرو تـه ورکـړی دی)).

پـه سی لی اوښکـې راماتـې شوې ورور تـه يـې ووېـل: (( لـه پـلار سـره مـو زياتـي وکـړ))

مـارتن ويـل : ((ربښتيـا ۰۰ بـايد بخښنـه تـرې وغـواړو!))

منـج ان ووېـل : ((زه بـه يـې خـبر کـړم)) ۰

مـارتن هغـې تـه د مننـې پـه سترګه وکتـل، بيـا دواړو يـو بـل تـه سترګـې ونيولـې کله چـې نجلۍ لـه دفتره ووتـې قومنـدان مـارتن تـه ووېـل:

ـ داسې ګومـان مـه کـوه کومـه مينـه چـې تـه زمـوږ لـه کـوچنۍ جاسوسـې سـره لـرې او پـټـوې يـې زه پـرې نـه پوهيـږم! ۰۰ هغـې تـه ووايـه قومنـدان ستاسو پـه مينـه خـوښ دی، هـر وخـت کولـی شـې چـې ورسـره واوسـې، خـو بـايد هغـه د وطـن لپـاره کـار وکـړي، بـايد ټول د وطـن لپـاره کـار وکـړو ۰

# د انسان تقدير

## د ريکيو ليکنه

دا کيسه په چوکشي ژبه ليکل شوې ده. پدې ژبه پخوا ليکل نه کېدل، د ۱۹۳۳م کال په وروستيو کې يې توري پيدا کړل. ويونکي يې په سايبريا کې ميشت دي او اصلا د الاسکا اوسيدونکي دي، په الاسکا کې دوی ته اسکيمو وايي. ريکيو ددې ژبې ځوان کيسه ليکوال دی په ۱۹۳۱م کې زېږيدلی دی. روسي ادبيات يې لوستي دي، انګليسي او امريکايي ناولونه يې په روسي ژبه کتلي او له هغو اغېزمن دی.

* * *

واورې وريدې. سپينه رڼه واوره په ژېړبخونو کلکو ټوټو بدله شوه. له يوې نيمې ختيځې لورې پرته يې ټوله سيمه پوښلې وه. اسمان تک شين برېښيده. د ورځې هوا ګرمه وه، د شپې له خوا به څه نا څه ساړه و، لړې ډېرې شوې وې. د خوړمنې لمر راختلی و داسې ښکاريده چې څلور ورځې يا يوه اونۍ وروسته به لمر غروب نه کوي. غروب به دومره وي چې لمر د افق په څنډه ولګيږي بيا سر راپوته کړي پرتې واورې اوبه کړي. او دغه څو ورځې وروسته به بيا د اوړي تر پايه شپه او ورځ سهار وي.

دغه ورځې ډېرې خوندورې دي. په خوړمنې د سيمې خلک سهار وختي پاڅيږي له هغه وروسته د هېڅچا زړه خوب ته نه کېږي. په ژمي د هر يوه په خوب ښه ارمان ختلی وي. د ښکاري به بيا څنګه سترګې سره ورځې چې په سر يې د هيليو سيلونه تيريږي؟ انبينير وايي هيليو

ته به څوك ګوري چې د سخوندر كب ( د سايبريا يو ډول غوړمبيدونكي كبان دي ) غوړمبا يې تر غوږو شي.

پيټير به د زړه خبره په خوله وه · چې وبه يې ويل غوړمبا مې واوريده نو د ربښتيا به يې اوريدلې وه · كه خبره هر وړ وه ناآشنا خبره نه وه، سخوندر كب كه په پسرلي كې ونه غوړمبيږي څه وخت به غوړمبيږي · نور د سخوندر كب د ښكار او د سمندر د تګ لومړي وختونه رارسيدلي و.

واوري اوبه كې‌دې بس يو د سمندر د غاړې پلن كنګلونه لاكلك ول، سره له دې چې وړې ټوټې تري بېليدې خو بيا هم غټ كنګلونه هم هغسې غټ ښكاريدل، او هر ورځ به موجونو كنګليزې ټوټې شمال لورته وړې، خو بيا هم له غاړو تر سمندره ډېره لار وه كم له كمه پنځه شپږ كيلومتره راتله.

كنيري د ښكار په هيله د كنګل په ژۍ ناست و، ټوپك يې په زنګونو ايښي و مخامخ يې نيغ نيغ كتل، د سخوندر كب انتظار و چې ورښكاره شي · خوشاله ښكاريده، څنګ ته يې هغه دوه سخوندر كبان پراته و چې په سر يې ويشتي و · اوهو ·· كنيري خو ډېر تكړه ښكاري دى. كه يو بل سخوندر كب له موجونو سر راپورته كړي ښكار يې بېخې بس دى.

كنيري د تودېدا لپاره د كنګلونو پر كمربند پيټاوي ته ناست و، هوا ته څوك ښه غوړيدى شو · دا ژمى هغو ژميو ته ورته نه و چې څوك به له يخه پوړيده او چې كوم سخوندر كب به يې په سر وويشت نور به د يخ له لاسه ټيكه نه ورتله كور ته به رهي و ·

د تګ وخت رانژدې شوى و، ځكه چې د قرارګاه رئيس ټولو ته خبر وركړى و چې په اته بجو د ښكار د بيړۍ د جوړيدو وخت دى ټول بايد حاضر وي · د ګړۍ ستن اتو ته نږدې كيده ·

كنيري سهار تر سپيده چاود مخته راوېښ شوى و، كله چې د كنګل كمربند ته تلو هېڅ‌چا نه و لېدلى، د ده بيړه وه چې يو څه نور ښكار كړي بيا كور ته وګرځي · اته بجې، خير ·· تر نهو مخته به كور ته ځي.

دا ګرانه ده چې څوك له داسې ښكاره لاس واخلي چې سم دم يې مخته پروت وي لكه ده چې نن دوه سخوندر كبان دستي ښكار كړل. كنيري ډاډه وه چې ژر به دريم سخوندر كب وولي او چې څنګه يې دريم كب وويشت كورته به ځي ٠

دريم سخوندر كب تر ډېرو راښكاره نه شو، ده له ځان سره وويل، خير دی لږ به لا ورته ايسار شم٠ كنيري د سخوندر كب له پاسته پوسته په جوړ شوي بيګ ناست و او نبغ يې كنګليزې توتې ته ډډه وهلې وه، دی پوهيده چې مناسب ځای يې پيدا كړی دی٠ كه تولـه ورځ هم دلته كېنې نه ستړی كېږي، او كه لږ وخوځيږي بيا هم چا ته نه ورښكاري چې دلته څوك شته ٠ او د ښكار لپاره د داسې ځايو غوره كول لويه كاميابي ده٠

كينري ځای پر ځای ناست و، شور يې نه خوړ، سترګې يې لږ درنې شوې، ارمېږي ورغلل، د لمر وړانګو ته يې غړي سست شول، نرمه هوا چليده، د موجونو په ژغونو كې يې خيال ته پينګې وركولې خو كله چې سر پرې وزنګيده او غړی يې د تتر خواته كړه شوه را ويښ شو له ځان سره يې وويل ((د تګ وخت دی، سترګې مې ترخې شوې خوب به مې يوسي)).

تصور يې وكړ چې ښكار كورته وړي، خپلو څلور وارو ماشومانو ته د سخوندر كب سترګه وركوي، څومره ښه سوغات، كه يو بل سخوندر كب سر راښكاره كړي نو د كور ټولو غړيو ته به سترګې رسيدلې وي٠

په سمندر كې يې له لرې دوه بيړۍ وليدې په زړه كې يې وويل ((ښتيا چې د سمندر د موسم وخت رارسيدلی)) د هغو شپو حساب يې له ځان سره وكړ چې بيړۍ يې په سمندر كې تيروي، چيرته به رهي وي، له كومه راغلې دي، زړه يې وشو چې تر هغو صبر وكړي چې د بيړيو لوګي ښه ورته رانژدې شي. نو كه ډېر وځنډيږي نيم ساعت به نور تير شي٠ بس چې دا لوګي ويني بيا به كور ته ځي اود لوګيو تر ليدلو پورې خوب تنبولی شي، كه په دغه وخت كې دريم سخوندر كب راښكاره شو، ښه تر ښه، او كه نه شو بيا يې هم بې مزې ښكار نه دی كړی دا دوه سخوندر كبان ډېر شی دي.

کنیري چې دا پریکړه وکړه یوه پینګه خوب ورغی ورو یې سر د اوږې خواته کوږ شو خوب یې لید چې مالونه د سیمې په سرك پیایي ٠ کلیوال یې مخې ته راشي سپین ږیری مامیل هم وي، مامیل چې د ده ښکار ته وګوريووایي: ((دغه ته سم ښکار وایي ٠٠ دواړه په سر لګیدلي خو سترګې یې روغې پاتې دي)) کنیري په خوب کې موسکی شو٠ ستاینه ښه شی ده، خصوصا چې سپین ږیری مامیل څوك ستایي، هغه خو هر وخت په غونډو کې وایي چې کینري د کار سړی نه دی، په دیوالي جریدې کې یې لا لیکلي و چې کنیري سست سړی دی.

خو اوس، هغه ته اتل ښکاري، او دی باید ووایي چې مامیل په رښتیا باانصافه بنیادم دی٠ کنیري وشرمیده، خبره یې په بله واړوله، د ساعت پوښتنه یې وکړه٠

کینري لا خوب لیدو٠ وې ویل (( باید لاړ شم دغه دوه سخوندر کبان به یوسم، اته بجې به په قرار ګاه کې ماته انتظار وي٠ ))

بیا یې په خوب کې ولیدل چې کورته رسیدلی وي، د سخوندر کب سترګه کوچني کول- کا ته ورکوي هغه د سخوندر کب سترګه په بارخو لګوي، بارخو یې پړسیږي، د سخوندر کب سترګه د بارخو په منځ کې نوره هم وځلیږي او غټه شي ٠٠ نه ٠٠ دا خو د سخوندرکب سترګه نه ده ٠٠ دا خو د مامیل سترګه ده٠ بوډا مامیل سترګه وغړوله ده ته یې په کلکه وویل: (( بیا له اشره پټ شوی یې، ټول درته په قرار ګاه کې منتظر دي)) کنیري سترګې ښکته واچولې، سره وپوړیده نژدې و چې منډه کړي، خو نه یې شوای کولی٠٠ وې غوښتل چې ووایي وخت لا شته زه اشر ته ورځم خو له خبرو لویدلی و خوله یې نه خلاصیده.

له ښه مرغه د مامیل سترګه ورکه شوه٠ کنیري اوس په سمندر کې په یوې کشتوړۍ کې سپور و، د کشتوړۍ ماشین ګول شو او کشتوړۍ د موجونو په سر یوې خوا بلې خواته وزنګیده.

کینري راویښ شو، ګومان یې وکړ چې د اول ځل غونډې یې یوه سترګه خوب کړی دی ٠ د بیړۍ دلوګي خواته یې وکتل، څه نه ښکاریدل، سترګې یي وغړولې چې بیړۍ کوم لور ته تللې٠ د ده باور و چې دومره خوب یې نه دی کړی چې بیړۍ دې تیرې شوې وي ٠راپورته

شو غزونې يې وکړې، د لوږې احساس يې وکړ، هوا لږ سړه شوې وه، لمر تود نه لګيده· دې ټيټ شو چې سخوندر کبان وتړي، لکه په خوب کې چې يې څه ليدل لږ خوښ وايسيد خو چې بيرته ودريد او د سمندر غاړې ته يې وکتل، وارخطا شو· سخوندر کبان يې له لاسه ولويدل، ځان ته يې وکتل د سمندر په منځ کې د يوه لوی کنګل په سر دی چې له کمربنده ښيل شوی دی.

شاوخوا يې ډېرې اوبه وې، له ډېر لرې د سمندر د غاړې کنګلونه ښکاريدل، او سيمه خو ښېخي تر سترګو کيده نه·

کنيري د کنګل ژی، ته راغی ناري يې کړې چې څوک يې ژغ واوري، لاسونه يې جګ وتيول، په کنګل يې پښې ودربولې، د زخمي حيوان په څير وکوږنجيده · کله چې ستړی شو، پر کنګل ولويد غاړې يې سره ورغلې·

د ده د ناامېدۍ دغه نوبت په څو شيبو کې تير شو، راپورته شو کېناست، د خپلې سيمې لور ته يې سترګې ونيولې، نه پوهيده چې څه وکړي؟ فکر يې هېڅ کار نه ورکاوه · بې له صبره بله چاره نه وه، تر هغو به صبر کوي چې وژغورل شي، له ده سره دوه سخوندر کبان او څو مرمۍ وې دا ممکنه وه چې نور لس دولس سخوندر کبان هم ښکار کړي، د خوړو ستونزه يې تر ډيرو حل وه·

سمه ده چې له لوږې به مړ نه شي خو کنګل ورو ورو کوچنی کېږي له اوسيدا وځي، او اخر به ټول اوبه شي، که د کنګل تر اوبه کيدا يوه ورځ مخته بچ نشي، نو نه به ښځه ويني نه کوچنيان، نه ملګري ·· که د کنګل په ژی، يې څوک ونه ويني نو خامخاله منځه ځي ·

کنيري هغه ښکاريان تر سترګو شول چې د ده په څير مات ګنګل د سمندر منځ ته وړي ول، د جيموج پنځلس کلن زوی ور په زړه شو، د هغه په ژغورنه کې خو ده په خپله ونډه اخيستې وه، کله چې ټول د هغه په موندلو کې ناکام شول لس ورځې وروسته د ګاونډي سيمې ښکاريانو د کنګل په سر په خورا بد حالت کې پيدا کړ او راي‌ې وړ ·

وايي چې ماميل هم يو وار کنګل سمندر ته وړی و، دا ډېره پخوانۍ کيسه ده، هغه وخت ‌ کنيري نه و پيدا· ماميل خو يې تر ډېر

لرې ښولې و، يوې بلې غاړې ته يې رسولې ده وايي چې ماميل اوه کاله په دغو نا اشنا سيمو کې تير کړل اخر بيرته خپلې سيمې ته راغی.

خو ماميل يې په ووړي وړی و، د ووړي کنګل خو تر لرګي کم نه دی، ژوک کولی شي چې مياشت پرې تيره کړي، حتی دوه مياشتې، تر ژو چې اوبه کېږي · خو په ژوړمني ·· وايي چې يو وار يې د انجويما يو ښکاري ورم کال وړی و مړی ژوندی يې ورك شو خو د کنګل ټوټه کوچنۍ وه ژر اوبه شوې وه نو په داسې کوچنۍ ټوټې به ژوك ولې تر ډېرو ژوندی پاتېږي، لمر يې اوبه کوي، موجونه يې سرويي له ځکه اوبه کېږي لکه قند چې په چای کې واچوې.

کنيري ارمان کاوه چې کاشکې په کور کې وای، دسترخوان ته ناست وای، په ګرمې چايجوشې مې لاسونه اېښي وای چې تاوده شي، او ورو ورو مې لاسونه ورپوکلی د هغو بوی مې پر سپږمو لګيدلی ·

دی بايد له اولې ګړۍ په ځان پوه وای چې له څه ستونزې سره مخ دی له هغې لحظې چې د بيل شوي کنګل په سر يې ځانته پام شو. خو ده چې ژومره سوچ وکړ د بچ کيدو هڅه يې په خپله نشوای کولی. زامن وريه زړه شول، دستي يې له ځان سره وويل (( بيا به يې ونه وينم)) په اوله کې يې مرګ ته پام شو، وويريده · خو اوس يې تر ويرې خوابدي زياته وه.

کنيري ورو ودريد د ښکار بيك ته سوکا ور ټيټ شو · بايد پر کنګل يې پر ډار او احتياط ګام اخيستی ځکه چې په دغه ټوټه کنګل پورې يې ژوند تړلی و · پر بيك کېناست بيا فکر يوړ · لمر به ډوبيدو و.

لمر د افق پر څنډو رڼا وکړه، وړانګو يې يوه روښانه طلايي لار د کنګل ټوټې په سر جوړه کړه او پر اوبو يې د سمندر تر شا لار وايسته · د لمر نيمه خوا له افقه نه ښکاريده · بيا پسې يو مخ پټ شو لکه غروب چې يې کړی وي ·طلايي لار رنګه شوه، اسمان تور وريځو ويوښه · کنيري پوهيده چې لمر به بيا ژر راونه خيژي چې واورې په نيم ساعت کې سره اوبه کړي · له لرې ښۍ خوا به يې ستر ګه راښکاره شي، له هغه ځايه چې غروب يې کړې و.

* * *

کنیري د هغو خلکو په څیر نه و چې غم ته یې له لاسه پښو ساه وخېژي، ده ډیر زړه نه خوړ چې حالت مخ په خرابېدو دی، داسې احساس یې نه کاوه چې ترنن پرون ښه دی، ده نه غوښتل چې زړه وار له مخه اوبه کړي. په ډېره سخته او خطرکې د ده خپګان د لنډ وخت لپاره وي.

سهار چې یې وریځ ولیده چرت یې ډېر خراب نه و ځکه چې په شنه اسمان کې د لمر وړانګو ته د کنګل د اوبه کیدا امکان ډېر وي.

د کنګل ټوټه ورو ورو د شمال خواته روانه وه دی یې لړ لړ د چیکوتستک سمندرګي ته ورنژدې کاوه. خو که څیر شي امکان لري د سمندر هغه بله غاړه ورښکاره شي، هغه غاړه د یوې نرۍ کم رنګې کرښې په څیر ښکاري چې له لرې سره یوځای شوې وي. دا خبره دا زیری لري چې د ژغورنکیو ډله ډیره لرې نه ده، هغوی کولی شي چې ژر په خپلو بخاري کشتوړیو کې راشي.

کینري د کنګل شاوخوا وګرځید، د شاوخوا ټول ښخونه کلك ورته ښکاره شول. د شپې مهال کنګل نه و مات شوی یوازې یوه ټوټه یې بیله شوې وه چې د سخوندر کب تر سر به لویه نه وه. او اوس تقریبا دیرش کیلو میتره لرې تللې وه.

کومه ټوټه چې کینري پرې ناست و د یوه لوی کور تر اندازې کمه نه وه. لوړ لوړ کرلونه پکې ولاړ ول، ځنې کرلونه سیخ سیخ ختلي د سړي تر ونې جګ ول، د دوو برابرو کرلونو تر منځ دخوړو اوبو یو ډنډوکی و. شاوخوا ډیر کنګلونه په اوبو کې لیرې نژدې ښکاریدل.

کینري خپل سامانونه د ډیر احتیاط لپاره د کنګل منځ ته یوړل. له ده سره یو ټوپك، دوه سخوندر کبان، یو بیك او یو ډانګ چې په سر یې لور و، ول. په دغه لور به یې ویشتلي سخوندر کب له اوبو رایست. ده سخوندر کبان له پوسته کړل، غوښه یې د یوه کرل لاندې کېښوده سباناری یې په څیګر پیل کړ، هغه سم نه ژدول کیده، خو غاښونه یې قوي ول داسې چې د سخوندر کب په پوست کې ښخیدل.

نو غوښنه خو اسانه وه زړه یې نه ور تنګاوه خوند یې بل ور و ژر ژر ژدولو سره خوند په کې پیدا شو.

د سخوندر کب سترګه یې د ډنډوکي په اوبو ووینځله. بیا یې د شاوخوا واوره سره راټوله کړه او د ډنډوکي جنوبي خواته یې دیوال جوړ کړ. پدې کار دی مطمین شو چې اوبه به نه بهیږي حتی که اسمان شین شي، ځکه چې د دیوال په بیخ کې به وي. له دې سره سره دی دې ته خوښ شو چې واوره به نه اوبه کیږي، او که اوبه شي ډنډوکي ته به بهیږي نه د سمندر خواته. له شاوخوا یې نورې واورې هم سره راټولې کړې په دغه دیوال یې وروتپلې.

پر بیک کیناست، توپک یې ورواخیست چې پاك یې کړي. ښه به نه و که پرون یې په اول وخت کې ډزې کړې وای.. نه.. څوك پوهیدل چې داسې به شوي وي. هر وخت ښکاریان د پخوا اخوا هسې په هسې ډزې کوي. پښیماني څه ګټه لري پرون له پرون سره تیر شو. اوس خو دا کار ګټه نه لري. د کنیري شونډې لږ ویرې شوې پرون ورځ ور په یادشوه چې څنګه وکوړنجیده او کنګل یې په لتو وواهه. ښه دی چې چا نه و لیدلی.

که پرون څوك پسې وتلي وي که نن پروا نه لري څو ساعته دې سر وخوري اوس لاغوښنه او اوبه شته، شاید د کنګل توټه تر یوې اونۍ پاتې شي. کله چې سیمې ته ورشي ډېرې کیسې به وکړي.

باید اوس په ده پسې ګرځیدل پلټل پیل شوي وي، نو خپګان یې ولې ډېر شي. که تر اوسه پلټل نه وي پیل نو ښکاره ده چې ښځه به یې په منډه د سالخوزد اداري مجلس رئیس فامش ته ورغلې وي. تر اوسه به فامش څه هڅه نه وي کړې؟ کیدای شي چې ورته ویلې یې وي ((څه شوي دي؟ له کنیري خلاصه شوې، ګومان کوې چې کنګل توټو به سمندر ته وړې وي، ښه شوي، که دغسې شوي په کار ده چې ورسره وشي.. موږ ته هم ښه ده او تا ته هم چې له هغه خلاص شوې. دغه تنبل بیکاره د څه درد دوا و؟ زه دده له خاطره د خپلو کارکوونکیو ژوند په خطر کې نه اچوم، کښتوړی هم نه پرې ورانوم، په سمندر کې لا هرې خواته د واورو کوټې پرتې دي ایا کښتوړی به ورسره ټکر او ماته

نشي؟ څومره خلك چې له ما سره دي زه هغوی ته اړتيا لرم چې له ماسره په سالخوز كې كار وكړي)).

ماميل خو هم د اداري مجلس غړی دی كه په همدې وخت كې د فامش تر څنګ وي دی به ورته وايي ((هېڅ ګټه يې نه ده رارسيدلې. ډېر لټ بې كار بنيادم دی. د كار له يوې قرارګاه مو بلې ته بيوی، صبر مو ورته وكړ خو هېڅ پرې جوړنه شول. ته دا منې چې هغه يوه ګړی نه دی سم شوي كه سم شوی بيرته دستي بيا لټي پرې زور كړی بيا دی، دی بيا هغه كارونه هر څه ده په خپل ځان كړي پرېږده يې چې په خپله خپل ځان خلاص كړي)).

كنيري لږ وخندل، ټوپك يې پاكاوه. شايد فامش او ماميل داسې ونه وايي، امكان لري فامش په خپله د ژغورنې په كار كې برخه اخيستې وي، او كه زاړه سړي ته ضرورت وي ماميل به يې هم ملګری وي.

له دې سره سره د كنيري هغو خبرو ته زړه په تنګ شو چې ده ګومان كاوه ګاونډيان به اوس ګډې وډې تبصري كوي. دا ځكه چې دی څو وارې په لټي او بې كارې پړ شوی دی. كه رښتياووايو، د سالخوز په كار كې يې څه ګټه وه. تخنبره يې رسا ويشتلی شوی خو د دې مطلب دا نه دی چې په ښكار كې هم تكړه دی، كه په ښكار كې روی نه دی نو په نخښنه كې خو تر انښير اورينتو فيجي چندان كم نه دی. دغه دوه مشهور ښكاريان هر وار تر ده لس چنده ډېر ښكار كوي. او عكسونه يې هر وخت د شرف په لوحې خپرېږي، څه ښيګړې او ځانګړنتياوې دي چې هغوی يې لري دی يې نه لري؟

رښتيا چې كنيري په لاسي كارو كې تكړه دی، او يو وار خو يې خپل خسر ته يو شی د سوغات په څېر جوړ كړ د سيمې ټولو خلكو خوښ كړ، فامش خو ورته وويل همداسې يو د هوسۍ د ښكار قرارګاه ته جوړ كړه، ده كار پيل كړ خو سر ته يې ونه رساوه.

څو وارې چې د سالخوز له كاره وتښتيده خلكو وتراټه. يو وار به د تندار سيمې ته له ټوپك سره تلو، بل وار به چې دسيمې د كار وخت و ګاونډې سيمې ته روان و، اوريدلې به يې و چې بازار ته يې نوي شيان

راغلي دي. کله به بیا سرحدي تاڼې ته روان و د بیرنیو مرستو له نماینده سره به یې شطرنج کاوه.

د مورفینج په سالخوز کې کنیري تر ټولو ښه لوبغاړی و. ان د سیمې په مسابقو کې به هر وخت په اوله ډله کې راته، او یو واري خو یې هڅه وکړه چې د شاوخوا ټولې سیمې په مسابقو کې برخه واخلي خو د سالخوز خلکو، خصوصا د اداري د مجلس غړیو سر پسې ونه ګرځاوه.

کنیري د انادیر په لوبو کې سهوه وکړه او په اخرو کسانو کې راغی، بیا یې د شطرنج هغو لوبو ته ونه لیږه چې د سالخوزو تر منځ د خاباروفسک په ښار کې کیدې. ده ته ګټونکې لوبغاړي ایجنتو چې هوسۍ یې د افق په سیمه کې څرولې د خاباروفسک ښار ته تر تلو له مخه وویل «کنیري ته کولی شې چې ښه لوبه وکړې خو ته د لوبې په اصولو نه پوهیږې او لوبغاړی باید اصول سم زده کړي».

کنیري توپك اړخ ته کېښود، پورته شو شاوخوا یې وکتل داسې یې وانګیرله چې د مځکې په سر یو دی اوسي، او اوس خو د اوبو په سر یوازینی نفر دی. دغه خوږه ترخه کیسه به تکي په تکي خپلې کورنۍ ته کوي.

بیا یې توپك ته لاس وراوږد کړ، یو دم سوچ یووړ، ایا په رښتیا یې کورنۍ ته ډېره ګټه ورسیږې؟ د ده ښځه نیون په سالخوز کې تر ټولو ډېر ګټي. او کوروال ټوله د هغې په تنخوا ګوزاره کوي هغه د قرار ګاه په خیاطانو کې بې جوړې ده. یوازې سپین سارې رالتین تر دې تکړه ده.

کنیري ښځې او ماشومانو ته فکر وکړ، او د ځان د ملامتي خلق تنګي یې په دې فکر ورکه کړه. په خیال کې ده د رالتین پر ځای خپلې میرمن ته د هوسۍ له پوستنه د کالیو اوبدل ورزده کړل.

خپل غبرګوني زامن یې په مینه ورپه زړه کړل، بل څوك داسې غبرګوني نه لري، دا یو توکلي کار دی چې شوي. دی او نیون باید ونه ویاړي خو کله چې یې دوهم ځل دوه غبرګوني پیدا شول د قرار ګاه په جریده کې یې خبر خپور شو. ډاکټرانو یوه میاشت نیون په زیږنتون

کې بستر کړه، هغوی ډېر خوا بدي و. ډاکترانو چې کله کوچنیان کور ته لېږل ویریدل چې سکار وی یې ونه وهي کله چې بیړی د لړګیو کورونو ته ورسیده، یو کور یې کنیري ته ورکړ. کورونه د سیمې د ویشلو هیات هر چا ته نه ورکول، په ډېر نظم یې ویشل. هغه وخت په سیمه کې ټول خلك په خیمو کې اوسیدل یوازې پنځه کورنۍ په کورو کې اوسیدلې، په دغو پنځو کورنیو کې څلور نور اتلان او یو کنیري.

کوچنیان به اوس څه کوي؟ ایلجیلي او امریل به اوس ښه پوهېږي، د مور په خپګان به دوی هم خپه وي، اوس به پوه وي چې پلار ته یې څه ور پېښ شوي دي. دغه کوچنیان اوس د دې عمر دي چې ډېر څه ته یې پام وي، دوی درې کلن دي. نیون د هغو ډاکترانو په خاطر چې ښه پالنه یې کړې وه په یوه یې د کولیان «نیکولای» او په بل ساشا «الکسندر» نومونه ایښي دي په ډاکترانو کې یو نیکولای پتروفیچ جراح و او بل الکسندرایوانوف نومیده.

کنیري وار له واره له میرمن سره دغه نومونه منلي و نیکولای او الکسندر. د ده اوس پام شو چې له روسي نومونو سره باید دوهم نوم مل وي ځکه په لوینې چې کله له ښوونځي فارغ شي په لوړو زده کړو کې دوهم نوم ضروري دی.

کنیري له زړه غوښتل چې خامخا په کوچنیانو تعلیم وکړي. که د اتیك زوی د لننګراد په پوهنتون کې زده کړه کوي، نو دده زامن خو باید خامخا لننګراد ته ولاړشي خپل نومونه په هغه لوی پوهنتون کې ولیکي، کنیري چې د شاوخوا سیمې د شطرنج لوبو ته ولاړ د یادښت په کتاب کې یې خپل نوم ولیکه، خو چا ترې د دوهم نوم پوښتنه ونه کړه ځکه چې په چوکېنکا کې د هر سړي یو نوم و.

خو لننګراد داسې نه دی، هلته د هر چا له نوم سره دوهم نوم خامخا وي. نو دغه نوم به څنګه وي؟ نېکولای کنیریفچ او الکسندر کنیریفچ، دا نومونه څه ښه سره وایي.

که دوی خپل پلار بیا ونه ویني، په زلمیتوب کې به خلك ورته وایي پلار مو ډېر بېکاره لټ سړی و. په مړه پسې چې څوك څه وایي، څه به ورته وایي.

په کنیري دې فکرونو وام هیر کړی و، دی د سوداګرۍ بیړۍ ته په دوه تلې ناست و، ډاډه و چې د سوداګرۍ بیړۍ به ژر رانښکاره شي ۰

د کنیري زړه نه و چې له دې خوږو تیرو هیرو خاطرو پام په بله واړوي، خو دی باید راولتهیږي، ډانګ راواخلي د کنګل هغه بلې خواته ولاړ شي ځکه چې د کنګل یوه لویه ټوټه د ده کنګل ته ورنژدې کیده، که هغه له دې سره ولګیږي، حالت به ډېر خطرناك شي ۰ د ده کنګل به ټوټې شي، نو دی باید د کنګل له ژۍ په ډانګ دغه نوې لویه ټوټه پورې وهي.

د ده ژر ور پام نه شو چې دغه نوې ټوټه د ده خواته په بیړه راروانه ده هله یې ور پام شو چې د ده د کنګل څنګ ته راورسیده، نو زانګه وانګه راولاړ شو، ډانګ یې ورواخیست نوې ټوټه یې پرې پورې وهله خو ډانګ د هغې په سر وښویده د ده پښې تېلبه شوې د کنګل په سر ولوید ۰ ټك او ترق یې واورید ۰ دی ودرید شاوخوا یې وکتل، هغه څه شوي و چې په زړه کې یې تیریدل۰ د ده د پښو لاندې کنګل دوه ټوټې شوی و ۰ ټوپك او د ښکار بیك یې په هغه بېلې شوې ټوټې کې و ۰ ده له هغو اوبو ټوپ کړل چې د دواړو ټوټو تر منځ راپیدا شوې، له ټوپ سره ولوید ، خو ځان یې تکیه کړ دواړه خواوې یې ونیولې، یوې خواته ټوپك او بیك و، بلې خواته ډانګ او د سخوندر کب غوښه۰ دغه د غوښې د خوا کنګل لړ لوی ښکاریده خو دی بیرته دېخواته نه شو رااوښتی او د وخت له تیریدوسره دواړه خواوې لرې کېدې ۰ د دواړو کنګلونو تر منځ یوه د تورو اوبو لاړ جوړه شوه۰ که کنیري په اوله کې دغې فاصلې ته ور پام شوي وای، دا جرئت به یې نه وکړی چې ټوپ کړي، که څه هم په اوله کې فاصله دومره ډېره نه وه، نو ښه یې وکړه چې ټوپ یې کړل.

کنیري ژر له ملا هغه پړی راخلاص کړ چې سخوندر کبان به یې پرې کشول، پړی یې هغه بلې ټوټې ته ورواچاوه، هغه په یوه ولاړ کنګل کلك ونښوت ۰ اوس که پړی پرې شي نو د کنیري حال به یو مخ خراب شي ځکه چې له پړي پرته ټوپك پکار نه راځي که کوم سخوندر کب وولي په څه به یې راکشوي.

د پړي يو سر يې تر لاس تاو کړ، زور يې وواهه دومره زور يې وواهه چې وپوړېده، ستونی يې وچ شو او ټول ځان يې ټکان وخوړ، خو د دواړو کنګل ټوټو تر منځ فاصله پسې لږې نشوه، هغه بله خوا کنګل ودريد د هغې له دريدو سره دی ورو ورو ورنږدې شواو د پړي فشار يې په لاس کم شو.

کله چې د دواړو کنګل ټوټو تر منځ فاصله نږدې شوه کنيري په اساني ور ټوپ کړل، د سخوندر کب غوښه په خپل ځای پرته وه، ده ټوپك ورسره واخيست او له بيك سره دې بلې ټوټې ته راغی. ستونی يې وچ و، د اوبو ډنډوکي ته ورغی د هغې اوبه سمندر ته توی شوې وې او هغه د واورو دېوال چې يې جوړ کړی و نه ښکاريده، کنګل د هغه ډنډوکي له برخې بېل شوی و.

د هغه کنګل چې يو ساعت مخته کنيري پرې سوچونه کول اوس نيمه ټوټه پاتې وه، او دغه ټوټې امکان نه درلود چې دوو لمريزو ورځو ته ټينګه شي.

* * *

په دريمه ورځ کنيري د چوکتسك سمندرګي ته ورسيد، شاوخوا سواحل نه ښکاريدل، کله نا کله به يې له لرې د افق خواته د واورو په کوټو د ساحل ګومان راغی هغه خوا به ورته د سمندر غاړه ښکاره شوه، خو ژر به يې وليده چې لوی کنګلونه د بحر خواته له غاړو رابېل شوي دي.

نن ورځ تر تيرې ورځ اسمان ډېر صاف و، دا کنيري ته ډېر بد زيری و، له ځان سره يې وويل (( بايد خپل ځای ژر بدل کړم )).

وې پتيله چې ژر يوې نږدې کنګل ټوټې ته ورواوړي، خو ټوله ورځ په خپل کنګل پاتې شو، لکه تقدير چې پرې ملنډې وهي، هيڅ داسې ټوټه شاوخوا نه ښکاريده چې د ده تر کنګل پراخه وي.

کنيري ډېره غوښه وخوړه، خو ژر پښيمانه شو، ځکه چې کيدای يې لا پوره نه وه ډکه شوې چې تندې پسې واخيست.

یو وار یې له لرې د سخوندر کب غوړمبا تر غوږو شوه، په زړه کې ورتیره شوه ((انبنیر سمه کوله ۰۰ په ریښتیا چې د سخوندر کبانو غوړمباوي شروع شوي وې ۰۰ څنګه یې تر هر چا مخته اوریدلې وې؟ هر څوړمنی دی تر نورو مخته غوړمبا اوري، دغه علت دی چې د دوی قرارګاه تر نورو مخته ښکار ته چمتو وي۰))

کنیري ته بیا سیمه ور په زړه شوه، خو نن د تیرې شپې غوندې ډاډه نه و، ده خپل انجام خراب لید۰ د تیرې ورځې خطرونه یې سترګو ته ودریدل خو ژر یې پام په بله کړ۰ هغوی به دی پسې غواړي خو ستونزه دا ده چې څرنګه، که انبنیر د ژغورنکیو په سر کې وای یا نتونجي او یا فامش په خپله، اوس به یې وخته پیدا کړی و۰ هغوی له یوازې یوې بخاري کشتوړی څخه کار نه اخلي بلکه څه بخاري کشتوړیانې اوسامان چې په سالحوز کې شته ټول به یې اوس په ده پسې کړي و۰

له هغه ساعته چې د کنګل ټوټه له ساحله بېله شوه اوس یې د اول ځل لپاره د یوه عجیب یوازې توب احساس وکړ، شاید په ژوند کې یې دا لومړی ځل وي چې داسې احساسوي۰

غرمه مهال، یوه برابره کنګلیزه ټوټه ورنژدې شوه، شاوخوا یې وړې وړې نورې ټوټې وې، دغه نسبتا لویه ټوټه شل متري ته ور ورسیده۰ ده پړی ورواچاوه بیا یې راکښود خو هغه کوچنۍ ټوټو د ده لار ونیوله، ده هڅه وکړه چې ځنې کوچنۍ ټوټې لرې کړي خو هره ټوټه چې یې لرې کړه د هغه پر ځای دوې نورې راغلې

ده غوښتل چې ځای بدل کړي، که د بل کنګل په سر واوري ښکاري خامخا به خوړې اوبه هم لري او خوږې اوبه یې ضرور پکار وې، دې شي دی نور هم هڅاوه چې له دغې یې اوبو ټوټې چې لمر ته به ایله یوه ورځ نور تاب راوړي بلې ټوټې ته واوړي ۰

هلته د وړو ټوټو تر منځ یوه دوه نسبتا لویې ټوټې ښکاریدې داسې ټوټې چې د پله کار یې ورکولی شو، سره له دې چې دې کار خطر درلود خو چاره نه وه، پړی یې تر ملا وتاړه، ټوپک یې غاړې ته کړ، بیک یې

ورسره واخیست له ځان سره یې وویل(( سخوندر کبان به اوس پر بېړدم بیا ورته راګرځم )) ده اوږې پورته ونیولې ټوپ یې کړل ·

له لومړي ټوټې دوهمې ته په خیر واوښت او چې لویې ټوټې ته څیرمه دریمې ته یې ور ټوپ کول پښه یې وښویده او په زنګنو ولوید، یوه ټوټه واوره اوبو ته وښویده، او دی په اوبو کې ولوید · په اوبو کې وارخطا شو، هڅه یې وکړه چې لویې ټوټې ته ورشي، خو ټوپك او درنو جامو په اوبو کې ډوباوه · څو واري یې په اوبو کې غوټه وخوړه یو ځلې یې داسې لاندې کړ چې ډېرې اوبه یې په سر واوښتې · خوله یې له اوبو ډکه شوه، هڅه یې وکړه چې د اوبو سر ته راشي.

لاس یې له پړي سره ولګید، پړی یې لا تر ملا راګرځیدلی و، له اولې غوټې سره یې پام و چې پړي ته لاس ورنه وړي چې لاس یې په کې بند نشي، خو بیرته یې په زړه کې وګرځیدل چې پړی یې ژغورلی شي، زور یې وواهه چې له لامبو نوې کنګلیزې ټوټې ته ورشي لیکن بیا ډوب شو، خو بالاخره یې وکړای شو چې ژر ته ځان ورسوي.

پر کنګل وروښویدو، اوبه یې له خولې، پوزې او غوږو وبهیدې · ډېر سخت یې په سر درد شو · د واورې په ټوټې یې لاسونه او مخ ګرژیدلي و، له ګرژیدلیو ځایو وینې څڅیدې ·

چې لږ ساه یې جوړه شوه، څو ګامه وڅکیده، پر مځکه پرته واوره یې ښه وڅټله، بیا لږ نبغ شو او د دمې جوړیدو لپاره اوږد وغځید، کالي یې لانده و یخ یې وشو، راولاړ شو جامې یې وایستلې ·

واوره یې په ځان وموښله، لږ تود شو · بیا یې پړی له واورې ورکش کړ، په دوو ولاړو کرلو یې وتاړه، کالي یې پرې خواره کړل خو طناب دروند شو او پړی راولوید · په خپل لرګي پسې وګرځید په یوې نژدې کنګل ټوټې پروت و هغه یې ورواخیست کالي یې پرې وتکول چې اوبه یې ولاړې شي · کاشکې نیون لیدلی وای چې څنګه کارونه کوي لکه سر چې یې د کور په کار کې سپین کړی وي ·

ده ته د سخوندر کبانو غوښه ور په زړه شوه چې پر هغه بلې ټوټې یې پرې ایښې وه · پړی یې وسپړه، ویې لید چې نه ورسیږې، د ده مختنی پته ځای موجونو پورې وهلی و، قریب سل ګزه لرې شوی و ·

کنیري غوښې ته ډېر چورت خراب شو ۰ له ده سره کارتوس ول، ډوډۍ يې پیدا کولی شوای تیره ورځ يې څو وارې سخوندر کبان د اوبو په سر تر سترګو شول ۰ خو هغه وخت يې نه غوښتل چې ښکار وکړي، ځکه چې غوښه يې درلوده ۰

کنیري د ښکار په بیك کېناست، پلتۍ يې ووهله، بیا يې ټوپك پاکول پیل کړل ۰ لمر ته لږ تود شو، خو کله چې د لمر سترګه د وریځو شاته پټه شوه،ساړه يې وشول، راولاړ شو، و ځوځید ، لکه ورزش چې کوي ۰

د سمندر بادونو او د لمر شغلو ته يې کالي وچ شول ۰ ده کالي واغوستل د کنګل ټوټې د ژۍ خواته کېناست ، ټوپك يې ورواخیست سخوندر کبانو ته انتظار و ۰

د اوس او هغه وخت چې کراره کراري وه هېڅ غم يې نه و، څومره ډېر فرق دی، اوس يې کالي پرې پرې چرموړلې و، مخ يې ډنګر ګرژیدلی ښکاریده ۰

دی د کنګل یوې خواته داسې ناست و لکه دوه ورځې مخته چې ناست و او غبرګې سترګې يې اوبو ته د سخوندر کبانو د ښکار په اسره نیولې وې ۰ دوه ځلې سخوندر کبان ښکاره شول خو لرې ول زړه يې ونه کړ چې ډز پرې وکړي هسې نه ونه لګي ۰

کله چې يې نریو وریځو ته وکتل، داسې احساس يې وکړ لکه د ده د کنګل ټوټه چې هم په هوا کې الوزي، او باد ته زنګیږي ۰

ارامه ارامي وه له ډېر لرې هم ژغ نه اوریدل کیده یو نیم وار به د یو بېل شوي کنګل ټوټه اوبو ته ورولویده د پاسته باران په څیر ژغ به يې شو، بیرته به غلیا شوه.

د کنیري یو منظم بنګی تر غوږ شو، دا بنګا سوکا سوکا لوړه شوه له ځان سره يې وویل ((بخاري کشتوړۍ ده)) راولاړ شو سترګې يې وغړولې چې ګوندې وېې ویني ۰

څه شی يې تر سترګو نه شو، خو دی ډاډه و چې د ماشین ژغ يې اوریدلی دی ۰اسمان ته يې وکتل ډېر لرې الوتکه تیریده ۰ هی، د ده په سر به تیره نشي چې پېلوټ وګوري لاندې په کنګل یوسړی ولاړ دی؟

ده توپك تـه لاس كـړ او دوه ډزه يـې وكـړل . الوتكـه لـږ لـرې شـوه، بيرتـه د ده خواتـه راوګرځيـده . كنيري موسكـى شـو:

ـ لكه چـې ډز يـې واوريـد . .

الوتكـه لـرې شـوه، بيرتـه راوګرځيـده، پـه لـږ فاصلـه كـې راوڅرخيـده، كنيري ګومـان وكـړ چـې د ده لپـاره رالـېږل شـوې ده .

بيـا يـې ډزې وكـړې، دا واري يـې د مرستـې لپـاره نـه د خوشـالي لپـاره ډزې وكـړې . پـوه شـو چـې د پيلـوټ ور پـام نـه دى . ځاى پـر ځاى وګرځيـد راوګرځيـد، غوښتـل يـې چـې پـه دې ډول ځان خوشـاله كـړي چـې د ويشـتلو مرميـو ارمـان ونـه كـړي .

توپك يـې وغـورځاوه . د كنـګل پـه سر يـې منـډې رامنـډې كـړې داسـې ښكـاريده لكـه لېونـى، ده قصـدا دا كـار كـاوه . فكـر يـې وكـړ چـې ولاړ سړى لـه لرې چاتـه نـه ښكـاري خـو كـه ځوك ګرځي راګرځي پـه اسـاني د بـل ورپـام كـېږي.

دى ژر ودريـد ، الوتكـه يـې وليـده چـې لـرې كـېږي، تـر ډېرو يـې سترګـې ورتـه ونيولـې . هيـښ و چـې څه وكـړي، الوتكـې ونـه ليـد ، مرمـۍ يـې خلاصـې شوې او ډوډۍ هـم نـه لـري .

خـو لـه دې سـره سـره ډېر مـايوسـه نـه و، نـن يـې لالـه ګـهيځه زړه دې تـه ښه و چـې پـه خيـر لـه اوبـو راووت او پـه دې ډاډه و چـې پـه ده پسـې ګرځي ان الوتكـې يـې لاګمـارلې دي . نو خامخـا يـې پيـدا كولـى شـي .

ولـې نـا اميـده شـي، كنـګل توټه لويـه ده، تـر هغـې سـهارنۍ توټې ښه ښايسـته پراخـه ده، واوره ډېره ده، او درې ځايـه لاد خـوړو اوبـو ډنـډوكي شتـه . چـې د تنـدې غـم وشـي، نـو تـر ډېرو خـو بـې ډوډۍ ګوزاره كولـى شـي . او د ښه ښكـاري غـټ صفـت صبر دى .

هغـه توټه چـې غـوښه پـه كـې وه، كـېداى شـي چـې بيـايي موجونـه رانـژدې كـړي . دغـه هيلـو كنيري تـه ډاډ وركـاوه . هغـه توټه چـې غـوښه پرې پرتـه وه تـر اوسـه لا كنيري تـه ورښكـاريده، كـه هغـه موجونـه دومـره ورتـه لنډ كـړي چـې پرې يـې وروسيـږي نـو د كنيري نخښه بـه خطـا نشـي .

لـه اولـه د دغـه غـوښې راخيسـتل دومـره ګران نـه و، بيـك چـې يـې راوخيست لږ غوښه به يې هم په كې ايښې وه، خو هغـه وخت يـې دې تـه

پام نه و چې داسې به ورسره کېږي، هغه وخت خو لا دولس مرمۍ ورسره وې.

کنیري نیت وکړ چې نور د ډوډۍ په هکله سوچ ونه کړي ، ځان قانع کړي چې وږی نه دی، سهار خو یې لا ښه نس موړ کړ . او که دا اوس یې د سخوندر کبانو غوښه ځنګ ته پرته وای سترګې به یې مړې وې، په ډوډۍ پسې به نه ګرځیده .

خو د ده زړه نه صبریده، فکر یې وکړ چې څه وکړم . لږ اوبه یې وڅښلې او کمر بند یې پر نس کلک کړ .

قضا مازدیګر وریځې ټینګې شوې، هوا خرابه شوه، سوړ ورش شو . د کنیري چورت خراب شو هسې نه چې الوتکه د خرابې هوا له امله پسې ونه ګرځي . اوبو ته ځیر شو په خواشینۍ له ځان سره وګونیده ((د اوبو نس لکه د زاړه سړي غونډې دی، موجونه ورو ورو لواړې او پسې لواړې څګونه ترې پورته کېږي د کنګل ټوټې په ژیو ټوله ورخ پاسته پاسته لګېږي)) .

وریځې لږ تیتې شوې، داسې ښکاره شوه چې لمر لا غروب نه دی کړی د افق خواته د بیړۍ د لوګیو یوه جګه لیکه ښکاریده چې ورو ورو له ختیځه لویدیځ ته روانه وه، ډېره لرې وه . دومره لرې وه چې د ډیر ښه ټوپک مرمۍ هم نه ورسیده، او په قوي دوربین کې هم نه ښکاریده . دغه چوکتسک سمندرګۍ ډېر پلن و که به هغه بل سر کې یې په لسګونو بیړۍ هم ځنګ په ځنګ تیري شوې وای کنیري ته به لا نه وې رانژدې شوې.

موجونه ډېر شول وړې کنګل ټوټې یې له یوې بلې سره وهل او ټوکر ټوکر کولې یې . کنیري ښغې سترګې هغې ټوټې ته نیولې وې چې غوښه پرې پرته وه، دغه ټوټه له نورو ټوټو سره ولګیده او ټوټې ټوټې شوه کنیري سره وپوړیده فکر یې وکړ که اوس هم لا هلته وای .

ډېر ستومانه و . د ټولې ورځې سترپا داسې کړی و چې نه د ګرځیدو و او نه یې له وسه کېده چې نور فکر وکړي . له مخه یې نه کېده چې ودریږي، د زړه په زور ودرید کمیس یې ویست او د ښکار د لرګي په سرېې وتاړه. بیا یې د لرګي هغه بل سر چې لور یې درلود په

يوه ولاړ كنګل كې ښخ كړ ۰ ده غوښتل چې دا لكنه له لرې ښكاره شي.
او كه خوب يې سترګې ور درنې كړي بيا به هم د ده ځاى معلوم وي.

كه څه هم تر اوسه لا كنګل توټه كلكه وه، موجونه به د هغې د شاوخوا واورو په سر لګيدل او پورته به نه ور ختل خو تر ټولې ورځې اوس كنګل توټه د موجو له لګيدو سره ډېره خوځيده۰

كنيري ځان د پړي په يو سر وتاړه چې په خوب كې اوبو ته ونه لويږي. په ګوتو كې يې زور نه و ۰ غوټه يې سسته وه ۰ په خپله پوه شو چې د غوټې تر كلكولو مخته يې سترګې درنې شوې خو ده سترګې سره كش كړې، د پړي غوټه يې كلكه كړه، له ځان سره يې زنګا شوه ((اوس خوب كولى شم)) ډېر ژر درانه خوب يوړ ۰۰ داسې درانه لكه د سمندر ۰

ژغونه يې نه اوريدل، له كنګل سره د موجونو د لګيدا اوازونه يې نه حس كول، داسې ايسيده چې هېڅ شى به يې را وېښ نه كړي ، پرته له هغه شپيلكي چې تيره ورځ يې اوريدلى و ۰

كنيري اول ګومان كاوه چې خوب ويني، زړه يې نه كېده چې سترګې رڼې كړي او شپيلكي ورك شي ۰

لمر په افق كې راښكاره شو، ده داسې احساس وكړ چې تر نيم ساعت يې ډېر خوب نه دى كړى، خو زړه يې كيده چې بيا سترګې سره ورولي او هغه شپيلكي يې بيا په غوږو كې ازانګې وكړي.

ويې لېده چې الوتكه د كنګل ټوټې په سر څرخي، او د پيلوټ لكنې ته ور پام شوي دي، كنيري راغورځار شو پړى يې پرانيست، ودريد لاس يې وخوځاوه ۰

الوتكه راوګرځيده، د كنګل ټوټې خواته راښكته شوه ۰ دومره ټيټه شوه چې ته وا كښني ۰

كنيري حيران و له ځان سره يې ويل (( څنګه پيلوټ له لويدو نه ويريږي )) داسې ګومان يې وكړچې الوتكه د ده لور ته ورځي، نو غير ارادي يې سر ښكته كړ ۰ كه څه هم ده د پرواز په اړه معلومات نه لرل خو دومره پوهيده چې الوتكه په كنګل ټوټې راكوزيدى نشي ۰ له ښه

مرغـه شـمال ډېر نـه و، موجونـه څه غلـي و، خـو كنـګل ټوټه زنګيـده. د هغې د كوچنوالـې له املـه د الوتكـې د كېناستـو نـه ښكـاريده.

الوتكـه نـوره هـم رانـژدې كېدلـه، اوس يـې ژغ يـوازې د شـپيلكي پـه څير نـه و، بلكـه هـر ثانيـه يـې غـورا ډېريـده. كنـيري بـې سيكـې شـو، پـر مځكـه ولويـد، يـو څه يې تـر سـترګو شـو.

د الوتكـې غرهـار لـرې شـو. كنـيري سـر راپورتـه كـړ يـوه كـځوړه يـې وليـده چـې د دوو ولاړو كنګلونـو تـر منـځ پرتـه ده. ده لا كـځوړه نـه وراخيتسـې چـې بيـا الوتكـه رانـژدې شـوه دا ځل ده تـه پيلـوټ سـم وربنكـاريده، ښې لاس يـې ورتـه وخوځاوه، بـل لاس يـې پـه كـځوړه نيولـى و.

بيـا الوتكـې څه راوغـورځول، بلـه كـځوړه وه، دا كـځوړه پـه اوبـو كـې ولويـده. كنـيري د ښكـار لـرګي تـه لاس كـړ چـې كـځوړه لـه اوبـو پـرې راوباسـي، غـوټه كلكـه وه ژر خلاصـه نشـوه.

الوتكه بيـا راوڅرخيـده، ټيـټه شـوه سـمه لا نـه وه ټيـټه شـوې چـې كنـيري كـځوړه لـه اوبـو راويستـه.

مختـه تـر دې چـې الوتكـه لـرې شـي، درې وارې يـې وزر ټيـټ كـړ، كنيري پـو شـو چـې پيلـوټ سـلامي ورتـه كـوي. پـه زړه كـې ورتـير شـو چـې ((پيلوټان نورو تـه داسـې سـلامي كـوي)) ده پـه جـواب كـې لاس پورتـه كـړ او درې وارې وزنـګېده.

پـه كـځوړو كـې داسـې شيان و چـې لـه ابـادي لـرې يـې يـو انسـان د كنګل پـه سر پـه رويـا كـې غـواړي.

پـه هغـوى كـې ډوډۍ، وړينـې جـامې، د لومړنيـو مرستـو طبـي سـامان، وړه خيمـه، د تودوخـې وسيله او لـه هغـې سـره دوه احتيـاطي بيـټرۍ وې. كنيري دا شيان يـو يـو وليـد، لـه ډېرې خوشـالي يـې پـه كټكـي وخنـدل..

ژر د خيمـې پـه منـځ كـې د تودوخـې آلـې تـود كـړ، كنـيري پـه چريكـي بسـتره كـې ننـوت سـګريټ يـې ولـګاوه، د اوبـو ايشـيدا تـه انتظـار و چـې چـاى دم كـړي. ده د كـځوړې د پرانيسـتو پـه وخـت يـو څه بسـكټ او دوه ټوټې چاكليټ خوړلي و ځكـه يـې ډوډۍ تـه پـام نـه و.

په دغو شیانو کې چې په کڅوړو کې و، یوه شي ته کنيري په سوچ کې و چې د څه لپاره يې ورته اچولی دی، هغه يو لنډ، کلك، سپك دبی و، پخوا ده داسې شی نه و لیدلی. منځ يې د پایپ غونډې خالي و، ده هڅه وکړه چې خلاص يې کړي خو ونه توانیده. له چایه وروسته يې دبی واړاوه راواړاه. بیا ویده شو. د لمړي ځل لپاره څو ساعته پرله پسې خوب یووړ.

چې راویښ شو، له خیمې راووت شاوخوا يې سترګې وغړولې، بیا يې اسمان او افق ته وکتل، لمر جګ ولاړ و، اسمان شین و او سمندر ارام. يو فولادي رنګه مرغه په کنګل ټوټې راټیټ شو د بسکټ ټوټې يې واخیستې او د کنیري له سترګو پناه شو. لږ وروسته لرې د اوبو په سر ټیټ روان و. کنیري شاوخوا وګرځید، د مرغه د مښوکې ځای يې ولید، بیا د کنګل ټوټې شاوخوا ته ځیر شو، ډاډه شو چې کنګل لا کلك دی. سره له دې چې اوس مطمین و چې خلك پسې وتلي او ګرځي، خو وخت پرې نه تیریده. بیا خیمې ته ننوت هغه رنګه پاڼې يې راواخیستې چې د ډوډۍ په ډبیو سریښ وې، د تودوخې د وسیلې بیټرۍ يې بدلې کړې، خپل پرهارونه يې پانسمان کړل. کیڼ لاس يې په بنداژ وتاړه، داسې نه و چې دا لاس يې تر هغه بل ډېر ژوبل و مګر په دې لاس بنداژ سم پیچل کېده. بیا يې لاس پورته کړ، غوږ يې ونیو.. غلې غلیا وه.

ولې شطرنج نه کوم؟ بل لوبغاړی په کار نه دی. د شطرنج دانې به د باندې کېږدي، لکه وروستی وار چې يې لیګ له ایجنټو سره بایلود، او اکثر خوړل شوې دانې له تختې د باندې پرتې وې، دانې به بیا هغسې کېږدي لکه څنګه چې ایجنټو له بایلیدو وروسته ورته وویل داسې يې کېږده.

د مځکې له ژیړو سپینو واورینو برخو او له مربعه شکله بسکټو يې د شطرنج تخته جوړه کړه بیا خیمې ته ننوت د تودوخې د الې له صندوقه يې په ارامې دانې جوړې کړې. چې راووت مرغان په بسکټو ور ټیټ شوي و او د شطرنج تخته يې ماته کړې وه.

دی ډاډه و، په قهر نشو . کوچنیان به یې څومره وخاندي که یې خبر کړي چې مرغانو ترې شطرنج وګوټ .

د خیمې تر منځ د باندې لمر ته هوا توده وه. کنیر ي کنګل ته وکتل هغه دبې یې له جیبه ولوید راوایې خیست، دا ځل پوه شو چې دا د څه لپاره دی.

د دغه نل په منځ کې لیک و، له لویدو سره یې خوله سسته شوه کنیري په اساني خلاص کړ.

ژر یې لیک پرانیست . لیک په بیړه لیکل شوی و خو د لوستو و:

((ملګری کنیري ـ درې ورځې وشوې چې په تاپسې ګرځو. اخر مو پیدا کړې. ژر به دې وژغورو. مهمه دا ده چې وموموندې . هر شي ته چې اړ یې په کځوړو کې شته، که هوا خرابه نه وه سبا بیا راځو. باکشیف)) .

* * *

چې څه دې په کار وي په کځوړو کې شته . . هو . . هر هغه څه چې د ده په کار و په کځوړو کې ول، له خولې یې تیر و . سره له دې چې هوا چندان ښه نه وه بیا هم باکشیف راغی .

دې شي کنیري نور هم ډاډه کړ چې ډېر پسې وتلي دي . بیا یې میرمن نیون ور په زړه شوه چې څنګه به په ویرې فامش ته ورغلې وي . خو دا وار کنیري بل ور فکر کاوه . . فامش به څنګه وارخطا شوی وي دستي به یې مسولینو ته تلګراف لېږلی وي چې دا الوتکه راپسې راغله. د سالخوز والو به هغه بخارۍ کښتوړې لېږلې وي . باکشیف به اوس د ده حال ورکړی وي، او اوس به د ده په ژغورنې پسې کښتوړې راروانه وي .

ډېر خلک . . د تلګراف مسول، د هوایي میدان مدیر، پیلوټ، او ډېر داسې خلک چې ده ښېځي نه پېژندل سخت خوابدي ول. یوازې دغه خلک نه، خبره انادیر ته رسیدلې وه، امکان یې و چې سلامته فرقه د سمندر غاړو ته د مرستې لپاره راوتلي وي.

د کنيري زړه په تنګ و ۰ ايا هغه يو اتل و، او که لاو س هم د چوکشي دسالخوز يو کارګر ۰۰ يو ښکاري ۰۰ که حقيقت ته وګورو يو لټ کارګر و، له خپله لاسه يې ځان پدې بلا ککړ کړ ۰ سترګې يې د سمندر پر غاړه د کنګل په سر درنې شوې، خوب يې وکړ او چې کنګل ښويده پوې پوه نشو ۰

خو دغه دومره شيانو ته وګورئ چې له الوتکې يې ورواچول، ايا دا هر څه د ده لپاره وو؟ هو ۰۰ په ليک کې يې ليکلي و ((ملګری کنيري..)) باکشيف پيلوټ په خپل لاس ليک ورته ليکلی و ۰

کنيري بيا خط ورواخيست ۰ د هرې کلمې له لوستو سره يې د خوشالي احساس کاوه، له پيلوټ باکشيف سره يې مينه پيدا شوه ۰ هغه خپل نوم په خپل لاس ليکلی و ۰ ښايسته نوم و ۰ که چيرته څوک دوهم نوم ځانته غوره کوي نو ښه به دا وي چې دا نوم پر خپل يوه زوی کېږدي ۰۰ کوليا لپاره ۰۰ نيکولای کينيرفيتشن باکشيف د دې نوم به څه ښه اهنګ وي ۰

د څلورمې ورځې په ماښام، کنيري د ويلين بيړۍ وژغوره ۰ لکه څنګه چې کنيري سوچ کاوه هغسې ونشو ده سکوې چې له لرې به کشتورۍ ووينم لکړه به ورته وخوځوم، بيا به له فامش سره پوښتنه وکړم له انبينير سره، له ړينتو فيجی سره ۰۰ او تر هغو به خپلې کيسې نه ورته کوم چې ومې نه پوښتې ۰

خو له ده سره داسې ونه شو، د سالخوز د بخاري کشتورۍ پر ځای يوه غټه بيړۍ پسې راغلې وه ۰ کنيري لاس ورته ونه خوځاوه ځکه چې حالت يې ښه نه و په خيمه کې پروت و ۰ له بيړۍ دوه کوچنۍ کشتورۍ له لامبو وهونکيو سره ورښکته شول، کنيري لا ويده و ۰ لامبووهونکي په اول کې وويريدل خو کله چې خيمې ته ورلنډ شول او د ده خرهاري يې واوريد وام يې وتبنتيد او ډاډه شول.

# پیشو

## د انا ماریا مانیموت

په اسپانیا کې مسته موسیقي، هنري انځورونه او لنډه کیسه خورا دود دي ۰خو بیا هم اسپانوي لیکوالو چې کومې ښې کیسې لیکلي دي خوشاله ژوندون پکې نه دی انځور شوی، په دغو کیسو کې تر ډېره حده زور زیاتی، تېرې او وینې وینو چې دا محتوی د دې ګواهي لي چې اسپانوي کیسو د غویانو له مسابقې رنګ اخیستی۰ دلته چې کومه کیسه رااخلو، د دغه ډول کیسو یوه ښکلې بېلګه ده او تاسو ته به دا جوته شي چې د مېرمن انا ماریا کرکترونه ژوندي انځور شوي دي، درې ګونو خواوو ته یې ښه پاملرنه کړې ده چې دا کرکترکښنه د دقیق نظر، روښان او مانادار تصویر استازې توب کوي ۰ ماریا چې په کوم منطقي شکل له ژونده څه مفهوم اخلي هغه هر لوستونکي ته د منلو وړ ښکاري، له دې سره سره د بشري عقل تل ته ورکوزېږي خصوصا د لویانو د هغه طبقې د عقل تل ته چې د کوچنیانو پیرې کوي۰ د پیشو کیسه د ((زمان)) نومې کیسه ایزې ټولګې یوه کیسه ده اناماریا په کال ۱۹۲۶م کې وزېږیده ۰ دې د اسپانیا د کورنی جګړو له املـه ونشوکړای چې زده کړې بشپړې کړي، خو ادبي ښیرازي یې بې توقفه وده وکړه ۰ دې خپل لومړی ناول په اتلس کلنی کې خپور کړ او تر نن ګړی پورې یې د پرمختګ پر لور ګامونه واخیستل ان دا چې د اسپانیا معاصر ادب په ډګر کې د سرلاریو په لیکه کې ودریده ۰ د ځنیو کره کتونکیو په اند ماریا د اسپانوي ښځینه لیکوالو تر ټولو

ښه لیکواله ده · ددې ((لمر ته ښوونځی)) ناول په انګریزي ژبه سږ کال په امریکا کې خپور او ډېر وستایل شو ·

***

نجلۍ نهه کلنه وه، کوکۍ او بریښنده شیان یې راټولول · په دغو شیانو پسې به په وښو او ډېرانو کې ګرځیده، هر شی چې به ورته وځلیده ور وابه یې خیست او د اړخ جیب ته به یې کړ، په دغه جیب یې کتار ګروې ګنډل شوې وې · کله نا کله به دغو تیګړیو د دې ګوتې ورپرې کړې ، خو ژړل به یې نه، له دې شي یې لاس نه اخیست ·

یو شل سګریټ خرڅوونکی چې دانه ای سګریټ او لایتر به یې خرڅول ددې په شوق پوهیده، هغه به هر وخت د سګریټ د خالي ډبیو منځ بریښنده پاڼې ورته ساتلې · نجلۍ به دا ټول شیان له کړکۍ سره نژدې د خپلې کوټې په دېوال ښښلول دغه شیان به ماښام مهال د دوی د کور مخامخ شراب خانې د څراغونو رڼا ته وځلیدل او ګڼ رنګونه به ترې منعکس شول ·د نجلۍ په ګومان دې تر هر چا ډېر رنګونه راټول کړي دي.

دا کمزورې وه، لینګکي یې اوږده نري او اوږې یې سره ختلې، ویښته یې نه ږمنځول، سره فیته یې ترې راتاو کړې وه، بوټونه یې په ښو کې لوی و چې منډه به یې کړه بوټ به یې وخوت · له خپل نیکه سره اوسېده د دوی د خوار کور یوازې یوه خونه وه دې کوټې یوه کړکۍ لرله په منځ کې یې منقل او دوه پوزي ول.

نیکه سپین ږیری زیړ وچ کلك د زښیلي لیمو غوندې و، هر وخت به یې له دغو بریښنده شیانو چې نجلۍ به کوټې ته راوړل شکایت کاوه، خوشکې یې کولې چې په ډېران یې اچوم خو کله به یې زړه نه دریده چې ورته ونه ګوري خصوصا د ماښام خواته چې وړانګې به پرې لګیدې، نو سر به یې وخوځاوه، زړه ته به یې لویده چې انتیك شی خو دی.

په را وروستیو وختو کې سپین ږیري ته وا لګې پیدا شوي و، یخ وهلی و، سړك ته نشو تللی، له وسه یې نه کیده چې له نجلۍ سره

ووځي د موسيقي آله وروا خلي او په بدلو د تقدير له زړه لورينه وغواړي.

د ګاونډيانو او ښاغلو خوا اوسيدونکيو خوا ورته بديده خو هغوی هم په خپلو خولو کې ډوب وو مګر څنګلوري ګاونډي يې وخت نا وخت راتله کوټه يې ورته جارو کوله او منقل يې ورته لګاوه. هغه ښه ښځه وه ښکاره يې ورته ويل چې دا د ښيښو ټوټې او ځليدونکي پاڼې د څه لپاره په دېوال ځوړندې دي، يو واري د سان انتونيو مېنې درې ښځې راغلې وې او دوی دواړو ته يې يو پنځوسي او د ټوخي يو بوتل شربت ورکړل. يوه يې د نجلۍ خزانې ته ځير شوه، پوه شوه چې د ښايست لپاره يې دا شيان راځړولي، دې ښځې په سبا د ديوال د لاښايست په نيت يو صليب راوليږه، صليب د ځليدونکي خزانې مخامخ په هغه بل ديوال راوځړول شو. دغه صليب د نجلۍ نه خوښيده کله چې به يې د نيکه شربت ژر ژر په پټه خوړل صليب به يې د سترګو ا زغی شو، شربت خواږه ود نانا بوی يې درلود.

په همدې جنورۍ کې يو سهار چې نجلۍ له کور سره نژدې د ډېران په لوی صندوق کې بريښيدونکي شيان لټول دوه ګردي شيان ورته وبريښيدل، د هغوی رنګ د فيروزې غونډې و او د آينې په څېر رڼا يې کوله. دغه د يوې بدرنګې، ډنګرې، ډارنې، پيشو سترګې وې او د ځلوښتې د ماشوم په څير يې چنګا وه نجلۍ سوکا ور ټيټه شوه وې ليده چې منګولې يې ګرژيدلې دي ښاي ډېره پرې لويدلې وي. پښې يې سرې وې، پوړيدلې، يو مخ نه سره تکيه کيدې. نجلۍ پيشو تر تخرګ لاندې کړه کورته يې يوړه، نيکه د نور کله غونډې چې دې به څه راوړل او په قهر به شو دا ځل يې هم چيغه کړه:

- هيسته يې واچوه.

خو نجلۍ پوه کوچنۍ دړه پسې وکتله له هغې يې د شکسته بند غونډې دوه ټوټې جوړې کړې بيا يې د پيشو منګولې په‌(سر کې) پانسمان کړې، په احتياط يې د لرګيو په منځ کې ونيولې او وتړلې. دې ته په يوې نژدې کوټه کې هغه لوی کور ورياد شو چې مخته يې ونه ولاړه ده او دا چې يې کله مخته تيريږې ونې ته خيژي، کورته وراوړي،

په کور کې یوه تیته ورسۍ ده، ورسۍ ته ورو ورو ورځي له هغې د کوټې منځته په داسې شوق ګوري لکه خپله ذخیره چې د شراب خانې د څراغونو په رڼا کې وربښکاري، خو دا تر ډېرو هلته سیل نشي کولی، ځکه چې یو غټ سپی چې فوستو ورته وایي غاپي او پدې پسې ځغلي خو مخته تر دې چې په پښه یې خوله ورولګوي کوڅې ته منډه کړي.

دې ته دغه خپل دښمن ورپه زړه شو نو د هغه نوم یې خپلې پیشو ته خوښ شو هغې ته یې وویل: پیشو ګه کې په تا به د فوستو نوم ږدم)).

په زړه کې ورتیره شوه چې له فوستو یې ښه غچ اخیستی دی مګر نه پوهیده چې ولې.

پیشو له اولې ورځې پدې پسې شوه، دې به خوا ورته بدیده له ټټر سره به یې نیولې وه، ډېر پام به یې پرې کاوه، ګرځیده به چې پیشو ته ډوډۍ پیدا کړي پیشو به پوړیده، او کله به داسې ښکاریده چې ټوخېږي.

د ژمي هوا وه ورځ په ورځ سړیده، سپین ږیري پیشو بده ایسیده ویل به یې چې یو وار ښه شم له پیشو سره به جوړ شم، وژنم یې، ده ځکه بده ایسیده چې د هغې میو میو به یې په دې ناجوړۍ کې په مغزو بد لګیده نو په غوړمبیدلي ژغ به یې ویل:

- له دې د چا خوا ګرځي، نور حیوانات په خپله ګرځي ځانته خواړه پیدا کوي او دغه به موږ دنګوو او په غېږ کې به یې اخلو. څه بلا ده؟! په ژوند کې مې تر دې لټ، بې کاره مخلوق نه دی لیدلی، د ګرځیدو نه ده په خوله کې چې ډوډۍ ورمنډې نوره دې هم له کاره ایستلې، له ځکه په پښو نشي درېدی.

لیکن نجلۍ به په مینې له اوږې سره ونیوله. ددې په فکر دغه حیوان د نورو حیواناتو په څیر عادي حیوان نه وو دا کمزورې وه نو ګناه یې څه وه دغسې پیدا شوې وه، دا څه ملامته وه.

د دوی هغه خواخوږې ګاونډۍ چې د مرستې او جارو لپاره راغله او پیشو یې ولیده وې ویل:

- له رنګه یې د چا بد راځي. د خپرو ناروغي یې شاید ټول ځان ونیسي. لکه سل چې وي.

نجلۍ ورته وويل:

- سل ! ژوندي ساري دي که نه دي؟

سهار چې سپين ږيری له ځايه پاڅيد ټوخېده، خوړپيده، راولاړ شو چې ريږه اجاره کړي.

نجلۍ سره په هغو تنګو واټونو راسم شو چې د سرو کړيو خوړو بوی پکې خپور و، دی لا پيشو ته غوريده: پرېږده يې ٠٠ ځان ترې خلاصوه ٠٠ کورته يې نه پرېږدم چې در سره را يې وړې ٠٠ اوس دې لا خبر وم))

دهغې ژامې له يخه پوړېدې، تر شونډو لاندې يې له ځان سره وويل:

ـ نه ٠٠ هغه زما او تا غوندې ده –

دوی ورو ورو روان و، د سپين ږيري له وسه تيره وه چې ريږه سمه چټکه پرمخ بوځي نو وې ويل :

ـ ورو ورو روان يو ٠٠ که داسې روان و د ريږې د کرايې پيسې به هم بود نه کړو اخر د يوه واټ په سر کې ودريدل٠ سپين ږيري يو سګريټ د شونډو په اړخ کې ونيو – د موسيقي په آلې يې چې پيانو ته ورته وه نغمه ژغول پيل کړل خلك ژر ژر تيريدل، نه ورته تم کيدل ٠٠ لمر ته يو څه وغوړيدل، سپين ږيري بيا په کاوړ وويل : ـ درته وايم څه له دې بلا ځان خلاص که.))

نجلۍ پوه شوه چې جنجال فايده نه کوي ٠ په نه زړه يې پيشو په مځکه پريښوده، پخپله په بيړه د سرك هغه بل لور ته واوښته، د المونيم لوښی يې د خيرات لپاره جګ ونيو. شاته يې د پيشو خواته نه کتل٠

دواړو هغه بدله شروع کړه چې هر چا زده ده مګر هېچا خوښه نه ده، د نجلۍ زړه ډك ډك کيده، زړه يې و چې وژاړي، خو په همدې وخت کې يې خوړو ته زړه سوليده ارزو يې وکړه همدا اوس مې يوه ټوټه قند خولې ته کړی وای، نه يوه نه څو ټوټې، خوله مې سمه پرې ډکه کړې وای. او بيا مې ښه ژوولې وای ٠٠ څنګه خوندوره کړپا به يې وای٠٠ خرپ ٠٠ خرپ٠٠ خو بيا به مې هم زړه نه و موړ شوای ٠

دوی بيا روان شول، سپين ږيري ريږه په ټول زور په بيړه بل واټ ته کړه ٠ نجلۍ وريسې وه خو فکر يې په خوړو کې و چې دومره بوره به په

دنیا کې وي چې دا مړه کړي ۰۰ خواهش یې بې ګټې و ۰ شاته یې وکتل ۰

فوستو له شا ورپسې روان وه ۰۰ نجلۍ ولیدل چې په لوښي کې پیسې زیاتیږي ۰ د فوستو سترګې له نانا جوړې شوې لا ډوانو ته ورته وې ۰ له ځان سره یې ویل : «که د نیکه مې وریام نشي ، فوستو به راپسې روان وي ۰۰ راځي به » ۰

ور په یاد شول چې خلك وایې پیشو لار نه غلطوي زړه یې ټوپونه وهل خو ځان یې غلی ونیو، دا په دې پوهیده چې انسان باید یوازې په کار کې زیار وباسي ۰

دوی بیا ودریدل، د سپین ږیري پریړ غوږونه د مخ خواته کاږه و ۰ د موسیقي نغمې په مغزو بدې لګیدې، دې ګډوډ ژغ ته د چا ساه ډوبیده ۰ نجلۍ خپله ګوته په غاښ کړه ۰ فوستو یې له لینګې سره ځان وموښه، دې په مینه سترګې ورته ونیولې ۰۰ اه ها ، فوستو پوهیده او ورو ورو یې میومیو کاوه نجلۍ پیشو په پښه پورې وهله خو پیشو لرې نشوه ۰ دې بوټ ورته ویست پیشو د دې د بوټ له بند سره لوبې پیل کړې. دوی ترې لرې شول، بل واټ ته واوښتل ۰ د لمر وړانګې د سړك پر غاړه لګیدې دوی د ځنګ سړك ته ور وګرځیدل ۰ سپین ږیري د لاسو ورغویو ته ور پو کړل او نغمه یې پیل کړه ۰

د ده پام نه و چې د سړك په هغه بل سر کې یو بل سړی اوکردیون ژغوي، د اوکردیون وال چې ګډې وروځې یې وې پر مځکه ناست و ۰ په زوره یې سپین ږیري ته ورناري کړې : نغمه بس کړه زه تر تا مخته دلته وم ۰ خو د سپین ږیري غوږونه درانه و، ورستي والګي وردرانه کړي و، که یې نه غوښتل چې وایې وري ۰ د اوکردیون وال بیا پړې چیغه کړه ۰ هغه غښتلی لوړ دنګ سړی و ۰ نجلۍ تر سترګو لاندې ورته کتل ۰

سپین ږیری او د اوکردیون وال سره برګ شول ۰

سپین ږیري ورته وویل :

- سړك د ټولو دی ۰

د بوډا په لینګو کې د ناروغۍ له کبله سبکه نه وه ۰ لکه اوس چې یې هم تبه سمه نه وه پرې ۰ زړه یې نه منله چې څوك دې د کوڅه ډب سپي غوندې له سړکه وشړل شي ۰

خو دا خبره ښکاره وه چې د اوکردیون وال تر ده مخته راغلی و او اوکردیون یې ژغاوه، نو ملامت نه و ۰

سپین ږیری څه نشوای کولی بل سړك ته واوښت بې واکه یې له سترګو اوښکې وڅاخیدې نجلۍ له ځان سره وویل، دی سپین ږیری دی ۰۰ ډېر سپین ږیری، سړك د ټولو دی ۰۰ د چا شخصي نه دی ۰ د نجلۍ بیا بورې ته زړه وشو ۰۰ دومره ډېرې بورې ته چې خوله پرې داسې ډکه کړي چې ساه یې تر بت کړي ۰

سپین ږیري پوزه سوغ کړه، اوښکې یې پاکې کړې، دې ته یې وکتل:

ـ ولې ګوډه ګوډه کېږې؟

نجلۍ خپلو پښو ته پام شو، یو بوټ یې نه و ۰

بوډا وویل:

ـ هغه بل بوټ څه شو؟

دې اوږې وخوځولې ۰۰ پوه شوه چې سپین ږیری بوټ ځنې غواړي ۰ هغه کله کله د نشه ای یا کوچني غوندې سر تمبه وي، د بوټ څرخې یې راواخیست ۰

فوستو د سړك په ګولایې کې وه ، پر بوټ یې ځان موښه، ورو ورو یې میو میو کاوه ۰

سپین ږیری په قهر شو، پیشو یې په لته کلکه ووهله، نجلۍ غبرګ لاسونه سترګو ته ونیول ۰ دې غوښتل چې سترګې پټې کړي خو پټې یې نه کړې ۰ ویې لیدل چې څنګه فوستو پورته والوته بیا ښسته پر مځکه پرېوته ۰

په زړه کې یې وویل (( ولاړه مړه شوه )) ۰

بیا په بیړه روانه شوه ۰ نجلۍ له خپل نیکه سره د ریړې په ټیل وهلو کې مرسته وکړه ۰۰ ویې نه ژړل ۰

د سپین ږیري زړه په تنګ و، ډېر پریشانه و، یو دم ودرید په لوړ ږغ یې وویل زوړ شوم، رښتیا چې زوړ شوم بیا یې وویل :

ـ زه نوره حوصله نلرم چې نغمه وژغوم ۰۰ بس ده ۰

نجلۍ لاسونه پر غوږو کېښودل ۰

سپین ږیری ورو راولاړ شو نجلۍ ته یې وکتل :

ـ راځه ۰۰ راځه چې هلته ورشو ۰

یوې کوچنۍ شرابخانې ته چې ښیښه اې کړکۍ یې غوړې چړې بریښیدې اشاره وکړه، په وره یې یوه سره سپینه پرده راځړیدله ۰ د شرابخانې په منځ کې له شرابو پرته سملاسي خوراکونه هم خرڅیدل ۰

دشرابخانې څراغونو خونه رڼه کړې وه، دباندې لمر د وریځو شاته پټ شوی و، سرکونه تیاره ښکاریدل، دوی یوه کوچني میز ته کښناستل ، سپین ږیري یوه پیاله شراب وغوښتل ۰ شا و خوا ټول ناست کسان په یوه وخت سره ژغیدل ۰ سپین ږیري پنیر او ډوډۍ نجلۍ ته راوغوښتل هغې خوړل پیل کړل، داسې ژر ژر یې ډوډۍ خوړه چې بغوري یې سرهء واوښتل، اخر یې سر پورته کړ ۰ د خونې غولۍ په ګردو ګردو ډېرو پوښل شوی و چې ځای ځای ماتې وې ۰ په تندي یې یخه هوا لګیده، فوستو ور په زړه شوه! خوا یې بده شوه تندی یې تریو شو، په دې وخت کې د وره غنګا شوه هغه ځوان اوکردیون والا راننوت ۰

داسې بریښیده چې شرابخانې کې یې ټول پیژني خو ځوان چې په دوی سترګې ولګیدې ورغی، په مینه یې ورته وویل:

ـ بابا سلام!

سپین ږیري ځواب ورنه کړ ۰۰ یو غوړپ شراب یې تیر کړل ۰ځوان یوه چوکۍ راکش کړه د سپین ږیري څنګ ته کښناست، د تنباکو پاڼه یې راویسته سپین ږېري ته یې ونیوله، سپین ږیري رغوي سره ومو ښل، د تنباکو پاڼه یې واخیسته او دواړو په پټه خوله تاو کړه ۰ ځوان په ټیټ ږغ په مینه خبرې پیل کړې ۰۰ نجلۍ ورته ځکه وه، هغه وویل :

ـ ماشر او دعوه نه ده درته راوړي . خو هر انسان باید خپل حق تر لاسه کړي . اول زه په سرک کې وم . بل باید نه وای راغلی چې زه وای . . خو دا خبرې پرېږده . . سره ملګری یوو . . دغسې نه ده؟

سپین ږیري سر ورته وخوځاوه ورته وې ویل : زه ښه نه اورم غوږونه مې درانه دي، ډېرې ورځې وشوې چې زه یې د نغمې له ژغولو منع کړی یم. هغه وخت چې زما لور ژوندۍ وه، د دغې نجلۍ مور، داسې -

د اوکردیون وال لاس ورته ونیو لکه چې ورته ویل یې (( بس که . . زه په کیسې خبر یم . . )) .

بیا یې دوی ته نصیحت وکړ : تاسې ورو ورو مه ګرځئ . . که امکان لري لږ پښې در چټکې کړئ ورځنی امد به مو ډېر شي . بیا یې له جیبه قلم راویست د میز پر تخته یې چې له کاڼي جوړه وه د هغو سړکونو انځور وکیښ چې یوه بل ته یې لار درلوده .

له یو چا د شرابو پیالـه ولویده، ټوکر ټوکر شوه، نجلۍ په منډه ورغله ټوټې یې راټولې کړې په جیب کې یې تخته کړې، یوه ورته ویل (( پام چې لاس دي غوڅ نه کړي)) سپین ږیری له اوکردیون والا سره په خبرو سرو، دې ته یې پام نه و . نجلۍ چې ټوټې ورټولې کړې فوستو ور په زړه شوه، زړه یې په تنګ شو، له ځان سره یې وویل (( داسې به یې وګڼم چې فوستو مړه شوه، خوارکۍ دا خوارکۍ چې وګوري ځوک ورسره نشته څه به کوي)) ژړاه ته یې زړه وشو، یو بل سړی راننوت د هغه له راننوتو سره له وره سړه هوا راغله، نجلۍ په منډه د باندې ووته.

له یوه سرکه بل ته ولاړه . . اوه . . په هغه ګوټ کې وه . . لکه څنګه چې دې ګومان کاوه همهلته پیشو د دېوال بېخ ته غونجه ناسته وه مخامخ یې کتل . نجلۍ ور ټیټه شوه له ټټر سره یې ونیوله، روانه شوه نه پوهیده چې څه وکړي، زړه یې په تنګ و د دیوال بیخ ته رهي وه .

یو دم یې د ډوډۍ بوی تر سپږمو شو، هغه ټیټې کړکۍ ته ورنژدې شوه چې بوی ترې راته . منځ ته یې وکتل، لوی پخلنځی و، د کړکۍ له ماتې برخې یې دواړه سترګې ورته ونیولې، فوستو هم د دې په څیر کتل ټول شیان دخوړو له تاوه تت ښکاریدل اه . . پخلنځی څنګه ښه

تـود دی ! د ډوډۍ، وچـې ډوډۍ او ټولـو خـوړو چـې هـره ورځ يـې خلـك خـوري څه ښه بـوی وي، خـو د دوی دوارو نصيـب تـرې کـم و ٠٠ هغـه ژيـړ بخـن ګرم بخـار چـې لـه پخلنـځي راوت د دوی سـترګـې پـټـې کـړې ٠ د پخلنـځي غولـی مربـع ډولـه و داسـې ښکـاريـده لکـه د شـطرنج لويـې لويـې خانې، دوی کولای شـو چـې لـه دې ټيټـې کړکـۍ د کـارکونکيو پښـې، تـور بوټونـه او شنې جـامې ووينـې ٠ نجلـۍ بـې پامـه د پيشـو غـاړه ور ټينـګه کـړه ٠ پـه مـيز د فوسـتو لپـاره ښه خونـده ور شـيان داسـې پراتـه و چـې ورسيدی شوی ٠ دا ور ټيټه شوه د فوستو پـه غـوږ کـې يـې وويـل :

ـ شابسـې ٠٠ ورشـه ٠٠ هـر وخـت خـو بـه زه مرسـته درسـره نـه کـوم، بـايد پـه خپلـه پوه شې چې څنګه لـه ځان سره مرسـته کولـی شـې ٠

فوسـتو ورو ميـو وکـړ، نجلـۍ هـڅه وکـړه چـې غلـې يـې کـړي، پـه قـهر يـې د کړکـۍ لـه سوري سره ونيولـه پوزه يـې ورټينـګه کـړه وې ويـل :

ـ اوس بـه دي وګـورم ٠٠ هـر وخـت خـو بـه زه نـه يـم درسـره! ورننـوزه پـه خپلـه خوښه خـوراك وکـړه ٠

فوسـتو راشـاته شـوه مـلا يـې کـړه کـړه، پـوزه يـې پـه منګولـو وګرولـه نجلـۍ ورتـه وويـل:

ـ ګوره ٠٠ ګوره ٠٠ هغـه پيشـو تـه، ولـې د هغـې غونـدې نـه کـوې ٠ ټول پيشـوګان دغسـې دي ٠

***

پـه پخلنـځي کـې يـوه تـوره غـټه پيشـو د چوکـۍ لانـدې پرتـه وه، ډېره اسـرا تمنـه او امـانت داره ښکـاريده، چـا لـه پخلنـځي نـه شـړله ٠ نجلـۍ بيـا فوسـتو د پخلنـځي خواتـه ور ټيلـه کـړه وې ويـل :

ـ هله ورځه لـه هغې بلې پيشـو يـې زده کـړه ٠

د پـورې وهلـو پـه وخـت نجلـۍ سـترګـې پـټـې کـړې، بيرتـه يـې رڼې کـړې چـې څه وشـو ٠

فوسـتو يـې وليـده، څوسيده ، پـه کونج کـې ايـښي لـوښي تـه ورغلـه، لـه لـوښي سـره د تـورې پيشـو پسـمانده خـواړه پراتـه و ٠ د نجلـۍ زړه لـه خوشـالـۍ ټوپونـه وهـل پـه دې وخـت کـې تـوره پيشـو راپورتـه شـوه، پـه قـهر

يې خر خر وکړ، بيا يې په فوستو ور ټوپ کړل. اوه . . څه بدنيته مخلوقات دي. په لوښي کې خواږه د توري پيشو تر خولې تير و. خو هغې نه غوښتل چې بل څوك دي پرې موړ شي. نجلۍ ورته کتل چې فوستو يوې خوا بلې خواته منډې وهې وېرېدلې ده، د خلاصون لار لټوي. خو نجلۍ پوه شوه چې لويه پيشو نور په کوچنۍ پيشو پسې سر نه ګرځوي، هسې يوه پټکه يې کوله د نيکنه او هغه د اکورديون وال غونډې ده.

اخر فوستو د وره له ړته ووته،نجلۍ منډه کړه چې وره ته ځان ورسوي، له وره سره يې فوستو وليده داسې ايسيده چې ته وا ژاړي. لمر د وريځو له شاه راښکار شو د هغه رڼا ته د فوستو پښې په ډوډۍ ککړې بريښيدې.

دوى د يوه خالي صندوق څنګ ته ودريدل، بيا نجلۍ د ديوال بيخ ته کښناسته له خاورو سره يې لوبې پيل کړې. فوستو زړه نا زړه ورنژدې شوه لکه چې پوه شوې وه له ميو سره يې نجلۍ خپل ټتر ته نه ورخيژوي، د نجلۍ شا و خوا راوګرځيده، د لمر کمزورېو وړانګو ته يې سترګې نيم کښنو کړې.

يو څه وخت همداسې غلي سره پاتې شول، بيا د پخلنځي له وره توره امانتداره پيشو راووته هغې غوښتل چې د ژمي لمر ته لږ وغوړيږي. له دوى لږ ورخيرمه کښناسته لکۍ يې له ځانه راوګرځوله، بريتونه يې ښخ دريدلې و د يوه خوشال په نس موړ ژوند ساري په څير ښکاريده. نجلۍ له ځان سره وويل (( هېڅ شى يې کم نه دى يو سګريټ چې يې په شونډو کې واى لکه دوق باکو چې يې څکوي))

د دې حالت دوق باکو ور په زړه کاوه هغه د دکان خاوند چې له ډوډۍ وروسته له کوره راوځي، نژدې رستورانت ته ورځي قهوه څښي او سترګې يې ځليږي.

تورې پيشو يو دم فوستو ته وکتل . ددې کتل نجلۍ ته د دوق باکو کتل ور په زړه کړل چې کله به يې دې ته کومه ټوټه قند ورکاوه همداسې مانادازه به يې ورته کتل . تورې پيشو غبرګې سترګې

فوستو ته نیولې وې ۰۰ تر ډېرو یې ورته کتل ۰ ناڅاپه د اوکرډیون والا ژغ د نجلۍ تر غوږو شو چې ددې نیکه ته یې ویل:

((بابا سلام ۰۰ ما شرودعوه نه ده درته راوړې. اول زه په سرك کې وم ۰۰)) نږدې و چې له غوصې وژاړي له ځان سره یې ویل ((د پخلنځي موږکان به نیسي، ځکه داسې ډوډۍ ورکوي او معتبره ده))

وې پتیله چې بیا فوستو ته چانس ورکړي ۰ هغه نږدې کوچنۍ زړه کلیسا ور په زړه شوه چې کشیشانو به یې کله نا کله دې ته د مقدسینو عکسونه ورکول، ور په یاد شو چې د کلیسا په کتابتون کې ډیر موږکان دي، لوی لوی موږکان کاغذونه ماغذونه خوري ۰

دې ژر فوستو له تېر سره ونیوله، د کلیسا خواته په منډه ولاړه، کله چې کلیسا ته ورسیده په ځان پوه شوه چې څومره لار یې وهلې ده ۰ داسې احساس یې کاوه لکه ستن چې ورچوخیږي، خبرو ته یې له وسه نه کیده، د کلیسا په منځ کې تیاره وه ۰

کتابتون ته ورننوته ۰۰ کشیش هلته ناست و دې ته یې شا وه، دې په الماری کې ګوتې ووهلې لکه په څه پسې چې ګرځي، کشیش ته ورنږدې شوه، د هغه سترګې پرې ولګیدې ورته وې ویل:

- وا نجلۍ څه شی غواړې؟

دې هڅه وکړه چې په خپله خبره یې پوه کړي، خو د هغه سر پرې خلاص نه شو، ګومان یې وکړ چې نجلۍ فوستو پرې خرڅوي نو ورته وې ویل:

- نه نه ۰۰ زه دوه ښایسته پیشوګانې لرم ۰۰ ستا تر پیشو ډېرې ښایسته.

- زه غواړم چې پیشو تاته درکړم چې موږکان درته ونیسي ته ورته ډوډۍ ورکوه ۰کشیش لږ غلی شو، وېې خندل ۰۰ دی ډنګر وچ کلك، په بارخو یې د توت په اندازه یو تور داغ و۰ بیا یې ورته وویل:

- ډېر ښه ۰۰ دلته یې پرېږده ۰

لاس یې نجلۍ ته ورمخته کړ چې ښکل یې کړي ۰ نجلۍ فوستو پر غولي پرېښوده، ور یې ژر بند کړ چې پسې ونه وځي ۰ په بیړه یې ځان واټ ته ورساوه، هلته هم تیکه نه ورتله لکه لېوان چې ورپیسې وي ۰

زړه یې نه کیده چې نیکه ته ورشي ځکه هغه به خامخا خشکه ورته کوي · نو ویې پتیله چې ښه تیاره شي بیا به کورته ځي او ویده کیږي به، اوس یې له وسه نه کیده لکه یو درونډ پیتی چې یې په سر وي، خیټه یې هم خالي احسا سوله ؛ د ډیران صندوق ته ورغله او د دیوال ځنګ ته یې په کمیس کې ځان وپیچه، لاسونه یې پټ کړل او خوب یووړه.

کله چې راویښه شوه تیاره وه د لمر سترګه ښخې پته وه، ساړه یې ډیر شوي و، لاسونه یې په تټر پورې کلک ونیول، مځکه یې په پښو ووهله ·· فوستو یې په زړه وریده ·

له ځان سره یې وویل (( فوستو اوس د نورو پیشوګانو غوندې ده ))

بیا یې په زړه کې له هغې پوښتنې پیل کړې دې پوښتنو یې بیا زړه په تنګ کړ ·

یو واري یې زړه وشو چې کلیسا ته ولاړه شي پښې یې نه پرې ورتلې خو د زړه په زور بې ارادې ور روانه شوه · کله چې د کشیش ځای ته ورغله هلته یې بل کشیش ولید ·· تیټ، بدرنګه سړی و، یو قندیل یې صافي کاوه دې ته یې وویل :

ـ څه شی غواړې ؟

دې ورته وویل :

ـ ما یوه سره پیشو د موږکانو د نیولو لپاره راوړې وه، کیدی شي چې ویې ګورم ؟

ـ اه ·· را په یاد شو، دغه ستا پیشو ده؟ پوهیږې چې چیرې مې ولیده، له موږك سره یې لوبې کولې ·· موږك یې په ځټ ناست و ·

فوستو د یوې چوکۍ لاندې دې ته مړې سترګې نیولې وې او نجلۍ رډې رډې ورته کتل، کشیش ورته وویل ··

ـ که له دې پیشو سره ښه کوې سمندر ته یې واچوه · د هیڅ شي نه ده· بدرنګې ده مړه یې کړه ·· له عذابه یې خلاصه کړه ډیره ناروغه ده.

نجلۍ دواړه موټي سر ته ونیول ·

بیا یې وویل :

ـ نـه ۰۰

ـ ډېر ښه ! څه کـوې ؟ کـه یـې نـه درسـره وړې، زه یـې وژنـم نجلـۍ ځای پر ځای ودریده، تندی یې تریو شـو، شونډې یـې پـه غـابښ کـړې۰ شـونډې یې سره ونښتلې، فوسـتو تـه یـې ځیـر ځیـر کتـل، پښـه پـر ځای راوګرځیـده سر وربـانـدې وڅرخیـد او لـه کلیسـا ووتـه ۰

پـه سـړک کـې د پیـاده رو پـه سـر کښناسـته، فوسـتو یـې څنـګ تـه وغزیده. د ویښتـانو سره فیتـه یـې خلاصـه کـړه د فوسـتو غـاړې تـه یـې واچوله، هغې تـه یې وکتـل:

ـ نه ۰۰ تـه ښکلې نه یې لـه چا سره دې شپه نـه تیریـږي۰

د فوسـتو پوړیـدل یـو دم ودریـدل ، سـترګې یـې عجیبـه وبریښیـدې، دا وار د سـتوري پـه څیـر نـه بریښیـدې، کوکـۍ هـم پـه رښتیـا د سـتوریو پـه څیـر نـه وي۰ سـتوري پـه اسمان کـې بریـښي۰۰ لـرې ۰۰ بېخـې لـرې او د دې اوس دا خیـال و کـه څوك سـتوریو تـه لـه نـژدې وګوري بـل وړ بـه وي داسې بـه نـه وي لکـه لـه لرې چـې ورتـه ګورو ۰

نجلۍ فوسـتو لـه شـاتنیو پښو ونیولـه او د هغـې سـر یـې پـه پیـاده رو وواهـه ۰۰ د وروسـتي ځل لپـاره دفوسـتو کریغـې شـوې دا ځل یـې د سـړې غونډې کریغـه وکـړه ۰

فوسـتو یـې پـه وینـو کـې پـرېښوده، وینـې یـې لـه مـات شـوي سـره بـهیدې۰

فوسـتو د تـل لپـاره سـترګې پټـې کـړې ۰

* * *

نجلۍ چې کورتـه ولاړه نیکـه یـې ټولـې کـړې پیسـې ګڼلې چـې دا یـې د وره پـه خولـه کـې ولاړه ولیـده، ورتـه وې ویـل :

ـ رانـوزه فـراري ۰

وخورپیـده ۰۰

نجلـۍ کـوټې تـه ورننوتـه سـپین ږیري تـه یـې پـه خواسـت سـترګې وروا ړولې، بیا یـې وپوښت:

ـ بابا نن دې دغومره پیسې پیدا کـړي چـې چاره دې پـرې وشـي ؟

ـ نه، نه ۰۰ د ریړي نیمه کرایه مې پیدا نه کړه ۰۰ پوه شوې ـ

نجلۍ کالي او بوټونه وایستل ۰ فیته یې له سره خلاصه کړه، ویښتان یې په تندي او سترګو پرېوتل ، په پوزې وغزیده کمپله یې په سر کش کړه ۰ د شرابخانې رڼا کوټې ته رالویدلې وه ۰ په شرابخانې کې ځینو سندرې بللې او نارې یې وهلې ۰ له سړکه د لارویانو د پښو ږغ راته ۰ نجلۍ بام ته وخته ۰ پام یې شو چې دا او نیکه یې هم رڼا ته ضرورت لري ۰ ناڅاپه یې وویل:

ـ بابا ۰ فوستو مې مړه کړه ۰ هغه هېڅ په کار نه وه ۰

سپین ږیري سر راپورته کړ خوله یې وازه پاتې شوه، بل وړ وام واخیست ۰۰ عجیب وام و لکه باد چې پر شمو لګېږي، یا لکه ږغونه چې ږغ نه کوي ۰ داسې احساس یې وکړ لکه هډوکي یې چې ور چوخیږي، رنګ یې د مړه غوندې شو ۰ نجلۍ بیا په لوړ ږغ وویل:

ـ بابا ۰۰ زه په هر شي شرط ته تیاره یم او وایم چې ته به ژر مړ شې ۰

نجلۍ ارمېږې وکړ او مخ یې د دیوال خواته واړاوه، خوب یوړه ۰ یو لاس یې له کمپلې د باندې له خولو بریښیده لکه د دیوال یوه ټوټه ښیښه چې بریښي ۰

په سپین ږیري اوښکې را ماتې شوې ۰ هغه پیسې یې چې مخته شمېرلې په موټ کې ټینګې کړې ۰ په دیوال راځړیدلې صلیب ته یې سترګې ونیولې، فوستو ته یې خوا بده شوه مخ یې په اوښکو لوند شو نجلۍ ویده وه د شرابخانې والو ځښل او شور یې کاوه، ډېر خلک په سړک تلل راتلل د هېچا نه ورته پام و نه یې فریاد اوریده ۰۰

❀❀❀

ښکاره ده چې لوستونکي ته به د دغو پنځو کیسو له لوستلو وروسته دا جوته شوې وي چې دا کیسې یو شمېر ګډ ارخونه لري، او هره یوه یې بیا خپلې ښیګړې او خواص.

لومړی به د دغو کیسو ګډو ارخونو ته ځیر شو:

۱ـ پرته له دې چې د هرې کیسې د موضوع غښتلتیا او کمزورتیا ته پام وکړو، موږ ته دا څرګندیږي چې پنځه واړه لیکوال تکړه لیکوال دي.

۲ـ دغو ټولو لیکوالو خپلې کیسې په هنري شکل پیل کړي دي داسې چې د هرې کیسې پیل لوستونکی ورکاږي او هڅوي یې چې کیسه نوره پسې ولولي.

۳ـ د پاراګرفونو تسلسل واضح او ښکلی راغلی داسې چې هر پاراګراف راتلونکي پاراګرف سره تړل شوی او له یوه بل سره مرسته کوي. د پاراګرافونو له دې تسلسل سره سره هر یو نه له حده اوږد راغلی چې د لوستونکي زړه ورته تنګ شي او نه دومره لنډ چې عام سیاق ګډوډ کړي.

۴ـ د پنځه واړو کیسو کرکترونه ژوندي او روښانه انځور شوي دي.

۵ـ منطقي دلایل په دغو ټولو کیسو کې ښکاره او واضح دي. هېڅ داسې څه په دې کیسو کې نشته چې لوستونکی ګوته ورته ونیسي او ووایي ((دا شی خو عقل نه مني)) او یا ((داسې خو په ژوند کې نه کیږي)).

۶ـ د دې کیسو موضوعات ښکاره دي. کرکترونه د لوستونکي په نظر اشنا دي، سره له دې چې د ((څلورهالندیان)) د کیسې کرکترونه په یوې بیړۍ کې سره روان او رنګونه یې سره ورته دي خو بیا هم د ټولو کیسو کرکترونه لوستونکي ته غیر عادي نه ښکاري.

۷ـ هر څو که ووایو چې دلته هنر د هنر لپاره راغلی دی خو بیا هم دا کیسې د یوه هدف لپاره لیکل شوي دي، البته دریو لومړیو لیکوالو

د خاصي موخې لپاره ليکل نه دي کړي خو له دې سره سره د دې کيسو له اهدافو څخه تهذيب، نصيحت او د لوستونکي ذهن ته د يوې عاطفي نقلول يادولی شو.

۸ـ که څه هم دا کيسې ژباړل شوي دي، خو ما ډېره هڅه وکړه چې اصلي نثر ته يې په ورته نثر وژباړم يعنی په اسان روان او واضح نثر چې له بلاغي او بديعي محاسنو لرې وي، اخباري اسلوبو سره ورته والی ونه لري، او له کلماتو سره لوبې په کې نه وي.

۹ـ مکالمه په دغو ګردو کيسو کې د اصولو او قواعدو مطابق ده يعنی د متن د يکنواختي مخنوی يې کړی، کيسه يې پرمخ بيولې، او د کرکتر په انځوريدا کې يې مرسته کړې ده . د پيرل بک په کيسه کې د بشپړو فقرو له شتونه داسې ښکاري چې پيرل بک تر لنډې کيسې اوږدې کيسې ښې ليکي. او ((د انسان تقدير)) کيسه په اندروني مکالمه ولاړه ده.

۱۰ـ د ټولو کيسو پايلې ښې راغلې دي . هر ليکوال چې کيسه پای ته رسولې ده له ليکلو يې لاس اخيستی دی، غير له يو څو کړښو چې سومرست موم د کيسې پر پای ورزياتې کړې دي .

۱۱ـ د لنډې کيسې مهم توکی ( تلوسه) په دغو غونډو کيسو کې څرګنده او جوته ده.

د هرې کيسې بېلې ځانګړتياوې:

۱ـ موپاسان:

موپاسان سره له دې چې په نړۍ کې د لنډې ترکيبي کيسې مسلم استاد دی، پدې کيسه ( ډارن مين) کې يې د حکايت اسلوب خپل کړي دي خو بيا هم توانيدلی کيسه په داسې ډول وليکي چې لوستونکی وروکاږي، او د کيسې مهم شی همدا دی .

۲ـ سومرست موم:

موم د ( څلورهالنډيان) کيسه په (پريکړي) اسلوب وړاندې کړې ده، داسې چې کيسه يې په يوې سريزې پيل کړې، بيا د خپل سفر کيسې کوي، بيرته پيل ته راځي او کيسه پای ته رسوي.

دی د موپاسان غوندې دا توان لري چې له یوې ورځې اوریدلې، لوستلې یا لیدلې پېښې کیسه جوړه کړي. زماني او مکاني وحدت د سومرست موم او موپاسان په کیسو کې د زمان له اوږدوالي او د مکاني بعد له شتون سره سره خوندي شوی دی.

۳_ پیرل بک

د پیرل بک کیسه ((ناڅاپه)) هغه ستره زیرمه ده چې دې خوندي کړې ده. خو دا نشو ویلای چې دا زیرمه د دې د ذهن پیداوار ده که یې له هغو یادښتو رااخیستې ده چې له ځان سره یې لیکلي دي. ښکاره خبره دا ده چې پیرل بک ډېر وخت په چین کې تیر کړی دی او دا په دې توانیدلې چې په خپلو ادبي لیکنو کې له دغه اوسیدو څنګه ګټه واخلي. ((ناڅاپه)) هم د همدغه اوسیدو یو تصویر دی، دې یوه ناڅاپي پایله دغې کیسې ته غوره کړې ده، خو دغه پایله کمزورې ده ځکه چې لوستونکی د کیسې د لوستو په وخت وار له مخه پوهېږي چې پایله به داسې وي.

۴_ د انسان تقدیر:

په دې کیسه کې لیکوال هڅه کړې چې خپلې غوښتنې په ساده شکل وړاندې کړي، دغه ساده اسلوب د هغه لري شمالي سرې سیمې له ساده ژوند سره یو ډول سمون لري. لیکوال غواړي د کیسې په متن کې په نوبت حال او تیر زمان راواخلي، دی غواړي چې په دې ډول د متن د یکنواختۍ مخه ونیسي او تلوسه غښتلې کړي. دا اسلوب پخواني او په کیسه ایز ادب کې ډېر دود دی.

د دې کیسې امتیاز په ساده والي، رښتونوالي او هغو معلوماتو کې دی چې خپلو لوستونکیو ته یې وړاندې کوي خصوصا هغوی ته چې له دغې لرې سرې سیمې لرې اوسي.

زه د هغو کره کتونکیو په څیر نه یم چې داسې څه په ادبي اثار ورزیاتوي چې د لیکوال پرې اروا شکه نه وي، خو داسې انګیرلی شو چې لیکوال به د دې کیسې له اتل څخه مراد هر هغه انسان وي چې بې هدفه ژوند کوي، په خپلو غوښتنو پسې ورک وي، ضروري کارو ته یې شا کړې وي، او په پای کې له ژوند سره په عجیب شکل زړه تړي.

ښايي ليکوال داسې فکر کړی وي او يا يې نه وي کړی، خو زه پريکنده حکم نشم کولی.

**۵ـ پيشو:**

بې له شکه چې دا ښکلې او اوچته کيسه ده. د دې کيسې ليکواله په دې ليکنه کې يوې سترې مانا ته اشاره کوي هغه دا چې په نړۍ کې په هر کمزوري بنيادم څوک رحم نه کوي، او نه يې بخښي او نه يې قدر کوي..

لکه ليکواله چې د کوچنۍ نجلۍ په ژبه وايي ((د هغې څه ګناه ده چې کمزورې پيدا شوې ده.. ايا په دې يې ملامته کړو چې ولې پيدا شوې يې)). ليکواله ډېره بريالۍ شوې ده چې فوستو ـ کمزورې پيشو ـ له سپين ږيري نيکه سره، او غټه پيشو هغه چې د پخلنځي موږکان ښکاروي له اوکرديون ژغونکي قوي ځوان سره پرتله کړي.

دا پرتله په دې لاغښتلې شوې ده چې يو کمزوری حيوان هغه چې چاته څه نه وايي د خلکو مرستې ته يې سترګې نيولې دي او شپې سبا کوي، له داسې انسان سره مقايسه شوی دی چې د هغه په څير کمزوری دی او هڅه کوي چې د يوې بدرنګې موسيقۍ (چې د پيشو د رنګ په څير ده) په واسطه د خلکو پاملرنه د ځان لورته جذب کړي.

او په پای کې سپين ږيری له داسې برخليک سره مخ کېږي چې په ټولو انسانانو او حيواناتو صدق کوي، داسې چې ژوندی ساری ـ که انسان دی که حيوان ـ کمزوری پيدا شوی او د شرايطو په وجه نور هم کمزوری کېږي، په هغه عالم کې چې نه رحم شته، نه ښښنه، نه پاملرنه..

((د شرابخانې وال څښني او مستې کوي ډېر خلک په سړک تيرېږي راتيريږي.. خو يو هم نه د ده فرياد اوري نه پاملرنه ورته کوي))

# فن كتابة القصة القصيرة

تاليف

حسين القباني

ترجمتة الى البشتو

اجمل پسرلی

Download from:aghalibrary.com

چاپخی : دانش کتابتون قصه خواني پېښور - ۲۵۶۴۵۱۳